جنت

ته د تلو لاري

کتابتون
باور



لیکوال: عبدالهادي بن حسن
ژباړن: محمد ظاهر عمار

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

بسم الله الرحمن الرحیم



د کتاب ځانګړنې:

عربي نوم: الخصال الموجبة لدخول الجنة

پښتو نوم: جنت ته د تلو لارې

لیکوال: عبد الهادي بن حسن

ژباړن: محمد ظاهر عمار

خپرندوی: حکمت خپرندویه ټولنه_جلال آباد

کمپوز: جمال الدين "صالح"

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

لومړی چاپ: ۱۳۹۱ هجري لمريز

دويم چاپ: ۱۳۹۲ هجري لمريز

درېيم چاپ: ۱۳۹۶ هجري لمريز

د ترلاسه کولو ځای:

حکمت کتاب پلورنځی، لاندينی پوړ، اسحاق زی مارکېټ، جلال آباد.

اړیکشمېرې: ۰۷۷۴۴۹۵۸۶۵ / ۰۷۸۹۸۱۲۶۸۸

Himatbook۲۰۱۰@yahoo.com

ناور کتابتون

Scanned by CamScanner

Scanned with CamScanner

Scanned with CamScanner

لیکلړ

کتابتون

Scanned by CamScanner

Scanned with CamScanner

Scanned with CamScanner

کتابتون
Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

خپلې خبرې

اَلْحَمْدُ لله رب العلمين، حمدا كما ينبغي لجلال وجهه وعظيم سلطانه و الصلاه والسلام على عبده ورسوله وحبيبه، نبينا محمد و على آله وصحبه وسلم.

حقيقت دا دی چې پر دې خاورينه ځمکه د انسان د پيدايښت تر ټولو لوی هدف د الله جَلَّجَلَالُهُ عبادت کول دي، الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايي:

(وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ) (الذاريات: ۵۶)

يعنې: ما پېريان او انسانان يواځې د دې لپاره پيدا کړي دي چې زما عبادت وکړي.

نو انسان ته ښايي چې پر دغه حقيقت ځان پوه کړي او د رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په طريقه د الله جَلَّجَلَالُهُ عبادت وکړي او په همدې سره د الله جَلَّجَلَالُهُ تر ټولو غوره نعمت يعنې جنت هم ترلاسه کېږي.

له همدې امله ما هم جنت ته د خپلو هېوادوالو د هڅولو په خاطر دا کتاب وژباړه ترڅو جنت ته د تلو تر ټولو لنډې او اسانه لارې وپېژني، پرې روان شي او عمل پرې وکړي، ان شاء الله.

له الله جَلَّجَلَالُهُ نه سوال کوم چې دا نيمګړې هڅه مې قبوله او اخرت مې پرې ښايسته کړي.

په پای کې له درنو لوستونکو هيله کوم چې په خپلو دعاګانو کې مې ياد کړي او که د کتاب د لوستلو پرمهال کومه نيمګړتيا په نظر ورغله؛ نو ما دې ترې خبر کړي.

محمد ظاهر عمار

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

باور کتابتون

د ليکوال خبرې

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، أَمَّا بَعْد!

الله تعالى فرمايي:

(يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ۝) (آل عمران:۱۰۲)

ژباړه: اى مؤمنانو! له الله تعالى نه داسې وويرېږئ لکه څنګه چې له هغه نه دويرېدو حق دى او تاسې ته دې مرګ رانشي، مګر په داسې حال کې چې تاسې مسلمانان اوسئ.

(يَاأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً ۚ وَاتَّقُوا اللهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ ۚ إِنَّ اللهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا۝) (النساء:۱)

ژباړه: اى خلکو! له خپل هغه رب نه وويرېږئ چې تاسې يې له يوه تن څخه پيدا کړئ او له هماغه څخه يې د هغه جوړه پيداکړه او له دې دواړو نه يې په نړۍ کې ډېر نارينه او ښځې خواره کړل، له هغه الله تعالى نه وويرېږئ چې د هغه په وسيله تاسې يو له بل نه خپل حقوق غواړئ او د خپلولۍ او پيوندونو له غوڅولو نه ډډه وکړئ، باور ولرئ چې الله تعالى پر تاسې څارونکى دى.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

(يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَ قُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًاۙ يُّصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ وَ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ؕ وَ مَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا۝)

(الاحزاب:۷۰-۷۱)

ژباړه: ای مؤمنانو! له الله تعالی نه ووېرېږئ او سمه خبره کوئ، الله تعالی به ستاسې عملونه در سم کړي او ستاسې له گناهونه ښخه به در تېر شي او هر څوک چې د الله تعالی او د هغه د رسول اطاعت وکړي؛ نو هغه لوی بریالیتوب ترلاسه کړ.

له ثناء او ستاینې وروسته؛ حقیقت دا دی چې تر ټولو غوره کلام د الله تعالی کلام دی او تر ټولو غوره تګلاره د محمد ﷺ تګلاره ده او تر ټولو بده خبره (په دین کې) د نویو شیانو رامنځته کول دي او (په دین کې) هر نوی شی بدعت دی او هر بدعت گمراهي ده او هره گمراهي دوزخ ته رسوونکې ده.

درنو لوستونکو! په دې کتاب کې مې د یادونې، هڅونې او مسؤلیت اداء کولو په خاطر جنت ته د رسېدو هغه لارې چارې او اعمال په گوته کړي دي چې که څوک پرې غور وکړي او په پاک زړه پرې عمل وکړي؛ نو گټې به یې ورته له ورایه څرگندې شي، انشاء الله تعالی.

یوازې الله تعالی د دې وړ دی چې کومک ترې وغوښتل شي او ښېگڼه او توفیق هم د همغه په لاس کې دي؛ نو همدغه حي او قیوم ذات ته دعاء کوم چې دا کتاب راته په ژوند کې گټور ثابت کړي او د قیامت پر ورځ مې پرې د نېکیو تله را درنه او د دغه کتاب لیکل را ښخه قبول کړي او د دې په وجه زما گناهونه وبښي او درجې راته پرې لوړې کړي، په همدې ډول دعاء کوم چې دغه کتاب د ټولو مسلمانانو لپاره گټور وگرځوي.

(انه سمیع مجیب).

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

۱ ... علم ترلاسه کول

له ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

((وَمَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْمًا، سَهَّلَ اللهُ لَهُ بِهِ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ...))

ژباړه: او څوک چې پر داسې یوه لاره روان وي چې علم پرې ترلاسه کوي، الله تعالی به ورته د دې کار له امله د جنت لاره آسانه کړي.

(مسلم:۲٦۹۹)

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې حدیث کې د دې خبرې یادونه کړې چې د علم ترلاسه کول داسې یوه لاره ده چې د هغې له امله انسان لوړو درجو ته پورته کېږي او د پرهیزگارانو مقام ترلاسه کوي.

دا له دې امله چې علم الله تعالی ته د رسېدو تر ټولو لنډه لاره ده، څکه نو هر څوک چې د علم پر لاره روان وي او انحراف ورڅخه ونه کړي، ژر تر ژره او په لنډه لاره الله تعالی او جنت ته رسېږي او په دنیا او آخرت کې ټولې هغه لارې ورته آسانېږي چې بنده پرې جنت ته ځي.

له دې نه معلومه شوه چې د الله جل جلاله د پېژندنې او د هغه د رضاء او نږدېوالي ترلاسه کولو یوازینۍ لاره هغه گټور علم دی چې الله تعالی خپلو پېغمبرانو ته ورکړی و، هغوی یې پرې استولي او ورسره یې خپل کتابونه هم نازل کړي وو؛ څکه نو همدا علم دی چې د ناپوهۍ او شکونو په تیارو کې د هدایت نور گرځي.

په دې حدیث کې چې د علم د لټون لپاره د کومې لارې یادونه شوې، په هغې کې حقیقي او معنوي دواړه لارې شاملې دي، حقیقي په دې معنا چې د علماوو غونډو ته ورتلل او له هغوی سره کېناستل او معنوي په دې معنا چې علم بیا بیا تکرارول، مطالعه کول او په یادو یادول.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

له انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:
کله چې د جنت پر باغونو تېرېږئ؛ نو میوې ترې را ټولوئ، صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ پوښتنه وکړه: ای د الله رسوله! د جنت له باغونو څخه څه شی مراد دی؟

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د الله تعالی د ذکر حلقې. (ترمذي: ۳۵۱۰)
د دې حدیث مطلب دا دی، کله چې د ذکر او علم پر حلقو تېرېږئ؛ نو هلته کېنئ، ترڅو اجر عظیم (لوی اجر) او جنت نعیم (له نعمتونو ډک جنت) ترلاسه کړئ. په پورته حدیث کې ذکر او د ذکر په حلقو کې کېناستلو ته هڅونه شوې، همدارنګه د ذکر د لفظ مطلق استعمال شوی دی او له ذکر څخه هر هغه ذکر مراد دی چې د الله تعالی د یادونې سبب کېږي، لکه د قرآن کریم تلاوت، د علم مجلس او تسبیح او تحلیل یعنې سبحان او ((لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ)) ویل.
عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمایي: له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه مې وپوښتل: ای د الله رسوله! د ذکر د مجالسو ګټه څه ده؟
رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: د ذکر د مجالسو ګټه جنت دی! (احمد: ٦٦٥١)
په دغه حدیث کې هم د علم ترلاسه کولو ته هڅونه شوې، هغه چې هر چاته ښکاره ده. له همدې امله هر انسان ته ښایي چې د علم لاس ته راوړلو لپاره ملا وتړي او له خپل وخت څخه ګټه پورته کړي، په ځانګړې توګه ځوانان باید مخکې له دې نه چې په نورو کارونو کې مشغول شي، د علم د لاس ته راوړلو کوښښ وکړي؛ څکه په ځوانۍ کې علم ژر او ښه زده کېږي.
دا خبره هم باید څرګنده وي چې علم ترلاسه کول تر ټولو مهم او لوی عبادت دی، څکه نو پاک نیت او اخلاص پکې ډېر ضروري دی.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
څوک چې داسې یو علم زده کوي چې د الله تعالی رضاء پرې حاصلېږي؛ خو نوموړی یې د دې لپاره زده کوي چې دنیا پرې لاس ته راوړي؛ نو د قیامت پر ورځ به د جنت بوی هم ور ونه رسېږي.
(ابوداؤد: ٣٦٦٤)

په دې حدیث کې سخت وعید (رټنه) راغلې او خان ورڅخه ساتل گران ښکاري؛ ځکه د علم ترلاسه کولو لپاره اخلاص پېدا کول سخت کار دی او له دې سختۍ سره مقابله کوونکي خلک هم کم دي او دا چې له بدۍ څخه په امن پاتې کېدل او نېکي کول یواځې د الله تعالی په توفیق سره کېږي.
له الله تعالی څخه د داسې گټور علم د ترلاسه کولو سوال کوو چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم وسلم څخه را پاتې دی او بنده پرې جنت ته رسېږي.
آمین یا رب العالمین.

۲... د الله تعالی نومونه (اسماء حسنی) یادول

له ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
((إِنَّ لِلَّهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا مِائَةً إِلَّا وَاحِدًا، مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الجَنَّةَ.))
بې له شکه چې الله تعالی یو کم سل یعنې نهه نوي (۹۹) نومونه لري، چا چې هغه یاد کړل، جنت ته به داخل شي. (بخاري:٢٧٣٦، مسلم: ٢٦٧٧)
دا یو ډېر جلیل القدره حدیث دی او جلال او عظمت یې د دې خبرې دلیل دی چې د نبوت له خزانې څخه صادر شوی دی.
دغه حدیث په حقیقت کې یوه لویه علمي خزانه ده، څوک چې پرې پوه شي او په زده کړه او ترلاسه کولو کې یې مشغول شي، ډېره گټه به لاس ته راوړي او څوک چې ترې محروم شو، هغه رېښتینی محروم دی.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

دا له دې امله چې د یوه علم د مقام او مرتبې ارزښت د هغې په هدف او گټې پورې اړه لري او په دې کې هېڅ شک نشته چې د دې علم (اسماء حسنی یادولو) هدف او گټه تر ټولو لویه ده.

د دې علم لنډه معنا دا ده چې له الله جل جلاله پرته بل هېڅ ریښتینی معبود نشته، هغه د ټولو مخلوقاتو پالونکی او د آسمانونو او ځمکې هست کوونکی دی او همدغه الله تعالی حق او مبین (ښکاره) ذات دی چې د ټولو کمالي صفاتو خاوند او له هر عیب او نقصان او تشبیه او تمثیل څخه پاک دی.

د الله تعالی د اسماء او صفاتو علم د مرتبې په اعتبار لوړ، د ذخیرې په اعتبار اشرف او د ذکر په اعتبار تر ټولو غوره علم دی، د هغې په پوهېدو کې ځان مشغولول او د هغې په اړه بحث او مذاکره کول؛ د لویو هدفونو د ترلاسه کولو وسیله ده او کوم بنده چې دغه هدفونه ترلاسه کړي؛ نو په ریښتیا چې د الله تعالی له لورې یې غوره ډالۍ ترلاسه کړې ده.

د الله تعالی ټول نومونه ښایسته دي او د غوره والي وروستي حد ته رسېدلي، د دې نومونو غوره والی له دې امله دی چې هغه د الله تعالی په پوره او لویو صفاتو دلالت کوي، هغه چې هېڅ عیب او نقصان پکې نشته او د غوره والي یو دلیل یې دا هم دی چې الله تعالی ته خوښ دي او هغه بنده هم الله تعالی ته خوښ دی چې دغه نومونه خوښوي او یادوي یې او الله تعالی دا هم خوښوي چې بندگان یې د دې نومونو په وسیله را وبولي او دعاء ترې وغواړي.

په پورته حدیث کې د (احصاء) ټکی راغلی چې د یادولو په معنا دی او څو معناوې لري:

لومړنۍ معنا یې دا ده چې د الله تعالی دغه نومونه وشمېرل شي، لکه په قرآن کریم چې راځي:

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

(وَأَحْصَىٰ كُلَّ شَيْءٍ عَدَدًا) (الجن:۲۸)

ژباړه: او هر يو شی يې په شمار شمېرلی ايښی دی.

دويمه معنا يې دا ده چې د هغې په معناګانو او مفهوم کې ژور فکر وشي.

درېيمه معنا يې دا ده چې د هغې په وسيله له الله جل جلاله څخه دعاء وغوښتل شي، لکه چې الله تعالى فرمايي:

(وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ فَادْعُوهُ بِهَا) (الاعراف:۱۸۰)

ژباړه: الله تعالى د غوره نومونو مستحق دی، هغه په همغه غوره نومونو سره را وبولئ.

د را بللو هم دوه معناوې دي:

۱_ په ستاينه او عبادت کې را بلل

۲_ په حاجت او غوښتنه کې را بلل

په حاجت او غوښتنه کې د را بللو مقصد دا دی چې د الله تعالى له اسماء او صفاتو څخه په يوه مناسب نوم له هغه څخه سوال وشي، لکه چې وويل شي: ای الله! ماته ښنه وکړه او توبه مې قبوله کړه، ځکه ښې له شکه چې ته ښوونکی او توبه قبلوونکی يې، ای الله! ماته له خپل لوري ښنه وکړه او پر ما رحم وکړه، ځکه ته ښوونکی او مهربان يې، ای الله! ښشکه چې ته ښنه کوې او ښنه خوښوي؛ نو ماته ښنه وکړه، ای الله! ماته شفاء رانصيب کړه، ځکه همدا ته شفاء ورکوونکی يې او داسې نور...

دا د را بللو هغه ډول دی چې د بندګانو زړونه د الله تعالى پر وړاندې د هڅېدنې، عاجزۍ او سر ټيټولو له جذباتو ډکوي، الله تعالى فرمايي:

(وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ) (المؤمن:۶۰)

ژباړه: او ستاسې رب وايي: ما را وبولئ، زه به ستاسې دعاګانې قبولې کړم.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

په دې آیت کې الله تعالی دعاء او را بللو ته عبادت ویلي او په یوه بل آیت کې یې ورته دین ویلي، الله تعالی فرمایي:

(فَادْعُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ) (المؤمن:١٤)

ژباړه: (نو ای رجوع کوونکو!) هماغه الله را وبولئ د هغه لپاره د خپل دین په خالص ګرځولو سره.

له نعمان ابن بشیر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: «الدُّعَاءُ هُوَ العِبَادَةُ».

ژباړه: دعاء عبادت دی او بیا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دغه آیت تلاوت کړ:

(وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ ۚ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ) (المؤمن:٦٠)

ژباړه: او ستاسې رب وایي: ((ما را وبولئ، زه به ستاسې دعاګانې قبولې کړم، کوم کسان چې په غرور کولو سره زما له عبادت نه مخ اړوي، هغوی به هرومرو ذلیل او خوار دوزخ ته ور ننوځي.))

د دې خبرې یو مثال د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دغه وینا هم ده چې فرمایي: ((الحَجُّ عَرَفَةُ)) یعنې حج په حقیقت کې پر عرفات غونډۍ درېدل دي.

حج داسې یو عبادت دی چې د خپل لوی شان له امله په ټولو عبادتونو کې جامع عبادت دی، په داسې حال کې چې بل عبادت دومره جامع نه دی، ځکه نو د حج ترسره کولو غوښتنه دا ده چې انسان پر الله تعالی توکل وکړي، د هغه پر لور متوجه شي، د هغه د نعمتونو هیله او له عذاب څخه وېره ولري او دغه کارونه د زړه په توجه سره وکړي او همدې ته د زړه عبادتونه وایي.

د حج یوه غوښتنه دا هم ده چې انسان په ژبه د الله تعالی تسبیح، تمجید او تحمید ووایي، د هغه پاکوالی بیان کړي او دعاء او زاری ورته وکړي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

په همدې توګه حج بدني غوښتنې هم لري او هغه دا چې انسان د الله تعالى پر وړاندې عاجزي وکړي، د نېکۍ کولو او له بدۍ څخه د بچ کېدلو ټول توفيق د هغه له لورې وبولي، ځکه انسان له هغه پرته بل مرسته کوونکی نه لري؛ نو له همدې امله دغه دعاء (حج) د عبادت د ټولو ډولونو درلودونکې دی.

د الله تعالى د را بللو عبادت دا غوښتنه کوي چې بنده د الله تعالى د نومونو له غوښتنو سره سم د هغه عبادت وکړي، دغه نومونه بايد د هغه پر ښکاره او پټې بندګۍ اغېز ولري، له همدې امله کله چې انسان پر دې پوه شي چې الله تعالى عليم (پوه)، بصير (لېدونکی) او سميع (اورېدونکی) دی او په دې هم پوه شي چې په ځمکه او آسمانونو کې هېڅ شی له هغه څخه پټ نه دی او هغه د زړونو پر پټو خبرو او د سترګو په خيانت هم پوهېږي؛ نو د دې پايله به دا شي چې انسان به خپله ژبه، د بدن نور غړي او زړه له ټولو هغو شيانو وساتي چې الله تعالى پرې خپه کېږي.

پورتنۍ خبره ډېر پراخه مفهوم لري، څوک يې چې حق پرځای کړي، لويه شتمني به ترلاسه کړي او په خلکو کې به تر ټولو ډېر شتمن وي.

له همدې امله هر مسلمان چې د خپل ځان خير غواړي، ورته پکار ده چې تر خپله وسه د الله تعالى د اسماء او صفاتو پوهه ترلاسه کړي او دغه خبره مهمه نېکي وګڼي او پر نورو شيانو ورته د لومړيتوب حق ورکړي ترڅو خير او ښېګڼه ترلاسه کړي.

څوک چې پر دغه خبره فکر او غور وکړي، ورته څرګنده به شي چې دغه علم څومره ضروري او ګټور دی؟

يادونه: پر دې خبره پوهېدل پکار دي چې د الله تعالى د نومونو څه خاص شمېر معلوم نه دی او په قرآن او حديثو کې چې څومره نومونه ياد شوي، له هغې پرته نور نومونه هم شته چې يوازې الله تعالى ته معلوم دي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه روايت کوي چې ویې فرمايل:

کله چې په يوه بنده غم او اندېښنه راشي او دا دعاء ووايي چې:

((اللَّهُمَّ إِنِّي عَبْدُكَ ابْنُ عَبْدِكَ ابْنُ أَمَتِكَ، نَاصِيَتِي بِيَدِكَ، مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ، عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ، أَسْأَلُكَ اَللهم بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ، سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ، أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ، أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ، أَوِ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ، أَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِيعَ قَلْبِي، وَنُورَ صَدْرِي، وَجَلَاءَ حُزْنِي، وَذَهَابَ هَمِّي.))

ژباړه: ای الله! زه ستا بنده يم، ستا د بنده زوی يم، ستا د وينځې زوی يم، زما تندی ستا په لاس کې دی، ستا حکم پر ما نافذ دی، زما په اړه ستا پرېکړه پر عدل ولاړه ده، ای الله! ستا په هر هغه نوم چې ته يې لرې، هغه چې تا پرې خان نومولی يا دې په خپل مخلوق کې يوه چاته ور ښودلی، يا دې په خپل کتاب کې نازل کړی او يا دې په خپل غيبي علم کې له خان سره ساتلی، په دې ټولو درڅخه سوال کوم چې قرآن کريم زما د زړه سپرلی، د سينې رڼا او د غمونو لمنځه وړونکی وګرځوه.

نو په دغې دعاء سره به يې الله تعالی غمونه ورڅخه لرې کړي او په بدل کې به يې پرې خوښي راولي. يوه تن وويل: ای د الله رسوله! آيا موږ دا دعاء زده نه کړو؟ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

ولې نه، هر اورېدونکی بايد دا دعاء زده کړي. (احمد: ٣٧١٢، حاکم ١/٥٠٩)

په دې حديث کې دا خبره چې وايي: "په هغه نوم چې تا په خپل غيبي علم کې له خان سره ساتلی" د دې خبرې دليل دی چې د الله تعالی نومونه له (٩٩) څخه ډېر دي او خينې نومونه او صفتونه داسې دي چې له خان سره

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

یې په علم غیب کې ساتلي او بل هېڅوک پرې نه پوهېږي.(شفاء العلیل:۷۵۸/۲)

پاتې شوه د رسول الله ﷺ دا خبره چې فرمايي:

((إِنَّ لِلَّهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا مِائَةً إِلَّا وَاحِدًا، مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ.))

یعنې: د الله تعالی یو کم سل نومونه دي، چا چې هغه یاد کړل، جنت ته داخلېږي؛ نو له دې خبرې ښخه دا نه معلومېږي چې د الله تعالی نومونه دې حتماً (۹۹) وي او بس، ځکه که چېرته د (۹۹) نومونو د انحصار خبره وای؛ نو د حدیث عبارت باید داسې وای:

«إِنَّ أَسْمَاءَ اللَّهِ تِسْعَةٌ وَتِسْعِينَ اسْمًا، مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ.»

یعنې: د الله تعالی نهه نوي (۹۹) نومونه دي، چا چې یاد کړل، جنت ته داخلېږي؛ نو په دې صورت کې به د حدیث مطلب دا وای چې د دې شمېر نومونو شان او عظمت دا دی چې د هغې یادونکی جنت ته ځي، له همدې امله د ((مَنْ أَحْصَاهَا)) جمله د ما قبل جملې لپاره مکمله (پوره کوونکې) جمله ده او مستقله نه ده او د دې مثال داسې دی لکه چې څوک ووایي: له ما سره سل (۱۰۰) روپۍ دي چې ما د صدقې لپاره بېلې کړي دي، اوس نو دا لازمه نه ده چې له هغه سره به له (۱۰۰) روپو پرته نورې روپۍ نه وي.

له رسول الله ﷺ ښخه هم په کوم صحیح حدیث کې د نومونو او صفاتو ټاکلی شمېر ثابت نه دی او هغه حدیث چې د نومونو شمېر پکې معلوم شوول شوی، ضعیف دی.

هوښیارانو ته همدومره خبره کافي ده، و الله اعلم.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

۳... په اخلاص سره د توحيد شاهدي ورکول

له معاذ بن جبل رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

((مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ خَالِصًا مِنْ قَلْبِهِ ، دَخَلَ الْجَنَّةَ)).

څوک چې د زړه له اخلاصه د دې خبرې شاهدي ووايي چې له الله تعالى پرته بل ريښتينی معبود نشته، جنت ته داخلېږي. (مسلم٥/٢٣٦)

د زړه له اخلاصه د توحيد گواهي ورکول په دې معنا دي چې هغه بايد له هر ډول دوکې او شهرت غوښتنې څخه پاک او د زړه په يقين سره وي او زړه يې له دې کبله ياد کړ چې هغه د ټولو کارونو د ارزښت معيار دی.

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

((أَلَا وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً، إِذَا صَلَحَتْ، صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، وَإِذَا فَسَدَتْ، فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ.))

ژباړه: خبر اوسئ! په بدن کې يوه ټوټه غوښه ده، که هغه روغه وه، ټول بدن به روغ وي او که روغه نه وه؛ نو ټول بدن به فاسد کړي، خبر اوسئ! هغه زړه دی. (بخاري٥٢، مسلم١٥٩٩)

هر څوک چې د زړه له اخلاصه د توحيد کليمه ووايي؛ ورته پکار ده چې د الله تعالى اوامر پرځای او له نواهيو (منع شويو شيانو) څخه يې ځان وژغوري او د خپل معبود د رضاء په لټه کې شي.

انسان بايد هغه کارونه ترسره کړي چې په هغې سره د الله تعالى د عبوديت او بندگۍ حق اداء کيږي، په همدې ډول اخلاص دوزخ ته د تللو اسباب لمنځه وړي؛ ځکه نو که يو څوک چې ((لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ)) وايي او بيا هم دوزخ ته ځي؛ نو د دې وجه به شايد دا وي چې دغه کليمه يې په اخلاص سره نه وي ويلې او يا دا چې د شرک په کوم ډول کې به اخته وي؛ ځکه شرک په

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

دغه امت کې د مېږي له تګ څخه هم ډېر پټ دی او ډېر خله د انسان په عملونو، نیتونو او د زړه او غړو په کارونو اغېزه کوي او هغه ترې خبرېږي هم نه چې ګواکې شرک یې کړی او دا داسې یوه خبره ده چې ټول مسلمانان پرې باید فکر وکړي.

ابو موسی اشعري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یوه ورځ په خطبه کې وفرمایل: ای خلکو! له پټ شرک څخه ځان وژغورئ، ځکه دا د مېږي له تګ څخه هم ډېر پټ دی.

یو چا پوښتنه وکړه چې ای د الله رسوله! دا چې پټ شرک د مېږي د پښو له تړپا څخه هم ډېر پټ دی؛ نو موږ ترې څنګه ځان بچ کړو؟ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل: دا دعاء وایه:

((اللَّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ نُشْرِكَ بِكَ شَيْئًا نَعْلَمُهُ وَنَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لَا نَعْلَمُ.))

(مسند احمد:٤/٤٠٣)

ژباړه: ای الله! موږ په تا سره له دې خبرې نه پناه غواړو چې له تا سره څه شی شریک کړو، هغه چې موږ پرې پوهېږو او د هغه شرک په اړه هم درنه بښنه غواړو چې موږ پرې نه پوهېږو.

ډېره ګرانه ده چې څوک دې له پټ شرک څخه په امن کې وي او د دې مثالونه ډېر زيات دي، لکه که یو څوک داسې څه خوښ کړي چې الله تعالی یې نه خوښوي یا داسې څه نه خوښوي چې الله تعالی یې خوښوي؛ نو هېڅ شک نشته چې دا کار د الله تعالی د محبت په توحید کې پر کموالي او زیان دلالت کوي، ځکه که له الله تعالی سره یې ریښتینې مینه درلوداى؛ نو هېڅوک به یې ورسره شریک نه باله او کله چې له الله تعالی سره مینه زیاته شي، د خپلې خوښې شیان ورته بې ارزښته ښکاري، یعنې د الله جل جلاله خوښې ته ترجیح ورکوي او کله چې له الله تعالی سره مینه کمه شي؛ نو خپلې خوښې ته پر الله تعالی ترجیح ورکوي (العیاذ بالله.)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

له الله تعالی څخه د ویرې او هیلې هم همدا حال دی، کله چې یو بنده له خپل رب څخه په کامله توګه ودار شي، هغه بیا له هېڅ څخه نه ډارېږي. الله تعالی فرمايي:

(الَّذِيْنَ يُبَلِّغُوْنَ رِسٰلٰتِ اللّٰهِ وَيَخْشَوْنَهٗ وَلَا يَخْشَوْنَ اَحَدًا اِلَّا اللّٰهَ ۗ وَكَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيْبًا ۝) (الاحزاب:۳۹)

ژباړه. (دا د الله تعالی کړنلاره ده د هغو خلکو لپاره) چې د الله تعالی پېغامونه رسوي او له هماغه څخه وېرېږي او له یوه الله پرته له بل هېچا څخه نه وېرېږي او د محاسبې لپاره همدا الله کافي دی.

او کله چې له خپل رب څخه د بنده وېره کمه شي، هغه بیا له هر چا څخه وېرېږي. لنډه دا چې د مینې په څېر په وېره او هیله کې هم کمی او زیاتی راځي.

د شرک دغه ډول (شرک خفي) داسې پېچلی دی چې هېڅوک ترې نشي بچ کېدای؛ مګر دا چې الله تعالی یې ترې وساتي او له دې ټولو آفتونو څخه د نجات یواځینی لاره دا ده چې په هر عمل کې د الله تعالی لپاره اخلاص پیدا شي.

په ځان کې اخلاص پیدا کول ډېر ګران کار دی؛ خو کله چې انسان پر نبغه لاره برابر شي او الله تعالی ته توجه وکړي؛ نو الله تعالی یې مرسته کوي او دا کار ورته آسانېږي.

له عتبان بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

څوک چې د الله تعالی د رضاء لپاره ((لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ)) ووايي، الله تعالی پرې د دوزخ اور حراموي. (بخاري:۴۲۵، مسلم:۳۳)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

په ريښتيا چې دا لوی فضليت دی او الله تعالی ته دعاء کوو چې موږ د دې فضليت ور وګرځوي.

په دې حديث کې د ((لاَ إِلَهَ إِلَّا اللهُ)) ويلو هدف دا دی چې د کليمې ټول شرطونه هم بايد ورسره موجود وي، د دې مثال د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وسلم دغه وينا ده چې فرمايي: ((الحَجُّ عَرَفَةُ)) يعنې دا چې حج د عرفې پر ميدان ودرېدلو ته وايي؛ خو له دې سره بايد د حج نور ارکان او واجبات هم بايد اداء شي، په همدې ډول څوک چې دغه کليمه ووايي او شرطونه او غوښتنې يې پوره کړي، د دوزخ اور پرې حرام دی.

څوک چې د يوه شي د ترلاسه کولو هيله کوي، کار هم کوي؛ ځکه هغه شی ورته ضروري ښکاري، همدا وجه ده چې په دې حديث کې د هغه چا لپاره چې د الله جل جلاله د رضاء ترلاسه کولو په نيت ((لاَ إِلَهَ إِلَّا اللهُ)) وايي؛ عمل شرط بلل شوی دی. څوک چې دغه کليمه په اخلاص سره ووايي، د دوزخ اور پرې حرام دی؛ خو که بيا هم دوزخ ته ولاړ شي؛ نو دا به له دې امله وي چې د کليمې شرطونه به يې نه وي پوره کړي؛ خو بيا هم په دوزخ کې د هميشه لپاره نه پاتې کېږي او همدا حکم د هغه چا لپاره هم دی چې شراب څښي يا غلاء کوي؛ ځکه څوک چې دغه کارونه کوي او بيا هم وايي چې له الله تعالی پرته بل ريښتينی معبود نشته او زه د الله تعالی رضاء غواړم؛ نو هغه ريښتينی نه دی او درواغ وايي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: زنا کوونکی د زنا پر وخت مؤمن نه دی.

او دا خو لا لرې خبره ده چې هغه په دې کار سره د الله تعالی رضاء غواړي!

علامه ابن القيم رَحِمَهُ اللهُ وايي: توحيد يوازې دې ته نه وايي چې بنده اقرار وکړي چې له الله تعالی پرته بل خالق نشته او الله تعالی د هر څه مالک او

رب دی، څکه مشرکان هم پر دې خبره اعتراف کوي او مني يې؛ بلکې توحيد د الله تعالی محبت، د هغه پر وړاندې عاجزي، د هغه اطاعت، په کامله توګه هغه ته تسليمېدلو، په عبادت کې اخلاص پيدا کولو او په ټولو اقوالو او افعالو او له چا سره په مينه او کرکه او ورکړه او نه ورکړه کې د هغه د رضاء ترلاسه کولو ته وايي، يعنې ټول هغه کارونه پرېښودل چې سړی ګناه ته را بولي او د هغه او الله تعالی ترمنځ حائل (پرده) واقع کېږي او څوک چې پر دې خبرو پوه شي، هغه د رسول الله ﷺ د دې خبرې په حقيقت هم پوهېږي چې فرمايي:

الله تعالی پر هغه چا د دوزخ اور حرام کړی چې د هغه د رضاء لپاره ((لآ إِلَـهَ إِلَّا اللّٰهُ)) ووايي.

په پورتنيو خبرو سره هغه شبهې لمنځه ځي چې د ځينو احاديثو د ظاهري مفهوم څخه را پېدا شوي دي او هغه دا چې وايي: هر څوک چې د الله تعالی د توحيد او د رسول الله ﷺ د رسالت ګواهي ورکړي او پر ژبه شهادتين ووايي، هغه هېڅکله دوزخ ته نه ځي، که څه هم چې فاجر او فاسق وي، څکه نو ښه فکر وکړه او هوښيار اوسه چې خطاء نه شې، الله تعالی دې موږ ته پر هغه لاره د تلو توفيق راکړي چې د هغه د خوښې سبب ګرځي.

۴... په پاک زړه د توحيد کلمه ويل

له ابو موسی اشعري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ((مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ خَالِصًا مِنْ قَلْبِهِ ، دَخَلَ الْجَنَّةَ.))

څوک چې په ريښتيني زړه د دې خبرې ګواهي ورکړي چې له الله تعالی پرته بل حقيقي معبود نشته، جنت ته داخلېږي. (احمد:۱۹٦۸۱)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

يعنې دا چې دبنده په زړه کې د الله تعالى معبوديت، عظمت او جلال، وېره او هيبت، هيله، احترام او توکل کلک شي او له دغو شيانو څخه يې زړه ډک شي او له هغه پرته له ټولو مخلوقاتو څخه د معبوديت تصور نفي شي او کله چې پر بنده دغه حالت راشي؛ نو هغه بيا يواځې د الله تعالى د اطاعت لپاره خپل غړي کاروي.

د الله تعالى ناخوښ شيانو خوښول او خوښ شيان يې نه خوښول؛ په حقيقت کې د ګناه پر لور تلل او ګناه ته وده ورکول دي، ځکه کله چې انسان خپلو خواهشاتو ته د الله تعالى پر محبت او وېره ترجيح ورکړي، په توحيد کې عيب او نقصان پيدا کېږي.

په دې سره بنده په خينې واجباتو کې تفريط (کمی) کوي او خينې وخت بيا ګناه هم ترې کېږي؛ خو هغه زړه چې د الله تعالى توحيد پکې کلک شوی وي؛ نو د هغه ټول فکرونه او کړنې د الله تعالى د خوښې لپاره ترسره کېږي.

له دې خبرې څخه معلومه شوه چې په کوم زړه کې چې د دې کليمې لپاره ځای پيدا شي او بنده د دغې کليمې غوښتنو ته پر خپلو نفسي- خواهشاتو ترجيح ورکړي، هغه ته په مخکښني حديث کې جنت ته د ننوتلو زېرى ورکړل شوی او هغه زړه چې خپلو خواهشاتو ته د دې کليمې پر غوښتنو ترجيح ورکوي؛ نو په توحيد کې کموالی راځي او زيانمن کېږي او داسې کړنه په حقيقت کې د پټ شرک يو ډول دی.

که يو څوک داسې وي چې د دې کليمې اقرار هم کوي او بيا هم دوزخ ته ولاړ شي؛ نو دا به له دې امله وي چې کليمه به يې په ريښتينې زړه نه وي ويلې، ځکه څوک چې دغه کليمه په ريښتيني زړه ووايي، د نورو شيانو مينه يې په زړه کې نه پاتې کېږي، يواځې له الله تعالى سره مينه کوي، يواځې له هغه څخه تمه کوي، يواځې پر هغه توکل کوي او هېڅکله د خپلو نفسي-

Scanned by CamScanner

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

خواهشاتو تر اغیزې لاندې نه راځي؛ خو کله چې له الله تعالی پرته بل څوک په زړه کې ځای ونیسي-؛ نو د کلیمې په ریښتینولۍ کې کمی او نقصان راځي. د دې ټولو خبرو سره سره بیا هم د ریښتینولۍ معنا دا نه ده چې انسان به هېڅ ګناه نه کوي، بلکې معنا یې دا ده چې که ګناه ترې وشوه، د هغې کفاره دې اداء کړي، یعنې توبه دې وباسي.

۵... د توحید په عقیده وفات کېدل

له معاذ بن جبل رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: ((مَنْ كَانَ آخِرُ كَلَامِهِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ.))

د چا وروستۍ خبره چې ((لَا إِلَـهَ إِلَّا اللهُ)) وي، جنت ته به داخل شي.
(ابوداؤد: ۳۱۱٦)

دا مبارک حدیث د دې خبرې دلیل دی چې د هر چا وروستۍ خبره چې د توحید سپېڅلې کلیمه وي، هغه له دوزخ څخه خلاصون مومي او جنت ته ځي؛ ځکه هغه څوک چې مرګ ته نږدې وي، دغه کلیمه په اخلاص سره وایي، پر خپلو پخوانیو ګناهونو پښیماني ښکاره کوي او په راتلونکي کې د هغې د نه کولو اراده کوي.

دا کلیمه یو داسې فضیلت او نعمت دی چې هېڅ بل نعمت ورسره سیالي نشي کولای، له همدې امله هر هوښیار انسان ته پکار ده چې هر وخت او په هر ځای کې خپله ژبه د دغې کلیمې په ویلو لمده وساتي؛ داسې نشي- چې په آخر وخت کې ترې محروم نه شي چې بیا به د تل لپاره په بد بختۍ کې وي.

ای الله! موږ پر توحید ژوندي لره او پر نېکو اعمالو مرګ راکړه، بېشکه چې د ټولو کارونو اعتبار په خاتمې پورې اړه لري.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

له عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:
((مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، دَخَلَ الْجَنَّةَ.))
ژباړه: څوک چې په داسې حال کې مړ شي چې پر دې خبره يې يقين وي چې له الله تعالى پرته بل ريښتيني معبود نشته، جنت ته داخلېږي. (مسلم:۲٦)

علامه ابن القيم رَحِمَهُ اللهُ وايي: د دې کليمې روح او راز دا دی چې الله تعالى په محبت، عظمت، وېره، هيله او رجوع کولو کې يو وګڼل شي، يعنې دا چې بنده بايد له هغه پرته له بل چا سره محبت ونه کړي او له نورو خلکو سره محبت کول يې هم بايد د دې محبت تابع وي، بنده بايد له هغه پرته له بل چا ونه ډار شي، بل چاته هيله من نه شي، پر بل چا پوره اعتماد ونه کړي، دا کارونه بايد يواځې د هغه لپاره وشي، بنده بايد يواځې د هغه پر نوم سوګند وکړي، نذر بايد يواځې د هغه په نوم وشي، رجوع يواځې د هغه خواته پکار ده، اطاعت بايد يواځې د هغه وشي، د اجر تمه يواځې له هغه نه پکار ده، په مشکلاتو کې بايد له هغه څخه مرسته وغوښتل شي، زارۍ او سجده يواځې د هغه حق دی، ذبحه يواځې د هغه په نوم کېږي او دغه ټول ياد شوي کارونه په يوه ټکي کې خلاصه کېږي چې عبادت يې بولي او د عبادت دغه ټول ډولونه الله تعالى ته خاص دي؛ څکه نو دا ټولې خبرې د ((لَآ إِلَهَ إِلَّا اللهُ)) په مفهوم او معنا کې داخلې دي.

هر څوک چې د ځان خير غواړي او د نېکبختۍ او خلاصون تمه لري، ورته ښايي چې پر دغه مسئله (کليمه) ځان ښه پوه کړي او په ارزښت ورته قايل شي؛ څکه د ټولو کارونو دار ومدار پر همدغه کليمه دی او د قيامت پر ورځ به دې اړه پوښتنه هم کېږي؛ نو يو شی چې دومره لوی شان او ارزښت ولري، پکار ده چې پر هغې عمل وشي او هدف ورته وويل شي؛ له الله تعالى

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

څخه سوال کوو چې موږ پر دغه مسئله پوه کړي، موږ ته يې نور وازونه را وښايي او عمل پرې را نصيب کړي او له الله تعالى څخه د دې خبرې پناه غواړو چې موږ دې يوازې د دې مسئلې حکايت وکړو او بس.

الله تعالى ته سوال کوو چې زموږ خاتمه په خير سره وکړي، موږ ته پر ايمان او توحيد مرګ راولي او موږ په داسې حال کې وفات کړي چې هغه له موږ نه راضي وي، بېشکه چې هغه پر هر څه قادر دی.

له جابر بن عبدالله رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

((مَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ، وَمَنْ مَاتَ يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ النَّارَ.))

ژباړه: څوک چې په داسې حال کې له الله تعالى سره مخ شي چې هېڅ يو شی يې ورسره نه وي شريک کړی، جنت ته داخلېږي او څوک چې په داسې حال کې له هغه سره مخ شي چې څه شی يې ورسره شريک کړی وي، دوزخ ته ننوځي. (مسلم:۹۳)

په دې حديث کې د "هېڅ يوه شي" لفظ راغلی او قاعده دا ده چې (نکره) چې تر (نفې) لاندې راشي، د عموم په معنا راځي، يعنې د حديث مطلب دا دی چې نوموړی بنده نه شرک اکبر (لوی شرک) او نه شرک اصغر (وړوکی شرک) کوي؛ خکه نو جنت ته ځي، دا قاعده ډېره مهمه ده او ځان پرې پوهول پکار دي او دا له دې امله چې انسان ځينې وخت په دې اړه کمی او زياتی کوي.

په الله قسم چې دا د الله تعالى لوی نعمت او احسان دی چې بنده ته پر خالص توحيد مرګ راشي او له الله تعالى سره هېڅوک شريک نه کړي.

همدا وجه ده چې څوک د توحيد په عقيده مړ شي، حتماً جنت ته ځي او که څوک په داسې حال کې ومري چې ګبيره ګناهونه ترسره کوي؛ نو دا د

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

الله تعالی خوښه ده چې نوموړی ښني او که دوزخ ته یې بیایي او که څوک د شرک اکبر په عقیده مړ شي؛ نو جنت ته نه شي تللی او د الله تعالی له رحمت څخه محرومېږي او د تل لپاره به په دوزخ کې وي او څوک چې د شرک اصغر په عقیده مړ شي؛ نو نېکیو او بدیو ته یې کتل کېږي، که د بدیو تله یې درنه وه، دوزخ ته به ځي؛ خو د تل لپاره به هلته نه وي.

له دې څخه ښکاري چې د شرک خطر ډېر لوی دی او هغه څوک ورڅخه بچ کېدای شي چې صبر او استقامت ولري، د الله تعالی مرسته ورسره وي، د هغه له لورې د ستایل شویو خبرو او کارونو لورینه پرې شوې او توحید یې په زړه کې ځای نیولی وي. له دې ټولو خبرو څخه زموږ هدف دا دی چې انسان متوجه او ویښ شي او پر دې خبره غور وکړي.

الله تعالی دې موږ ته د نېکو اعمالو توفیق راکړي او هر وخت دې پر موږ خپل احسان ولوروي او موږ ته دې هدایت وکړي، آمین.

۶... د نېکیو پر مهال مړینه

له حذیفه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

((مَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللهِ خُتِمَ لَهُ بِهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ، وَمَنْ صَامَ يَوْمًا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللهِ خُتِمَ لَهُ بِهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ، وَمَنْ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللهِ خُتِمَ لَهُ بِهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ.))

ژباړه: چا چې د الله تعالی د رضاء ترلاسه کولو لپاره ((لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ)) وویل او پر همدې خبره یې خاتمه وشي؛ نو هغه جنت ته داخلېږي او څوک چې د الله جل جلاله د رضاء لپاره په کومه ورځ روژه ونیسي او پر همدې یې خاتمه وشي، هغه جنت ته داخلېږي او څوک چې د الله تعالی د رضاء لپاره کوم

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

شی صدقه کړي او پر همدې يې خاتمه وشي؛ نو جنت ته داخلېږي.
(احمد:۲۳۴۳۱)

په دې حديث کې له دې ټکي "د الله تعالى د رضاء لپاره" څخه مطلب دا دی چې بنده پورته کارونه يواځې د الله د رضاء د ترلاسه کولو په نيت وکړي او د الله تعالى رضاء جنت ته تلل او د هغه ديدار دی، ځکه جنتيان به په خلاصو سترګو الله تعالى ته ګوري لکه په دنيا کې چې موږ د څوارلسمې شپې سپوږمۍ ته ګورو (که څه هم چې الله تعالى له تشبيه څخه پاک دی) او دا خبره يقيني ده چې جنتيان به الله تعالىويني.

دا حديث په دې خبره دلالت کوي چې هر عمل بايد په اخلاص او د الله تعالى د رضاء ترلاسه کولو په نيت وشي او دا چې د عمل د قبلېدو او نه قبلېدو معيار اخلاص دی او بله دا چې د الله تعالى پر وراندې پر درجو لوړېدل هم په اخلاص پورې اړه لري.

پر دې خبره پوهېدل پکار دي چې په عمل کې اخلاص پېدا کول ډېر سخت کار دی؛ خو همدا هغه څه دي چې مقصد او هدف پرې ترلاسه کېږي، ګټه يې لويه او پرېښودل يې هم لوی خطر لري.

قرآن، سنت او د امت اجماع پر دې خبره متفق دي چې په ديني اعمالو کې اخلاص يو لازمي شرط دی او الله تعالى هم يوازې هغه اعمال قبلوي چې اخلاص پکې وي، همدا وجه ده چې سلفو صالحينو به د خپلو نيتونو په اصلاح کې ډېر کوښښ کاوه او هغه به يې تر ټولو قيمتي شی ګڼلو، ځکه هغوی په پوره توګه الله تعالى پېژندلی و او د اعمالو په آفتونو هم پوهېدل.

هغوی ته عمل کول سخت کار نه ښکارېده او سمدلاسه به يې په کار لاس پورې کاوه، بلکې هغوی به په دې خبره خورېدل چې عملونه يې له اخلاصه تش نه وي او بايد له هر قسم رياء او دوکې څخه پاک وي، هغه رياء چې د عملونو ثواب لمنځه وړي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

ځکه نو انسان ته پکار ده چې خپل عملونه د الله تعالی لپاره خالص کړي او خپل عبادت له ریاء او شهرت خوښونې او خپل نېک اعمال تر وسه له خلکو پټ وساتي او له همدې امله ده چې رسول الله رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي:

څوک چې خپل نېک اعمال پټ ساتلی شي؛ نو دا کار دې وکړي. (التاريخ للخطيب: ۳٦۲/۱۱)

پاتې شول هغه کارونه چې ښکاره کول يې شرعاً جايز دي، لکه په جماعت سره لمونځ کول، د الله تعالی په لاره کې جهاد کول او داسې نور؛ نو دا کارونه بايد په ښکاره توګه ترسره وشي؛ خو دومره ده چې انسان په دې کارونو کې خپل نيت خالص کړي، لکه په يوه حديث کې چې راځي:

((إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا، أَوْ إِلَى امْرَأَةٍ يَنْكِحُهَا، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ".))

(بخاري: ٥٤/١، مسلم: ١٩٠٧)

ژباړه: بې له شکه چې د ټولو اعمالو ثواب په نيتونو پورې اړه لري او هر چاته د هغه څه اجر ورکول کېږي چې نيت يې کړی وي؛ نو څوک چې د الله تعالی او د هغه د رسول د خوښۍ لپاره هجرت وکړي، د هغه هجرت د الله او د هغه د رسول لپاره دی (او د همدې کار ثواب ورکول کېږي) او څوک چې د دنيا لاس ته راوړلو او يا له کومې ښځې سره د نکاح په نيت هجرت وکړي؛ نو د هغه هجرت د همدې شيانو لپاره دی.

له همدې امله څوک چې خپل خير غواړي او د الله تعالی له عذاب څخه د خلاصون تمه لري، ورته پکار ده چې په خپلو ټولو خبرو او کارونو کې اخلاص پېدا کړي تر دې چې اخلاص يې په خوی بدل شي او ټول هغه شيان او خبرې يې له زړه څخه ووځي چې د اخلاص سره په ټکر کې واقع کېږي او په دې سره به لوی اجر او لوړې درجې ترلاسه کړي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

یادونه: له دې حدیث څخه څرګنده شوه، څوک چې په دې خبرو له پوهېدو وروسته په هر کار کې اخلاص پیدا کړي؛ نو الله تعالی به یې هر عمل قبول کړي، د زړه مراد به یې پوره کړي، خیر به ور نصیب کړي، درجې به یې لوړې کړي او جنت ته به یې داخل کړي.

له سعد بن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

((إِنَّكَ لَنْ تُخَلَّفَ فَتَعْمَلَ عَمَلًا صَالِحًا إِلَّا ازْدَدْتَ بِهِ دَرَجَةً وَرِفْعَةً...))

ته چې کوم کار د الله تعالی د رضاء لپاره ترسره کوې؛ نو الله تعالی به هم ستا درجې پرې لوړې کړي او خیر به در نصیب کړي.

(بخاري:۱۲۹۵، مسلم ۱٦۲۸)

الله تعالی دې موږ هم د هغو خلکو په څېر کړي چا چې خپل عملونه د الله تعالی لپاره خالص کړي او په نېک عمل یې خاتمه شوې، آمین.

۷... قران کریم حفظ کول

له عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي:

((يُقَالُ لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ: اقْرَأْ، وَارْتَقِ، وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا، فَإِنَّ مَنْزِلَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَؤُهَا.))

ژباړه: د قیامت پر ورځ به د قرآن خاوند ته وویل شي چې قرآن لوله او یوه درجه پورته کېږه او په هغه توګه چې دې په دنیا کې قرآن په ورو ورو تلاوت کاوه، دلته یې هم تلاوت کوه، ستا کور په هغه ځای کې دی چېرته چې د قرآن کریم وروستنی آیت پای ته ورسېږي. (ابوداؤد:۱٤٦٤،ترمذي:۲۹۱٤)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

په دې حديث کې د قرآن له خاوند څخه مراد هغه څوک دی چې په پوره معنا له قرآن سره اړیکه ولري، معنا دا چې کله یې په یادو یادوي، کله یې تلاوت کوي او کله یې بیا په آیتونو کې فکر او سوچ کوي.

په همدې توګه رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

((يَؤُمُّ الْقَوْمَ أَقْرَؤُهُمْ لِكِتَابِ اللهِ...))

خلکو ته دې هغه څوک لمونځ ورکړي چې په قرآن ډېر پوهېږي.

(مسلم:٦٧٣)

د دې حديث مطلب دا دی: د چا چې ډېر قرآن کريم ياد وي، هغه بايد د لمانځه امامت وکړي او په همدې توګه په جنت کې هم د درجو توپير د قرآن کريم د حفظ په ډېروالي پورې اړه لري، په تلاوت پورې نه، لکه څرنګه چې خلک ګومان کوي.

له دې حديث څخه همدارنګه د قرآن د حافظ فضليت معلومېږي؛ خو په دې شرط چې قرآن يې د الله تعالى د رضاء لپاره ياد کړی وي، داسې نه چې د دنيا ترلاسه کولو لپاره يې ياد کړی وي.

که څوک قرآن کريم د الله تعالى د رضاء لپاره نه، بلکې د دنيا ترلاسه کولو لپاره يادوي، د هغه لپاره سخته رټنه (وعيد) راغلې دي، رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

((أَكْثَرُ مُنَافِقِي أُمَّتِي قُرَّاؤُهَا".))

ژباړه: زما د امت ډېری منافقان له قاريانو څخه دي.

اوس بايد هر څوک پرېکړه وکړي چې قرآنکريم د الله تعالى د رضاء لپاره يادوي او که د دې لپاره چې خلک يې ستاينه وکړي او آفرين ورته ووايي؟!

هر څوک دې مخکې له دې نه چې عمل پيل کړي، خپل نيت اصلاح کړي چې دا کار د څه او چا لپاره کوي؟

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

په اعمالو کې اخلاص پیدا کول یواځې هغه چاته نصیب کېږي چې د الله تعالی توفیق ورسره وي، په خپل رحمت سره د هغه مرسته او تائید وکړي او له چا سره چې الله تعالی ملګری شي؛ نو د بصیرت (هوښیارۍ) سترګې به یې خلاصې شي.

په همدې توګه هغه څوک چې د الله تعالی د کتاب په آیتونو کې غور کوي او نبوي سنت په ژوره توګه تر څېړنې لاندې نیسي۔ او کوم احکام چې له رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه ثابت وي، د هغې پیروي کوي؛ نو دې کس ته هم اخلاص نصیب کېږي.

یادونه: بختور کس هغه دی چې د دار العمل (دنیا) وخت لږ او د دار الجزاء (آخرت) وخت اوږد او نه ختمېدونکی وبولي او له دې احساس سره تکان وخوري، ځکه وخت چې تېر شي، بېرته راګرځول یې ګران کار دی.

که انسان په پورتني حدیث کې په ژوره توګه فکر وکړي؛ نو هېڅکله به د قرآن کریم په حفظ کولو کې سستي ونه کړي.

ام المؤمنین عایشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وایي چې رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

((مَثَلُ الَّذِي يَقْرَأُ القُرْآنَ، وَهُوَ حَافِظٌ لَهُ مَعَ السَّفَرَةِ الكِرَامِ البَرَرَةِ، وَمَثَلُ الَّذِي يَقْرَأُ، وَهُوَ يَتَعَاهَدُهُ، وَهُوَ عَلَيْهِ شَدِيدٌ فَلَهُ أَجْرَانِ.))

ژباړه: څوک چې قرآن لولي او یادوي یې، له هغو ملایکو سره به وي چې عزتمندې او د اعمالو لیکونکي دي او څوک چې قرآن لولي او په یادولو کې یې له ستونزو سره مخ کېږي؛ نو هغه ته دوه اجرونه ورکول کېږي.

(بخاري: ٤٩٣٧، مسلم: ٧٩٨)

په حدیث کې د (السفرة) تکی راغلی او دې څخه هغه ملائکې مراد دي چې د الله تعالی او بنده ترمنځ د سفیر په توګه کار کوي، د سفیر تکی هم له همدې څخه اخیستل شوی او په پورته حدیث کې د (الکرام البررة) تکی هم راغلی او هغو ملائکو ته وایي چې عزتمنې او محترمې دي، په خپلو

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

اخلاقو او کړنو کې نېکې او پاکې دي؛ نو معلومه شوه چې د قرآن حافظ هم باید په خپلو اقوالو او اعمالو کې رېښتيني او پاک وي.

له دې حدیث څخه دا هم معلومېږي چې هغه قاري چې په تلاوت کې ماهر وي او د قرآن په تجوید هم پوه وي؛ نو هغه به په جنت کې له هغو ملائکو سره وي چې د نېکو اعمالو لیکونکې او عزتمنې دي او په همدې توګه به قاریانو ته په جنت کې د ملائکو درجې ورکول کېږي.

هغه څوک چې د قرآنکریم زده کړه یې نوې پیل کړې وي او په لوستلو او یادولو کې یې له ستونزو سره مخ کېږي، هغه ته دوه اجرونه ورکول کېږي، یو اجر له دې امله چې قرآن یادوي او بل اجر له دې امله چې مشقت او تکلیف برداشت کوي، خکه نو هغه په هر حالت کې په کامیابو خلکو کې شمېرل کېږي.

د پورتنۍ خبرې مطلب دا نه دی چې ګوندې هغه څوک چې د قرآن په یادولو کې له ستونزو سره مخ کېږي، د قرآن له ماهر او پوه کس څخه په درجه کې لوړ دی او ډېر اجر ورکول کېږي، بلکې د قرآن ماهر ډېر افضل دی او له هغو ملائکو سره به وي چې الله تعالی ته نږدې او عزتمنې دي.

بله دا چې هغه څوک چې نه یې قرآن حفظ کړی وي، نه یې ډېر تلاوت کوي او نه یې په آیتونو کې غور او فکر کوي؛ هغه څنګه د قرآن له ماهر سره پرتله کېدای شي؟

هغه خلک بختور دي چې قرآن کریم ډېر تلاوت کوي، آیتونه او سورتونه یې په یادو یادوي او فکر او تدبر پکې کوي، هغوی به په جنت کې د لوړو درجو خاوندان او نېکۍ به یې ډېرې وي.

خو هغه خلک بیا بد مرغه دي چې له دغو شیانو څخه محروم او له نېکانو څخه شاته پاتې وي، نه د قرآن تلاوت کوي او نه یې یادوي، کېدای شي هغوی پر خپله دغه کړنه پښیمانه وي؛ خو دغه پښېماني ورته ګټه نه رسوي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

لـه عصمه بـن مالـك رضي الله عنه نـه روايـت دی چـې رسـول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((لَوْ كَانَ الْقُرْآنُ فِي إِهَابٍ مَا مَسَّتْهُ النَّارُ.))

که (خـدای مـه کـړه) قـرآن پـه يـوه پـوښ کـې تـر اېښـودو وروسـته اور تـه وغورځول شي، اور به يې ونه سوځوي. (شعب الايمان:۲۷)

مطلب دا دی چې که فرضاً قرآن کريم په يوه پوښ کې کېښودل شي او په اور کې واچول شي؛ نو د قرآن له برکته به پوښ هم ونـه سـوځي او د پـوښ چې دا حال وي؛ نو د هغه مؤمن په اړه څه فکر کوئ چې قـرآن يـې حفظ کړی او په سينه کې يې پروت وي او هميشه پرې عمل کوي؟!!

له همدې امله به د قرآن حافظ او تلاوت کوونکی د دوزخ له اور څخه هم په امن کې وي.

اوس نو مسلمان تـه پکار ده چې د خپـل ژونـد هـره گـړی او شـيبه د دې نعمتونو د لاس ته راوړلو لپاره وقف کړي او دا هغه وخت کېږي چې د قـرآن حفظ، تلاوت او په آيتونو کې يې تدبر او غور وکړي.

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: ((يَجِيءُ الْقُرْآنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَقُولُ: يَا رَبِّ حَلِّهِ، فَيُلْبَسُ تَاجَ الْكَرَامَةِ، ثُـمَّ يَقُولُ: يَا رَبِّ زِدْهُ، فَيُلْبَسُ حُلَّةَ الْكَرَامَةِ، ثُـمَّ يَقُـولُ: يَـا رَبِّ ارْضَ عَنْـهُ، فَيَرْضَى عَنْهُ، فَيُقَالُ لَهُ: اقْرَأْ وَارْقَ، وَيُزَادُ بِكُلِّ آيَةٍ حَسَنَةً.))

ژباړه: د قيامت پر ورځ به قرآن راشي او وبه وايـي: ای پروردګـاره! دې کـس (حافظ) ته يوه جوړه ورکړه، الله تعالی به ورته د عزت تاج پـه سر کـړي، هغـه به بيا ووايي: ای زما ربه! نور يې هـم ونـازوه! نـو الله تعـالی بـه ورتـه د عـزت جامې په تن کړي، هغه به بيا ووايي: ای ربه! له هغې څخه راضي هم شه! نـو الله تعالی به ورڅخه راضي شي، بيا به حافظ ته وويـل شي چې لولـه او يـوه درجه پورته کېږه او د هر آيت په بدل کې به دې يوه درجه لوړېږي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

فضیلتونه یاد شوي او هغه د
په دې حدیث کې د قرآن کریم د حافظ ډېر
چې د عزت تاج به یې په سر او د عزت جامې یې په تن شي او غته خبره د
چې الله تعالی ورته خپله رضاء اعلانوي او دا تر ټولو غټ نعمت دی، هغې ته
په جنت کې د هر آیت په بدل یوه نېکي ورکول کېږي او د قرآن د آیتونو
په شمېر یې درجې لوړېږي او له دې ټولو پرته نور نعمتونه هم شته.
له دې څخه معلومېږي چې د حافظانو درجې تر ټولو خلکو لوړې دي، البته
د پیغمبرانو او شهیدانو درجې تر دوی هم لوړې دي، څکه نو مسلمان ته
پکار ده چې د قرآن یادولو دغه فضیلتونه په ذهن کې کېنوي، په خپله هم د
هغې تلاوت او حفظ وکړي او خپل بچي هم د هغې یادولو ته وهڅوي؛ خو
افسوس دا دی چې نن سبا ډېری خلک په دنیا پورې نښتي او قرآن ته توجه
نه کوي. اوس نو له هغه چا څخه به لوی ظالم څوک وي چې نه د قرآن
حفظ کوي، نه یې تلاوت کوي، نه پرې ځان پوهوي او نه یې په احکامو
عمل کوي؟!

انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وایي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

((إِنَّ لِلَّهِ أَهْلِينَ مِنَ النَّاسِ» قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَنْ هُمْ؟ قَالَ: «هُمْ أَهْلُ الْقُرْآنِ، أَهْلُ اللَّهِ وَخَاصَّتُهُ.))

ژباړه: بېشکه چې ځینې خلک د الله تعالی اهل دي، صحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وپوښتل: ای د الله رسوله! هغه خلک څوک دي؟ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

هغوی د قرآن خاوندان دي، هغوی اهل الله او د الله تعالی خاص بندګان دي. (ابن ماجه: ۲۱۵)

د یادونې وړ ده چې د قرآن له خاوندانو څخه هغه خلک مراد دي چې هغې په احکامو پوه وي او عمل پرې کوي که څه هم چې د قرآن حافظ نه وي. (زاد المعاد: ۱/۱۸۷)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

د اجر او ثواب اندازه هم په زرونو او نیتونو پورې اړه لري، یعنې څوک چې د قرآن کریم د تلاوت او حفظ کولو پر وخت د الله تعالی له ویرې څومره اوښکې توې کړي، په هماغه اندازه اجر او ثواب ورکول کېږي.

هغه څوک چې د قران حافظ وي؛ خو د هغې په معنا او مفهوم نه پوهېږي او پر احکامو یې عمل نه کوي، هغه په اهل الله کې شامل نه دي که څه هم چې د قرآن هر ټکی په ښه توګه لولي.

نواس بن سمعان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وایي چې ما له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه واورېدل چې فرمایل یې:

((يُؤْتَى بِالْقُرْآنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَهْلِهِ الَّذِينَ كَانُوا يَعْمَلُونَ بِهِ تَقْدُمُهُ سُورَةُ الْبَقَرَةِ، وَآلُ عِمْرَانَ... تُحَاجَّانِ عَنْ صَاحِبِهِمَا)).

ژباړه: د قیامت پر ورځ به قرآن او د قرآن خاوندان راوستل شي او دا هغه خلک دي چې د قرآن پر احکامو به یې عمل کړی وي، د البقرة او آل عمران سورتونه به یې تر وړاندې روان وي... او له هغه چا څخه به دفاع کوي چې دا سورتونه لولي. (مسلم:۸۰۵)

په دې حدیث کې د هغو حافظانو یادونه شوې کوم چې پر قرآن عمل کوي.

۸ ... ایت الکرسي لوستل

له ابو امامه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

((مَنْ قَرَأَ آيَةَ الْكُرْسِيِّ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ لَمْ يَمْنَعْهُ مِنْ دُخُولِ الْجَنَّةِ إِلَّا أَنْ يَمُوتَ)).

څوک چې له هر فرض لمانځه وروسته آیت الکرسي لولي؛ نو دهغه او جنت ترمنځ به یوازې مرګ مانع (پرده) وي. (نسائي)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

دغه مبارک حدیث د آیت الکرسي پر لوی شان دلالت کوي. دا خبره هم د یادولو وړ ده چې آیت الکرسي د قرآن کریم تر ټولو لوی آیت دی، ځکه نو له هر فرض لمانځه وروسته باید ولوستل شي، چا ته چې الله تعالی د دغه کار توفیق ورکړی؛ نو د آیت الکرسي لوستل به ورته آسانه کړي.

په همدې توګه څوک چې آیت الکرسي لولي، ورته پکار ده چې د لوستلو پر مهال یې غور او فکر وکړي، ځکه د لوستلو هدف یې دا دی چې سینې ورته پرانیستل شي.

آیت الکرسي د زړونو په اصلاح کې لوی اغېز لري او د شیطان له مکرونو څخه یو مکر دا دی چې انسان د قرآن له تدبر څخه منعه کوي، ځکه شیطان پوهېږي چې هدایت یوازې د قرآن په تدبر او تفکر سره ترلاسه کېږي.

۹ ... سورة الملک تلاوت کول

له انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي:

((سُورَةٌ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هِيَ إِلَّا ثَلَاثُونَ آيَةً، خَاصَمَتْ عَنْ صَاحِبِهَا حَتَّى أَدْخَلَتْهُ الْجَنَّةَ، وَهِيَ سُورَةُ تَبَارَكَ)).

ژباړه: په قرآن کریم کې یو سورت دی چې دېرش (۳۰) آیتونه لري، د خپل تلاوت کوونکي په حق کې جګړه کوي تر دې چې هغه کس جنت ته داخل کړي؛ هغه سورت الملک دی. (الطبراني فی الاوسط:۳٦٥٤)

علامه ابن عبدالبر رَحِمَهُ اللهُ وایي: زما پر وړاندې د دې حدیث معنا دا ده چې د سورت الملک ډېر تلاوت کول به پر هغه ورځ د الله تعالی غصه سړه کړي په کومه ورځ چې به خلک د خپلو خانونو په اړه په جګړه بوخت وي او دغه سورت به د خپل تلاوت کوونکي په اړه جګړه کوي، والله اعلم.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

يادونه: جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي: رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به تر هغې نه وېده کېده ترڅو چې به يې (آلم تنزيل، سجدة او تبارک الذي بيده الملک) سورتونه نه وو لوستي. (ترمذي: ۲۸۹۲)

هو! رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ترهغې نه وېده کېده ترڅو به يې چې دغه سورتونه تلاوت کړي نه وو، څکه نو تاسې هم په بستره کې تر پرېوتو وروسته دغه سورتونه ولولئ ترڅو د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په سنتو مو عمل کړی وي.

له دې ټولو سربېره سورت الملک د داسې غوره فضيلت درلودونکی دی چې تاسې بايد د هغې له تلاوت، حفظ کولو او په آيتونو کې يې له غور کولو سره سره د هغې پر احکامو تر خپله وسه عمل هم وکړئ، ترڅو د قيامت په ورځ له تاسې نه دفاع وکړي او الله تعالی مو گناهونه وبښي او جنت ته مو داخل کړي.

الله تعالی دې موږ او تاسې ته د قرآن د تلاوت او په احکامو يې د عمل کولو توفيق راکړي.

۱۰ ... سورة الاخلاص لوستل

انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي:

((كَانَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ يَؤُمُّهُمْ فِي مَسْجِدِ قُبَاءٍ، وَكَانَ كُلَّمَا افْتَتَحَ سُورَةً يَقْرَأُ بِهَا لَهُمْ فِي الصَّلاَةِ مِمَّا يَقْرَأُ بِهِ افْتَتَحَ: بِقُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْهَا، ثُمَّ يَقْرَأُ سُورَةً أُخْرَى مَعَهَا، وَكَانَ يَصْنَعُ ذَلِكَ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ، فَكَلَّمَهُ أَصْحَابُهُ، فَقَالُوا: إِنَّكَ تَفْتَتِحُ بِهَذِهِ السُّورَةِ، ثُمَّ لاَ تَرَى أَنَّهَا تُجْزِئُكَ حَتَّى تَقْرَأَ بِأُخْرَى، فَإِمَّا تَقْرَأُ بِهَا وَإِمَّا أَنْ تَدَعَهَا، وَتَقْرَأُ بِأُخْرَى فَقَالَ: مَا أَنَا بِتَارِكِهَا، إِنْ أَحْبَبْتُمْ أَنْ أَؤُمَّكُمْ بِذَلِكَ فَعَلْتُ، وَإِنْ كَرِهْتُمْ تَرَكْتُكُمْ، وَكَانُوا يَرَوْنَ أَنَّهُ مِنْ

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

أَفْضَلِهِمْ، وَكَرِهُوا أَنْ يَؤُمَّهُمْ غَيْرُهُ، فَلَمَّا أَتَاهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرُوهُ الخَبَرَ، فَقَالَ: «يَا فُلاَنُ، مَا يَمْنَعُكَ أَنْ تَفْعَلَ مَا يَأْمُرُكَ بِهِ أَصْحَابُكَ، وَمَا يَحْمِلُكَ عَلَى لُزُومِ هَذِهِ السُّورَةِ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ» فَقَالَ: إِنِّي أُحِبُّهَا، فَقَالَ: «حُبُّكَ إِيَّاهَا أَدْخَلَكَ الجَنَّةَ)).

ژباړه: يوه انصاري صحابي به په قباء کې خلکو ته جمعه ورکوله او په لمانځه کې به يې د سورت تر لوستلو دمخه سورة اخلاص هم تلاوت کاوه او بيا به يې ورپسې وروسته بل سورت لوستلو، هغه به په هر رکعت کې دا کار کاوه، ملګرو يې ورته وويل: ته ولې په هر رکعت کې سورة اخلاص لولې؟ بس به دا وي چې يو سورت ولولې، هغه وويل: زه هېڅکله د دغه سورت لوستل نه پرېږدم، که زما امامت مو خوښ نه وي، بل څوک خانته پيدا کړئ او که زما امامت خوښوئ؛ نو زه په هر رکعت کې دغه سورت لولم، خلکو هغه له خپلو خانونو څخه غوره ګڼلو او نه يې خوښوله چې بل څوک دې د هغوی امامت وکړي، په همدې وخت کې د الله رسول ﷺ د هغوی خواته راغی او خلکو ورته ټوله کيسه وکړه؛ نو رسول الله ﷺ له هغه صحابي څخه وپوښتل چې ته ولې په هر رکعت کې سورت اخلاص لولې؟ هغه وويل: ای د الله رسوله! زه له دې سورت سره مينه لرم، رسول الله ﷺ وفرمايل: له دې سورت مينه به تا جنت ته داخل کړي.

(بخاري: ۷۷٤۰، ترمذي: ۲۹۰)

له دې حديث څخه معلومېږي چې د الله تعالی بې مثاله صفتونه خوښول، د هغې يادونه او په معناګانو کې يې فکر کول او پرې پوهېدل، جنت ته د تلو لوی سبب دی.

ځيني خلک د الله تعالی په صفاتو کې تشبيه (له مخلوق سره ورته ګڼل) او تاويل (غلطه معنا اخيستل) کوي، ځکه نو ائمه کرام او سلف صالح دغسې

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

خلک بد ګني او وايي چې د الله تعالی صفات بايد په هغه ډول ومنل شي څرنګه چې په قرآن او سنتو کې راغلي دي، موږ يکې تاويل او تشبيه نه کوو او کله چې د الله کوم صفت يادوو؛ نو وايو چې (کما يليقُ بشأنه) يعنې: لکه څنګه چې د هغه له لوی شان سره ښايي.

الله تعالی هغه خلک بد ګني چې د هغه صفتونه نه خوښوي او له خانه پکې خبرې کوي، هوښيار ته همدومره خبره بس ده.

ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي: زه له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره وم، يو کس يې ولېد چې سورة الاخلاص يې لوستلو؛ نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: (وَجَبَتْ) "واجب شو." ما ترې وپوښتل: څه شی ورته واجب شو؟ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: "جنت." (ترمذي:۲۸۹۷)

علامه ابن عبدالبر رَحِمَهُ اللهُ فرمايي: په دې حديث کې د سورة الاخلاص لوی فضليت بيان شوی او هغه چاته چې په دې حديث کې جنت واجب شوی، کيدای شي د هغې وجه به دا وي چې د سورة الاخلاص له لوستلو سره به يې نور نېک اعمال هم ترسره کول او دا هم امکان لري چې يوازې د دې سورت په لوستلو ورته جنت واجب شوی وي.

۱۱ ... د تلاوت سجده کول

له ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: ((إِذَا قَرَأَ ابْنُ آدَمَ السَّجْدَةَ فَسَجَدَ اعْتَزَلَ الشَّيْطَانُ يَبْكِي، يَقُولُ: يَا وَيْلِي، أُمِرَ ابْنُ آدَمَ بِالسُّجُودِ فَسَجَدَ فَلَهُ الْجَنَّةُ، وَأُمِرْتُ بِالسُّجُودِ فَأَبَيْتُ فَلِيَ النَّارُ.))

ژباړه: کله چې بني آدم د تلاوت سجده کوي، شيطان ترې په څنګ کېږي، ژاړي او وايي چې: ای زما بدبختي! د آدم زوی ته د سجدې حکم وشو،

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

هغه وکړه او جنت ته ولاړ؛ خو ما ته چې د سجدې حکم وشو، ما انکار وکړ، ځکه نو ځای مې دوزخ شو. (مسلم:۸۱)

شیخ الاسلام ابن تیمیه رَحِمَهُ اللَّهُ وایي: د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا خبره سجدې ته د هڅونې لپاره ده او له دې څخه دا خبره معلومېږي لکه څرنګه چې آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د الله تعالی له لورې د سجدې حکم شوی و، همدارنګه د تلاوت سجده هم د الله تعالی له لورې ده، ځکه دواړه د الله تعالی امرونه دي، له همدې امله څوک چې سجده کوي، هغه له ملائکو سره ورته دی او څوک چې ورڅخه انکار کوي، هغه د ابلیس په څېر دی او د تلاوت سجده د الله تعالی پر وړاندې تر هغې بلې غوره ده، ځکه نو د آدم رَحِمَهُ اللَّهُ تر سجدې هم غوره ده.

دا حدیث د تلاوت د سجدې پر فضلیت دلالت کوي او په دې سره جنت هم واجبېږي، د الله تعالی رضاء پرې ترلاسه کېږي او د بني آدم ازلي دښمن (ابلیس) پرې خفه کېږي او له دې څخه دا هم معلومه شوه چې د ابلیس ځای دوزخ دی او هغه ډېر بد ځای دی.

څوک چې د تلاوت سجده کوي، باید هغه دعاء پکې ووایي چې له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه ثابته شوې ده، ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا فرمایي چې یو سړی د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خواته راغی او ویې ویل: ای د الله رسوله! ما بېګاه په خوب کې ولیدل چې د یوې ونې شاته پر لمانځه ولاړ یم، کله چې سجده کوم، ونه هم راسره سجده کوي، په سجده کې مې ترې واورېدل چې دا دعاء یې ویله:

((اللَّهُمَّ اكْتُبْ لِي بِهَا عِنْدَكَ أَجْرًا، وَضَعْ عَنِّي بِهَا وِزْرًا، وَاجْعَلْهَا لِي عِنْدَكَ ذُخْرًا، وَتَقَبَّلْهَا مِنِّي كَمَا تَقَبَّلْتَهَا مِنْ عَبْدِكَ دَاوُد".)) (ترمذي:۵۷۹)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

ژباړه: ای الله! ماته د دې سجدې په وجه يوه نېکي وليکه او يوه بدي راڅخه لرې کړه او هغه راته له خانه سره وساته او له ما څخه يې قبوله کړه لکه څرنګه چې دې له خپل بنده داؤد عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ څخه قبوله کړې وه.

عايشه رَضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهَا فرمايي: رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ به د شپې پر مهال د تلاوت په سجده کې دا دعاء ويله:

"سَجَدَ وَجْهِي لِلَّذِي خَلَقَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ بِحَوْلِهِ وَقُوَّتِهِ". (ترمذي: ۵۸۰)

ژباړه: زما مخ هغه ذات ته سجده وکړه چا چې پیدا کړی او په خپل قوت يې پکې غوږونه او سترګې جوړې کړې دي.

۱۲ ... د مؤذن د اذان ځواب ورکول

له عمر ابن الخطاب رَضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

کله چې څوک د مؤذن په ځواب کې هغه الفاظ تکرار کړي چې مؤذن يې وايي، جنت ته داخلېږي. (مسلم: ۳۸۵)

يادونه: مؤذن چې کوم الفاظ وايي او څوک يې ورپسې تکرار کړي، هغه جنت ته ځي او کله چې مؤذن ((حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ)) او ((حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ)) ووايي؛ نو په ځواب کې يې بايد ((لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ)) وويل شي.

په دې حديث کې ښه سوچ وکړئ، دا يو لوی او د قدر وړ حديث دی او بايد پوه شو چې د مؤذن سره بايد څنګ په څنګ د اذان ځواب ورکړو او د دې کار د ثواب په اړه يو حديث هم راغلی.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

له عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:
کله چې تاسې د مؤذن آذان اورئ؛ نو هغه الفاظ ووایئ چې مؤذن یې وايي، تر هغې وروسته پر ما درود ووايئ، ځکه څوک چې یو ځل پر ما درود ووايي، الله تعالی پرې لس ځله رحمت نازلوي، بیا له الله تعالی څخه زما لپاره د "وسیلې" غوښتنه وکړئ، وسیله په جنت کې د یوه مقام نوم دی چې د الله تعالی په بندګانو کې له یوه بنده سره ښايي او زه هیله لرم چې هغه به زه وم؛ نو څوک چې زما لپاره د "وسیلې" غوښتنه وکړي، زما شفاعت ورته لازمیږي. (مسلم:۱۳۸٤)
مؤذن ته په خواب ورکولو کې پنځه شیان سنت دي، درې یې په پورته حدیث کې ذکر شوي او څلورم یې دا دی چې تر اذان وروسته باید هغه کلمات وویل شي چې امام مسلم رَحِمَهُ اللهُ له سعد ابن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه په یوه حدیث کې روایت کړي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: څوک چې د مؤذن آذان واوري او تر هغې وروسته ووايي:
"أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، رَضِيتُ بِاللهِ رَبًّا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا". نو ګناهونه به یې وبښل شي. (مسلم:۳۸٦)
او پنځم سنت دا دی چې مؤذن ته له خواب ورکولو، درود ویلو او د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لپاره د وسیلې تر غوښتلو وروسته باید د خپل ځان لپاره دعاء وغوښتل شي، لکه چې په سنن ابو داؤد کې له عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه روایت دی چې یوه کس عرض وکړ: ای د الله رسوله! مؤذنان لکه چې پر موږ ډېر فضیلت لري؟ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: ته هم هغه الفاظ

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

وایه چې مؤذن یې وایي او له هغې وروسته دعاء وکړه، حتماً قبلېږي.
(ابوداؤد:٥٢٤)

په شپه او ورځ کې د اذان همدا پینځه سنتونه دي او پوازې هغه خلک یې پابندي کوي چې له نورو څخه وړاندې وي.

علامه ابن عثیمین رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرمایي: کله چې مو د اذان غږ واورېد، باید هغه الفاظ موږ هم ووایو چې مؤذن یې وایي، حتی که په زده کړه هم بوخت یو، باید زده کړه او درس وځنډوو او مؤذن ته ځواب ورکړو او کله چې ترې فارغ شولو، زده کړه باید له سره پیل کړو او پکې مشغول شو.

د مؤذن د آذان ځواب ورکول په حقیقت کې د الله تعالی رحمت او فضل دی، څکه مؤذنانو ته خو هسې هم د آذان اجر ورکول کېږي؛ نو له همدې امله نورو خلکو ته هم امر شوی چې د مؤذن ځواب ووایي ترڅو دوی ته هم د مؤذن په شان اجر ورکړل شي.

۱۳ ... ډېرې سجدې کول

معدان بن ابي طلحه یعمري رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ فرمایي:

زه د رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له آزاد کړی شوي غلام ثوبان رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ سره مخ شوم، ما ورته وویل: ماته داسې یو عمل را وښایه چې په ترسره کولو سره یې جنت ته ولاړ شم او الله تعالی ته ډېر خوښ هم وي، ثوبان رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ غلی وو، ما بیا خپله خبره تکرار کړه؛ خو هغه بیا هم غلی وو؛ نو ما چې په درېیم ځل ورڅخه پوښتنه وکړه؛ نو هغه وویل: همدا خبره ما هم له رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه پوښتلې وه؛ نو د الله رسول صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راته وفرمایل:

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

((عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ لِلَّهِ، فَإِنَّكَ لَا تَسْجُدُ لِلَّهِ سَجْدَةً، إِلَّا رَفَعَكَ اللهُ بِهَا دَرَجَةً، وَحَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيئَةً.))

ژباړه: ته د الله تعالی د رضاء لپاره ډېرې سجدې پر خان لازمې کړه، ځکه ته چې د الله تعالی لپاره کومه سجده کوې، الله تعالی د هغې په بدل کې ستا یوه درجه لوړوي او یوه گناه دربښي.

معدان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي: تردې وروسته له ابو درداء رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سره مخ شوم، له هغه نه مې هم همدا پوښتنه وکړه؛ نو هغه هم د ثوبان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په څېر خواب راکړ. (مسلم:٤٨٨)

په پورته حدیث کې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا خبره روښانه کړې چې په سجده کولو سره انسان ته دوه گټې ترلاسه کېږي: یوه گټه یې دا ده چې الله تعالی یې درجې لوړوي یعنې د الله تعالی او خلکو پر وړاندې یې مرتبه لوړېږي، خلک ورسره مینه کوي او د نېک عمل درجې یې نورې هم پورته خي او دویم دا چې د سجدې په وجه یې گناه ښل کېږي، کله چې انسان ته د هغې خوښ شی ترلاسه شي او له ناخوښ شي څخه بچ شي؛ نو د کمال درجې ته رسېږي او د درجو لوړېدل داسې شی دی چې انسان یې خوښوي او گناه هغه څه دي چې هغه یې نه خوښوي، ځکه نو کله چې یې درجه لوړه شي او گناه یې وبخښل شي، خپل هدف ته رسېدلی او له وېرېدلي شي څخه یې خلاصون موندلی.

له همدې امله دا لوی فضیلت او عزتمن عمل دی، تاسې ته هم پکار ده چې ډېرې سجدې وکړئ، ځکه په دې حدیث کې ورته هڅونه شوې ده، څوک چې ډېرې سجدې کوي، هغه ته د لویې پېرزوینې وعده ورکړل شوې، په خانگړې توگه سجده الله تعالی ته د نږدې کېدو لوی سبب دی، لکه رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې فرمايي:

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

بنده د سجدې پرمهال خپل رب ته ډېر نږدې وي، له همدې امله په دې وخت کې ډېره دعاء وغواړئ. (مسلم)

ربیعه بن کعب رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ وايي چې ما به د رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ په كور كې شپه تېروله، يوه شپه مې ورته د اودس لپاره اوبه راوړلې؛ نو راته ويې فرمايل: وغواړه، ما وويل: زه په جنت كې ستاسې ملګرتيا غواړم!

رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ وفرمايل: نور هم وغواړه، ما وويل: نه، نور څه نه غواړم؛ نو رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ وفرمايل: ((ډېرې سجدې كوه.))

(مسلم: ۴۸۹)

ربیعه رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ به تل د رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ ملګرتيا كوله، له هغه سره به يې شپه تېروله او د هغه خدمت به يې كاوه، رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ ته به يې د اودس لپاره اوبه تيارولې او نور كارونه به يې ترسره كول، له همدې امله رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ وغوښتل چې خپل خادم؛ ربيعه رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ ته د هغې د خدمت بدله وركړي. تاسې خبر شئ چې رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ ورته څه وويل؟ ورته يې وفرمايل: (يا ربيعه! سَلْنِيْ) يعنې: اى ربيعه! وغواړه، الله تعالى يې قبلوي!

تاسې ووايئ، كه چېرته تاسې د ربيعه رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ پرځاى واى؛ نو څه شى به مو غوښتي واى؟ يا به مو كوم ښكلى كور غوښته يا كوم ښكلى موټر يا ډېر مال او دولت! خو د ربيعه رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ خواب ته وګورئ چې رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ ته يې څه وويل؟ ربيعه رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ وويل: زه په جنت كې ستاسې ملګرتيا غواړم!

د ربيعه رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ خواب عجيبه غوندې و، ځكه نو رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ په دويم خل ترې پوښتنه وكړه چې نور هم څه وغواړه؛ خو ربيعه رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ همدا يوه غوښتنه لرله او بس، ځكه د دنيا نعمتونه فاني او ژر تېرېدونكي او د آخرت نعمتونه بيا تل ترتله پاتې كېدونكي دي، ربيعه رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ له رسول

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه وغوښتل چې په جنت کې یې د هغه ملګرتیا نصیب شي او تردې به بل لوی نعمت څه وي؟!!!

خلاصه دا ده چې ډېر لمونځونه کول جنت ته د تلو لوی سبب دی.

له دې حدیث څخه دا هم معلومېږي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا اختیار نه لري چې څوک دې جنت ته داخل کړي، همدا وجه ده چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه صحابي ته وفرمایل: ډېرې سجدې کوه؛ نو له ما سره به په جنت کې یو ځای وې. له همدې امله هغه څوک چې ډېرې سجدې کوي، د دې وړ دی چې جنت ته ولاړ شي او د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ملګرتیا یې نصیب شي.

په الله قسم! که انسان ټول عمر په سجده پروت وي او په همدې حالت کې ورته مرګ هم راشي، بیا هم د دې نعمت سره پرتله کېدای نه شي، بلکې یواځې له دوزخ څخه چې پرې بچ شي، هم غټه خبره ده.

۱۴... پینځه وخته لمونځ کول

له عباده بن صامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي:

((خَمْسُ صَلَوَاتٍ كَتَبَهُنَّ اللهُ عَلَى الْعِبَادِ مَنْ جَاءَ بِهِنَّ لَمْ يُضَيِّعْ مِنْهُنَّ شَيْئًا اسْتِخْفَافًا بِحَقِّهِنَّ كَانَ لَهُ عِنْدَ اللهِ عَهْدٌ أَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ، وَمَنْ لَمْ يَأْتِ بِهِنَّ فَلَيْسَ لَهُ عِنْدَ اللهِ عَهْدٌ إِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ، وَإِنْ شَاءَ أَدْخَلَهُ الْجَنَّةَ.))

ژباړه: الله تعالی پر بندګانو پینځه وخته لمونځونه فرض کړي دي، څوک یې چې له حقونو سره یو ځای او له ضایع کولو پرته اداء کړي؛ الله تعالی ورسره د جنت وعده کړې او څوک یې چې نه اداء کوي؛ الله تعالی ورسره هېڅ

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

وعده نه ده کړې، که يې خوښه شي، عذاب به ورکړي او که يې خوښه شي، جنت ته به يې داخل کړي. (نسائي: ٤٦١)

له دې حديث څخه معلومه شوه چې فرض لمونځونه پينځه دي او څوک چې يې په خپل وخت اداء کړي، جنت ته داخلېږي او د لمونځونو پابندي نه کول لوی خطر لري، الله تعالی ته سوال کوو چې موږ ته په سمه طريقه د لمونځونو د اداء کولو توفيق راکړي.

۱۵... د سهار او مازيگر د لمونځونو پابندي کول

له عماره بن رؤيبه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

((لَنْ يَلِجَ النَّارَ أَحَدٌ صَلَّى قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ، وَقَبْلَ غُرُوبِهَا.)) يَعْنِي الْفَجْرَ وَالْعَصْرَ. (مسلم: ٦٣٤)

هغه څوک هېڅکله دوزخ تـه نـه ځي چې د لمر راختلو او پرېوتلو څخه مخکې لمونځونه اداء کوي. مطلب ترې د سهار او مازيگر لمونځونه دي.

له دې حديث څخه معلومه شوه چې د سهار او مازيگر لمونځونو تـه بايد ځانگړې پاملرنه وشي او څوک چې د دې دواړو لمونځونو پابندي کـوي، الله تعالی يې له دوزخ څخه ژغوري؛ دا له دې امله چې دغه لمونځونه انسان تـه گران تمامېږي، د سهار پر وخت د خوب او راحت غلبه وي او مازيگر بيا د کاروبار وخت وي، ځکه نو د سهار خوندور خوب پرېښودل او د مازيگر پر وخت خان له کاره وزگارول او د الله تعالی عبادت کول مشکل کار دی. لـه همدې امله څوک چې د دې دوه لمونځونو پابندي کـوي، هغه تـه د نورو لمونځونو پابندي آسانېږي او په دې کار سره سړی له دوزخه خلاصېږي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

دا د الله تعالی ډېر لوی نعمت او احسان دی چې یو څوک د دوزخ له اوره وژغورل شي، داسې دولت چې په هېڅ قیمت نشي ترلاسه کېدای؛ نو پکار ده چې پر دې خبره په سختۍ سره عمل وشي او دا یو نه ختمېدونکی دولت دی چې د ترلاسه کولو لپاره یې باید کوښښ وشي.

له ابو موسی اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: ((مَنْ صَلَّى البَرْدَيْنِ، دَخَلَ الجَنَّةَ".))

ژباړه: چا چې د دوو یخو وختونو لمونځونه وکړل، جنت ته داخلېږي. (یعنې د سهار او مازیگر لمونځونه).(بخاري: ٥٧٤، مسلم: ٦٣٥)

په دې حدیث کې د "البردین" لفظ د سهار او مازیگر لمونځونو ته استعمال شوی، ځکه د سهار لمونځ د شپې په یخه برخه کې اداء کېږي او د مازیگر لمونځ هم د ورځې په یخه برخه کې اداء کېږي. مطلب دا دی چې د دې دوه لمونځونو پابندي کول جنت ته د داخلېدو سبب دی او په حدیث کې د دې لمونځونو ځانگړې یادونه د دې لمونځونو په لوی شان او اهمیت دلالت کوي.

له همدې کبله څوک چې د خوب، بې پروایۍ یا کوم بل کار له امله دغه دوه لمونځونه پرېږدي، له خیر څخه محرومېږي او ځان ته تاوان اړوي. یوازې له الله تعالی څخه مرسته غوښتل کېږي او یوازې پر هغه باور کېږي او هغه چې څه وغواړي، همغه کېږي.

د سهار او مازیگر د لمانځه ځینې فضیلتونه:

له ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: ((يَتَعَاقَبُونَ فِيكُمْ مَلَائِكَةٌ بِاللَّيْلِ، وَمَلَائِكَةٌ بِالنَّهَارِ، وَيَجْتَمِعُونَ فِي صَلَاةِ الفَجْرِ، وَصَلَاةِ العَصْرِ، ثُمَّ يَعْرُجُ الَّذِينَ بَاتُوا فِيكُمْ، فَيَسْأَلُهُمْ رَبُّهُمْ وَهُوَ أَعْلَمُ

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

بِهِمْ: كَيفَ تَرَكْتُمْ عِبَادِي؟ فَيَقُولُونَ: تَرَكْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ، وَأَتَيْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ.))

ژباړه: د ورځې او شپې ملائکې یو په بل پسې ستاسې خواته درځي او د سهار او مازیګر د لمونځونو پر وخت سره یو ځای کېږي، کله چې د شپې ملائکې پورته شي، الله تعالی ترې له خپل علم لرلو سره سره پوښتنه کوي چې:

((زما بندګان مو په څه حال پرېښودل؟))

هغوی وايي: موږ ترې په داسې حال کې راغلو چې لمونځ یې کاوه او کله چې ورتلو؛ نو هم پر لمانځه ولاړ وو. (بخاري: ۵۵۵، مسلم: ٦٣٢١)

په دې حدیث کې پوښتونکی ذات الله تعالی دی او له چا چې پوښتنه شوې، هغه مقربې ملائکې دي چې د الله تعالی پر وړاندې د بندګانو د اعمالو ګواهي ورکوي، د هغوی د لمونځ، حمد او ثناء او په جَمعه کې د حاضرېدو یادونه کوي، دغه نېکې او پاکې ملائکې ګواهي ورکوي چې دغه بندګان نېکان او لمونځ کوونکي دي، څکه نو پکار ده چې تاسې هم د هغوی په ګواهۍ کې خان شامل کړئ.

په دې حدیث کې یوازې د لمانځه یادونه شوې، ملائکو د نورو اعمالو یادونه نه ده کړې او دا د دې خبرې دلیل دی چې لمونځ کوونکو ته په دې امت کې خانګړې فضیلت حاصل دی او دا چې لمونځ تر ټولو غوره عمل هم دی.

جریر بن عبد الله البجلي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي: موږ یوه شپه له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ناست وو، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د څوارلسمې شپې د سپوږمۍ پر لوري وکتل او بيا يې وفرمايل:

تاسې به خپل رب داسې وویني لکه اوس چې دې سپوږمۍ ته ګورئ او په کتلو کې یې درته څه مشکل نشته؛ نو که څه ستونزه درته نه وه، د لمر راختلو

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

او پرېوتلو څخه مخکې لمونځ وکړئ. او بیا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا ایت ولوست:

﴿وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ﴾ (ق:۳۹)

ژباړه: او د خپل رب له ثنا ستاینې سره د هغه پاکي بیانوه، له لمر ختو او لمر پرېوتو نه مخکې.

په پورته حدیث کې الله تعالی له سپوږمۍ سره نه دی تشبیه شوی؛ بلکې د الله تعالی دیدار سپوږمۍ ته له کتو سره تشبیه شوی، یعنې لکه څرنګه چې خلک په پراخېستو سترګو سپوږمۍ ته ګوري، په همدې ډول به الله تعالی ته همویني.

په پورته حدیث کې دا ټکی چې: ((فَإِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لاَ تُغْلَبُوا)) "که مو له وسه پوره وه چې کوم شی درباندې غالب نشي." دې خبرې ته اشاره ده چې په دنیا کې داسې شیان هم شته چې د دې دوه لمونځونو په اداء کولو کې خنډ واقع کېږي؛ نو له همدې امله رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مسلمانانو ته سپارښتنه کوي چې که چېرته مو له وسه پوره وي؛ نو دغه خنډونه له مخې لرې کړئ او په هر حال کې دا لمونځونه اداء کړئ ترڅو لوی اجر او د الله تعالی د دیدار نعمت مو په برخه شي.

په اوسنۍ نړۍ کې داسې خنډونه زيات دي، ځينې خلک د بې ګټې شوګيرۍ او لوبو له امله دغه لمونځونه پرېږدي، ځینې بیا د غفلت او خوب له امله دا کار کوي او ځینې نور بیا په علم کې دومره ډوب شي چې دې دوه لمونځونو ته توجه نه کوي. ځینې ځوانان د علم په زده کړې او امتحان ته د تیارۍ لپاره تر نیمو شپو پورې ویښ وي او بیا چې ستومانه شي، ویده کېږي او د سهار لمونځ ترې پاتې شي؛ نو دا کار که د علم ترلاسه کولو لپاره هم

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

وې، بيا هم جايز نه دی، ځکه د دې کس مثال د هغه چا په شان دی چې کور جوړوي؛ خو ښار ورانوي!

داسې کس ته پکار ده چې د ماسخوتن له لمانځه وروسته سمدستي ويده شي او سهار چې يې وختي لمونځ وکړ، بيا دې خپل درس ووايي.

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ريښتيا فرمايلي چې:

((بُورِكَ لِأُمَّتِي فِي بُكُورِهَا.)) (الطبراني في الاوسط: ۷۵٤)

ژباړه: زما امت ته د هغوی په سهار وختي پاڅېدو کې برکت اېښودل شوی دی.

نو پکار ده چې چې دې خبرې ته توجه وشي، ځکه ډېری خوانان ترې ناخبره دي، والله المستعان.

په دې حديث کې دې خبرې ته هم اشاره شوې چې دغه دوه لمونځونه د لوېې مرتبې درلودونکې دي او دا چې په ټولو لمونځونو کې غوره هم دي.

د الله تعالی له ديدار نه وروسته د دې لمونځونو يادونه له دې امله شوې چې په جنت کې چې جنتيانو ته کوم نعمتونه ورکول کېږي، په هغو ټولو کې تر ټولو غوره نعمت د الله جل جلاله ديدار دی او په دنيا کې تر ټولو غوره عمل دا دوه لمونځونه دي، څوک چې د دې لمونځونو پابندي کوي او په خشوع او عاجزۍ سره يې په خپل وخت اداء کوي؛ نو په هغو خلکو کې به حساب شي چې د الله تعالی ديدار ورته نصيب کېږي.

د الله تعالی د ديدار عظمت له لاندې حديث څخه څرګندېږي:

له صهيب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: کله چې جنتيان جنت ته داخل شي، الله تعالی به ورته ووايي چې: "آيا نور هم څه غواړئ چې در يې کړم؟" هغوی به ووايي چې ای الله! تا زموږ مخونه سپين کړل، جنت ته دې داخل کړو او له دوزخ څخه دې وژغورلو، اوس نو نور څه وغواړو؟!

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

په همدې وخت کې به الله تعالی خپل حجاب لرې کړي او جنتیان به خپل رب ووینې او له دې ښخه بل غټ نعمت به یې نه وي ترلاسه کړی، بیا رسول الله ﷺ دا آیت ولوست:

(لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَىٰ وَزِيَادَةٌ) (یونس:۲٦، مسلم:۱۸۱)

په دې کې هېڅ شک نشته چې د الله تعالی دیدار داسې یو نعمت دی چې د انسان له خیالونو ښخه ډېر لوړ او لوی دی، هغه چې د محبت او معرفت د ښتانو هدف او مقصد دی او همدغه شی د جنت روح او ژوند دی او جنت پر همدې نعمت ښکلی دی او د همدې نعمت لپاره پېدا شوی دی.

کله چې درته معلومه شوه چې جنتیان به په خلاصو سترګو خپل رب ویني؛ نو ایا د دې نعمت د ترلاسه کولو کوښښ کوې که نه؟ ځواب دې باید دا وي چې هو، د دې نعمت لپاره به حتماً کوښښ کوم، ښکه همدا د هر هیله من وروستی هیله ده.

ای الله! موږ له تا ښخه ستا دیدار او ملاقات غواړو.

۱۶ ... د ماسپښین له لمانځه مخکې او وروسته ځلور رکعته لمونځ کول

ام حبیبه رضي الله عنها فرمايي: ما له رسول الله ﷺ ښخه واورېدل چې فرمایل یې:

((مَنْ صَلَّى قَبْلَ الظُّهْرِ أَرْبَعًا وَبَعْدَهَا أَرْبَعًا حَرَّمَهُ اللَّهُ عَلَى النَّارِ.))

ژباړه: څوک چې د ماسپښین له لمانځه مخکې او وروسته څلور رکعته لمونځ وکړي، الله تعالی پرې د دوزخ اور حراموي. (ترمذي: ٤٢٨)

په دې حدیث کې د ماسپښین له لمانځه مخکې او وروسته د څلور رکعته لمونځ استحباب معلومېږي او د هڅونې لپاره همدغه حدیث کافي دی.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

په دې حديث کې د دوزخ د اور د حراموالي يادونه هم شوې چې هيله کوونکي بايد ورته هيله من شي؛ نو ای الله! موږ ته د دې کار توفيق راکړه او کاميابي مو په برخه کړه، امين.

څوک چې د دې حديث له اورېدو وروسته هم پر هغې عمل نه کوي، هغه د نېکانو له اعمالو څخه ناخبره دی او داسې کس په اولو العزمو خلکو کې نه حسابېږي.

۱۷ ... تر اوداسه وروسته دعاء کول

له عقبه بن عامر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: څوک چې اودس وکړي او بيا دا دعاء ووايي:

((أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَـهَ إِلَّا اللهُ وَحْـدَهُ لَا شَرِيـكَ لَـهُ، وَأَشْـهَدُ أَنَّ مُحَمَّـدًا عَبْـدُهُ وَرَسُولُهُ، اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِينَ، وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ.)) نو د هغه لپاره د جنت اته واړه دروازې پرانستل کېږي، په هره دروازه چې يې خوښه وي، داخلېدې شي. (مسلم:۲۳٤)

پر دې خبره پوهېدل ضروري دي چې الله تعالی د خپل کامل حکمت په اساس خپل دربار ته حاضرېدل له پاکوالي سره تړلي دي، همدا وجه ده چې لمونځ کوونکی تر هغې د هغه دربار ته نشي- حاضرېدلای ترڅو چې يې پاکوالی نه وي ترلاسه کړی او همدا پاکوالی يې جنت ته د داخلېدو شرط بللی، څکه يوازې پاک انسانان جنت ته داخلېږي، پاکوالی هم په دوه ډوله دی: يو د بدن او بل د زړه پاکوالی، همدا وجه ده چې اودس کوونکي ته امر شوی چې له اوداسه وروسته دا دعاء ولولي:

((أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَـهَ إِلَّا اللهُ وَحْـدَهُ لَا شَرِيـكَ لَـهُ، وَأَشْـهَدُ أَنَّ مُحَمَّـدًا عَبْـدُهُ وَرَسُولُهُ، اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِينَ، وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ".))

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

زړه په توبې او بدن په اوبو سره پاکېږي، کله چې د بنده زړه او بدن دواړه پاک شي؛ نو د الله تعالى په دربار کې د حاضرېدو، د هغه پر وړاندې د ودرېدو او له هغه سره د راز او نياز کولو جوګه کېږي.
له دې حديث څخه معلومه شوه چې تر اوداسه وروسته پورتنی دعاء ويل فضيلت لري او دا هم معلومه شوه چې د جنت دروازې اته دي او دا چې جنتي به له هرې دروازې چې غوښتې يې وي، هغې ته داخلېدای شي.
الله تعالى دې موږ ته پرې د عمل کولو توفيق راکړي، آمين.

١٨... تر اودسه وروسته دوه رکعته نفل لمونځ کول

له ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سهار له لمانځه وروسته بلال رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته وفرمايل:
((حَدِّثْنِي بِأَرْجَى عَمَلٍ عَمِلْتَهُ فِي الإِسْلاَمِ، فَإِنِّي سَمِعْتُ دَفَّ نَعْلَيْكَ بَيْنَ يَدَيَّ فِي الجَنَّةِ» قَالَ: مَا عَمِلْتُ عَمَلًا أَرْجَى عِنْدِي: أَنِّي لَمْ أَتَطَهَّرْ طَهُورًا، فِي سَاعَةِ لَيْلٍ أَوْ نَهَارٍ، إِلَّا صَلَّيْتُ بِذَلِكَ الطُّهُورِ مَا كُتِبَ لِي أَنْ أُصَلِّيَ.))
ژباړه: ای بلاله! ته کوم داسې عمل کوې چې له امله يې ما په جنت کې خپلې مخې ته ستا د بوټانو آواز واورېد؟ بلال رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وويل: داسې کوم غوره عمل خو ماته نه دی معلوم؛ خو دومره ده چې زه کله د ورځې يا شپې اودس وکړم؛ نو څومره چې راته ليکل شوي وي، په هماغه اندازه لمونځ کوم. (بخاري: ١١٤٩، مسلم: ٢٤٥٨)

په دې حديث کې تر اوداسه وروسته د دوه رکعته لمونځ فضيلت معلومېږي او دا چې دا عمل د الله تعالى د فضل او کرم له امله په جنت کې د لوی اجر د ترلاسه کولو ذريعه ده.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

دا دوه رکعته لمونځ باید د زړه په خشوع او خضوع سره اداء شي، داسې چې زړه او بدن دواړه الله جل جلاله ته متوجه وي، ځکه څوک چې په ښه توګه اودس وکړي او خپل لمونځ له وسوسو او خیالونو څخه لرې وساتي؛ نو د هغه مخکیني ګناهونه بښل کېږي او هغه ته اختیار دی چې دغه لمونځ په کور، جومات او یا په کوم بل ځای کې اداء کوي.

دا څومره ښکلی عمل او اجر یې څومره لوی دی، ځکه نو درنو لوستونکو! دا موقع له لاسه مه ورکوئ، د دې پابندي وکړئ او همیشه یې اداء کړئ او نفس او شیطان دواړه خپه کړئ.

١٩ ... تر اوداسه وروسته دعاء کول

له عقبه بن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

((مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُبْلِغُ - أَوْ فَيُسْبِغُ - الْوَضُوءَ ثُمَّ يَقُولُ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ.))

ژباړه: په تاسې کې چې څوک په ښه توګه اودس وکړي او تر هغې وروسته ووایي: اشهد ان لا اله الا الله وان محمدا عبدالله ورسوله؛ نو د جنت اته واړه دروازې به ورته پرانیستل شي، په کومه یوه چې یې خوښه وي، جنت ته به داخلېږي. (مسلم: ٢٣٤)

په دې نبوي حدیث کې ډېرې جامع ګټې راټولې شوي دي، په هغې کې له غور کولو څخه ډېرې قیمتي فایدې معلومېدای شي او دا هغه چا ته چې الله تعالی سلیم فهم او زړه وربښلی وي او هغه په پوره توجه سره پر دې خبره سوچ وکړي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

ځرګنده دې وي چې د لمانځه روح دا دی چې بنده په لمانځه کې په کامله توګه الله تعالی ته متوجه شي او لکه څرنګه چې بنده ته دا مناسبه نه ده چې خپل مخ له قبلې څخه بل یا چپ لور ته واړوي، په همدې توګه دا هم ورته مناسبه نه ده چې خپل زړه له الله تعالی څخه په بله خوا واړوي او څرنګه چې کعبه (بیت الله) د مخ او بدن قبله ده په همدې ډول الله تعالی د بنده د زړه او روح قبله ده. بنده چې هر څومره ډېر په لمانځه کې الله تعالی ته متوجه وي، په هماغه اندازه الله تعالی هم خپل بنده ته توجه کوي او کله چې بنده له خپل رب څخه مخ اړوي، الله تعالی هم مخ ترې اړوي.

په لمانځه کې الله تعالی ته توجه کول درې درجې لري:

لومړی درجه یې دا ده چې بنده الله تعالی ته داسې توجه وکړي لکه الله جل جلاله چې ورته ګوري او داسې توجه هغه وخت پیدا کېږي کله چې بنده د الله تعالی په ذات او د هغه په اسماء اوصفاتو پوره ایمان ولري. بنده داسې وګڼي لکه الله تعالی چې له آسمانونو څخه ورته ګوري، د عرش له پاسه د امر او نهې احکام صادروي او د مخلوق د امورو تدبیر کوي، یوه خبره نازلېږي او بله پورته ځي او د بندګانو عملونه او روحونه هغه ته وړاندې کېږي، ګواکې بنده دا ټول کارونه په خپلو سترګوویني او د الله تعالی د اسماء اوصفاتو لېدنه کوي، هغه ویني چې الله حي او قیوم، سمیع او بصیر، عزیز او حکیم او امر کوونکی او منعه کوونکی دی، بنده ویني چې هغه څه خوښوي او څه نه خوښوي، پر څه شي خفه کېږي او پر څه شي خوشحالېږي او څه یې چې خوښه وي، د هغې امر کوي او هغه د خپل عرش له پاسه دی، د بندګانو یو عمل هم ترې پټ نه دی او هغه د بندګانو د سترګو په خیانت او د زړونو په پټو خبرو هم پوهېږي.

هر څومره چې بنده ته د احسان مقام حاصل وي، په هماغه اندازه الله تعالی ته نږدې کېږي، همدا ډول توپیر په لمونځونو کې هم شته تر دې چې

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

ځینې وخت د دوو کسانو په لمونځونو کې د ځمکې او آسمان په اندازه توپیر وي او دا په داسې حال کې چې د دواړو قیام، رکوع او سجده یو شان ده!

دویمه درجه یې دا ده چې بنده په لمانځه کې خپل زړه ته متوجه شي او له وسوسو او خیالونو څخه یې وساتي او دریمه درجه یې دا ده چې بنده د لمانځه په الفاظو کې غور او فکر وکړي تر څو د لمونځ د خشوع او اطمینان حق پرځای کړي؛ نو کله چې دا درې واړه درجې ترلاسه شي، د لمانځه د اقامت (اقامت الصلوة) حق هم اداء کېږي او بنده ته د الله تعالی توجه هم په همدې درجو پورې تړلې ده.

تاسې هم خپل حال وګورئ چې آیا د لمانځه قرائت او ذکر ستاسې له زړه څخه شیطان وباسي او کنه؟ آیا تاسې په لمانځه کې داسې احساسوئ چې ګواکې الله تعالی درته ګوري؟ او آیا لمونځ مو په زړه کې د وسوسو او خیالونو پرځای د الله تعالی محبت او وېره پېدا کوي او کنه؟!

کله چې بنده پر خپلو نفسي خواهشاتو غالب شي، په لمانځه کې یې د زړه د توجه او څارنې صفتونه پېدا کېږي او که چېرته یې د نفس خواهشات پر زړه غالب وي او شیطان یې پر زړه ګونډې وهلې وي؛ نو له وسوسو او خیالونو څخه به څنګه خلاص شي؟!

پر دې خبره پوهېدل پکار دي کله چې څوک په داډه زړه دا دوه رکعته لمونځ وکړي او د خپل وس مطابق پکې د زړه حضور او خشوع او عاجزي پیدا کړي؛ نو لرې نه ده چې نور لمونځونه به هم په پوره توجه سره اداء کوي او کله چې زړه له دې صفتونو څخه تش وي، بیا نو دا دوه رکعته لمونځ ورته ګټه نه رسوي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

کله چې يو هوښيار سړی په دې خبرو کې غور وکړي؛ نو ورته معلومه به شي چې دا څومره د قدر وړ مسئله ده او د هغې څومره ضرورت دی او څومره ګټه لري.

۲۰ ... د سنت لمونځونو پابندي کول

ام المؤمنين ام حبيبه رَضِيَ اللهُ عَنهَا وايي: ما له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ څخه واورېدل چې فرمايل يې:

((مَنْ صَلَّى اثْنَتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً فِي يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، بُنِيَ لَهُ بِهِنَّ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ.))

ژباړه: کوم مسلمان بنده چې د الله تعالی د رضاء لپاره د ورځې دولس (۱۲) رکعته نفل له فرض لمونځ پرته اداء کړي، الله تعالی ورته په جنت کې يو کور جوړوي او يا يې وويل چې په جنت کې ورته کور جوړېږي. (او هغه دولس رکعته لمونځ دا دی:) څلور رکعته د ماسپښين له فرض لمونځ څخه مخکې او دوه رکعته وروسته، دوه رکعته د ماښام له فرضو وروسته، دوه رکعته د ماسخوتن له فرضو وروسته او دوه رکعته د سهار له فرضو مخکې.

ام حبيبه رَضِيَ اللهُ عَنهَا فرمايي: له کله نه چې مې دا حديث له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ څخه اورېدلی، دا دولس رکعته لمونځ مې نه دی پرېښی. د ام حبيبه رَضِيَ اللهُ عَنهَا شاګرد عنبسه رَحِمَهُ اللهُ وايي: ما چې له کله نه دا حديث له ام حبيبه رَضِيَ اللهُ عَنهَا څخه اورېدلی، دا دولس رکعته مې نه دي پرېښي او د هغه شاګرد عمرو بن اوس رَحِمَهُ اللهُ وايي: ما چې له کله نه دا حديث له عنبسه رَحِمَهُ اللهُ څخه اورېدلی، دا دولس رکعته مې نه دي پرېښي او د هغه شاګر نعمان بن سالم رَحِمَهُ اللهُ وايي: له کومې ورځې چې مې دا حديث له عمرو بن اوس رَحِمَهُ اللهُ څخه اورېدلی، دا دولس رکعته لمونځ مې نه دی پرېښی. (مسلم: ۷۲۸، ترمذي: ٤١٥)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

درنو لوستونکو! الله تعالی دې تاسې ته خير او برکت درکړي، لږ فکر وکړئ، په دې امامانو کې چې هر يو يې دا حديث اورېدلی، پر هغې يې عمل کړی او نه يې دی پرېښی، اوس نو الله تعالی پر تاسې هم احسان وکړ او دا حديث مو واورېد، اوس تاسې ووایاست چې څه به کوئ؟!

له پورتني حديث څخه د دې دولس رکعتونو تاکيد او اهميت معلومېږي او دا هغه سنتونه دي چې د فرضو تابع دي او دا خبره هم معلومه شوه هر څوک چې پر دې حديث عمل وکړي؛ نو الله تعالی ورته په جنت کې کور جوړوي او دا د الله تعالی لوی فضل دی.

له همدې امله انسان ته پکار ده چې د دې سنتو اهتمام وکړي، هغه اداء کړي او خان ورسره عادت کړي او هغه د خپل عمل د اصلاح ذريعه وګڼي او په فرض لمونځونو کې کمی په هغې سره پوره کړي، څکه هر څوک پر دې پوهېږي چې لمونځ يې څومره وزن لري او څومره پکې خشوع او خضوع کوي؟

یوازې له الله تعالی څخه مرسته غوښتل کېږي او یوازې پر هغه باور کېدای شي او د نېکۍ او بدۍ ټول قوتونه د هغه په واک کې دي.

٢١... د څاښت لمونځ کول

له ابو موسی اشعري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

((مَنْ صَلَّى الضُّحَى أَرْبَعًا، وَقَبْلَ الأُولَى أَرْبَعًا بُنِيَ لَهُ بِهَا بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ.))

ژباړه: څوک چې د څاښت پر وخت څلور رکعته لمونځ اداء کړي او د لومړي لمونځ (ماسپښين) څخه مخکې څلور رکعته لمونځ وکړي، هغه ته په جنت کې کور جوړېږي. (الطبراني في الاوسط: ٤٧٥٣)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

دا يادونه پکار ده چې د څاښت لمونځ سنت دی او وخت يې هغه دی کله چې لمر د يوې نېزې په اندازه پورته شي يعنې له لمر ختلو څخه پنځلس دقيقې وروسته ترهغې چې لمر زوال ته نږدې شي يعنې له ماسپښين څخه لږ مخکې.

د څاښت لمونځ چې په آخري وخت کې وشي، غوره دی، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: "صَلاَةُ الأَوَّابِينَ حِينَ تَرْمَضُ الْفِصَالُ."

ژباړه: د اوابين([1]) لمونځ تر هغه وخت دوام کوي کله چې د اوښ د بچي پښې په شګه کې وسوځي. (مسلم:۷٤۸)

همدې حديث ته په کتو علماء کرام وايي چې د څاښت لمونځ وروستي وخت ته ځنډول غوره دي؛ خو که چا ته مشکل وي، بيا بېله خبره ده.

دا حديث د څاښت د لمانځه پر مشروعيت، فضيلت او ډېرو ګټو دلالت کوي او دا يو لوی دولت چې هر مسلمان يې بايد ترلاسه کړي، د همدې لمونځ په ذريعه بنده پر شيطان برلاسی کېږي او د احسان مرتبې ته رسېږي او په پای کې ترې رحمن ذات راضي کېږي.

۲۲ ... په جَمعې سره لمونځ اداء کول

له ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: ((مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ، أَوْ رَاحَ، أَعَدَّ اللهُ لَهُ فِي الْجَنَّةِ نُزُلًا، كُلَّمَا غَدَا، أَوْ رَاحَ.))

ژباړه: څوک چې د سهار يا ماښام پر وخت جومات ته ځي، الله تعالی ورته په جنت کې ميلمستيا تياروي. (بخاري: ٦٢٦، مسلم: ٦٦٩)

[1] په دې حديث کې د څاښت لمونځ ته اوابين ويل شوی او په نورو حديثونو له ماښام وروسته نفل لمونځ اوابين ته ويل شوی.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

"النزل" هغه خوراک ته ویل کېږي چې د عزت او اکرام پخاطر میلمه ته وړاندې کېږي؛ نو له پورته حدیث څخه معلومه شوه چې هغه څوک چې سهار یا ماښام د جَمعې لپاره جومات ته ځي، الله تعالی ورته د عزت میلمستیا تیاروي.

همدارنګه په دې حدیث کې هغه چاته د لوی اجر د ورکړې وعده شوې چې د ورځې په لمړۍ یا وروستۍ برخه کې جومات ته ځي، له دې حدیث څخه پر بندګانو د الله تعالی فضل له ورایه ښکاري، په دې ډول چې الله جل جلاله په دومره معمولي اعمالو هم خپلو بندګانو ته دومره لویې بدلې ورکوي، له الله تعالی څخه د داسې فضل سوال کوو.

له انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

څوک چې د الله تعالی لپاره پرلپسې څلوېښت ورځې په جَمعې سره لمونځ اداء کړي، داسې چې تکبیر اولی (لومړی تکبیر) هم ونیسي نو الله تعالی ورته دوه ډوله خلاصون لیکي، یو له دوزخ څخه خلاصون او دویم له نفاق څخه".

(ترمذي: ۲٤۱)

پر دې خبره پوهېدل پکار دي چې په جَمعې سره لمونځ اداء کول تر ټولو غوره عبادت، لوی اطاعت او په اسلامي شعائرو کې تر ټولو لوی امر دی.

له همدې امله پکار ده چې د لمانځه د وخت د را رسېدو څخه مخکې د اودس تیاری وشي، خکه څوک چې داسې نه کوي، ډېر ځله د لومړي تکبیر له فضیلت څخه محرومېږي او داسې هم کېږي چې ځینې خلک موبائیل ته پر تکبیر تحریمه لومړتیوب او ترجیح ورکوي، انا لله و انا الیه راجعون.

له عایشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: خلک تل له لومړي صف څخه وروسته کېږي تر دې چې الله تعالی هغوی په

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

دوزخ کې وروسته کوي (د دوزخ ژورې برخې ته یې ور غورځوي.)
(ابوداؤد: ٦٧٩)
مطلب دا دی چې هغه خلک چې له لومړي صف څخه وروسته کېږي، د الله تعالی له رحمت څخه هم وروسته کېږي تر دې چې دوزخ یې ځای شي او داسې کسانو ته د هغوی د اعمالو او احوالو سره سمه بدله ورکول کېږي!
ابو سعید خدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د صحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ (د لمانځه) په صف کې تاخیر ولېد؛ نو ویې فرمایل:
مخکې راشئ او په ما پسې اقتداء وکړئ او ستاسې څخه وروسته خلک دې په تاسې پسې اقتداء وکړي، خلک (په صف کې) وروسته کېږي تر دې چې الله تعالی یې هم وروسته کوي. (مسلم: ٤٣٨١)
معنا دا چې الله تعالی یې له خپل رحمت، لوی فضل او د درجې له پورته کېدو څخه وروسته کوي.
علامه ابن عیثمین رَحِمَهُ اللَّهُ وایي: کله چې څوک په لومړي، دویم او درېیم صف کې وروسته پاتې شي، الله تعالی ورته په زړه کې په هر کار کې د وروسته پاتې کېدو مینه اچوي، نعوذ بالله.
له ابو امامه باهلي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:
درې کسان داسې دي چې الله تعالی یې ضمانت کوي، یو هغه چې د الله تعالی په لاره کې جهاد کوي، الله تعالی د دې کس ضامن دی تردې چې هغه وفات کړي او جنت ته یې داخل کړي یا غنیمت په لاس ورکړي (او روغ یې کور ته ستون کړي)، دویم کس هغه دی چې جومات ته ځي، الله تعالی یې ضامن دی تردې چې الله تعالی خپل ملاقات ور نصیب کړي او جنت ته یې داخل کړي یا دا چې اجر ورکړي او بېرته یې ستون کړي او

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

درېیم هغه دی چې خپل کور ته په داخلېدو سلام اچوي او الله تعالی د دې کس ضمانت هم کوي. (ابوداؤد: ۲۴۹۴)

امام نووي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي: د الله تعالی د ضامن کېدو معنا ضمان والا کېدل دي او ضمان د يوه شي پالنې او ساتنې ته ويل کېږي، يعنې دا چې الله تعالی د دې درې کسانو پالنه او ساتنه په خپله کوي، لکه د (تامر) لفظ چې د تمر (خرما) څښتن ته او (لابن) د لبن (شيدو) څښتن ته استعمالېږي؛ نو د حديث مطلب دا شو چې الله تعالی پورته ياد شوي کسان پخپل حفظ او امان کې ساتي؛ نو دا څومره لويه ورکړه ده!

ای الله! دغه نعمت موږ ته هم را په برخه کړه.

ابو الدرداء رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي: ما له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه واورېدل چې فرمايل يې: جومات د هر پرهيزګار انسان کور دی او الله تعالی د هر هغه کس کفيل دی د چا کور چې جومات وي، يعنې د رحمت او مهرباني، پر پُل صراط د سالم تېرېدو او د الله تعالی د خوښې د مقام (جنت) کفيل دی. (الترغيب والترهيب: ۲۲۱، ۲۲۲)

د کفيل معنا ده ذمه وار، يعنې الله تعالی پر نوموړي کس د رحمت او مهرباني، پر پُل صراط د سالم تېرېدو او جنت ته د داخلېدو ذمه واري پخپله غاړه اخلي.

دا خبره د يادونې وړ ده چې پر پُل صراط تېرېدل ډېر سخت کار دی او يوازې هغه خلک پرې روغ رمټ تېرېدای شي چې د تقوی ژوند تېروي.

کېدای شي ته به داسې ګومان کوې چې پُل صراط به هم د دنيا د سختو او له ستونزو ډکو لارو په څېر وي، نه، داسې هېڅکله نه ده؛ بلکې د پُل صراط لاره له چړې څخه تېره او له وېښته څخه نرۍ ده، کله چې تاته پر دې پُل د تېرېدو وويل شي؛ نو څه فکر کوې چې دا کار به وکړای شې؟ تر تا لاندې به دوزخ وي، ته به غواړې چې تېر شې؛ خو تېرېدای به نه شې، غواړې به چې

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

ودرېږي؛ خو ودرېدای به نه شي، ته به پورته کېږې او بېرته به را پرېوځې، ته به په وېره او ترهه کې وې، دوزخ به تر تا لاندې خوټېږي او ته به د خلاصون هېڅ لاره نه لرې، په دې وخت کې به هېڅ شی ستا په درد ونه خوري، یوازې هغه عمل به درته ګټه ورسوي چې تا په دنیا کې کړی، په دنیا کې چې دې کومه سورلۍ ترلاسه کړې وه، همغه به دې اوس سورلۍ وي، اوس نو ستا خوښه ده چې څه ډول سورلۍ خان ته غوره کوې، پر کومه دروازه داخلېږې او پر کومه لاره ځې؟!

له همدې امله جومات خپل کور جوړ کړه، له دنیا او خلکو څخه بې پروا او آخرت ته متوجه شه او هغه ته تیاري وکړه.

ای الله! موږ له تاڅخه ستا په ښکلو نومونو او لوړو صفتونو سوال کوو چې موږ په خیر سره پر پُل صراط تېر او جنت ته مو داخل کړه، آمین.

۲۳... د رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعداري کول

له ابو هریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

((كُلُّ أُمَّتِي يَدْخُلُونَ الجَنَّةَ إِلَّا مَنْ أَبَى»، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، وَمَنْ يَأْبَى؟ قَالَ: «مَنْ أَطَاعَنِي دَخَلَ الجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ أَبَى.))

ژباړه: زما ټول امت جنت ته داخلېږي، مګر هغه کس چې انکار یې وکړ، صحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ پوښتنه وکړه: ای د الله رسوله! څوک انکار کوي؟

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

چا چې زما تابعداري وکړه، جنت ته داخل شو او چا چې زما نافرماني وکړه، هغه انکار وکړ. (بخاري: ۷۲۸۰)

اطاعت د غاړه ایښودلو په معنا دی، هغه که د مامور کار په کولو یا د ممنوع کار په پرېښودلو کې وي، څکه نو کله چې د اطاعت او معصیت لفظ وویل

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

شي؛ نو د مامور کار کولو او د ممنوع کار پرېښودلو ته اطاعت وايي؛ خو کله چې په مطلق ډول اطاعت وويل شي؛ نو ټولو اوامرو او نواهيو ته شاملېږي يعنې اوامر پرځای کول او له نواهيو (منعه شويو شيانو) ځان ساتل په اطاعت کې شاملېږي. له همدې امله څوک چې د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اطاعت کوي او حکم يې پرځای کوي او له مخالفت څخه يې ځان ساتي، هغه له جنتيانو څخه دی.

او څوک چې په خپلو خواهشاتو پسې روان وي او حقه لاره يې پرېښې وي، هغه دوزخ ته داخلېږي.

ای الله! موږ جنت ته داخل کړه او په وينا عمل او عقيده کې مو پر اسلام ثابت ولره، آمين.

۲۴ ... د صحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ له ډلې سره اوسېدل

عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا فرمايي: عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په "جابيه" نومي ځای کې موږ ته وينا وکړه او ويې فرمايل: ای خلکو! لکه څرنګه چې زه ستاسې په منځ کې ولاړ يم، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم زموږ ترمنځ همداسې ودرېد او بيا يې وفرمايل:

((...عَلَيْكُمْ بِالجَمَاعَةِ وَإِيَّاكُمْ وَالفُرْقَةَ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ مَعَ الوَاحِدِ وَهُوَ مِنَ الاِثْنَيْنِ أَبْعَدُ، مَنْ أَرَادَ بُحْبُوحَةَ الجَنَّةِ فَلْيَلْزَمُ الجَمَاعَةَ...))

ژباړه: ای خلکو! له ډلې سره واوسئ او له يواځيتوب څخه ځان وساتئ، ځکه شيطان له يواځې کس سره وي او له دوو کسانو څخه لرې ګرځي او څوک چې د جنت په منځ کې د اوسېدو هيله لري، هغه ته پکار ده چې له ډلې سره يوځای واوسي.(ترمذي: ۲/٦٥)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

یعنې له ډلې سره اوسېدل د جنت په منځ کې د اوسېدو سبب دی، څکه په حدیث کې راځي چې د الله تعالی نصرت او مرسته له ډلې سره وي.

په دې حدیث کې له جماعت څخه مطلب څه شی دی؟

زه وایم چې په دې حدیث کې له جماعت (ډلې) څخه مطلب صحابه کرام رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ دي، څکه په هغه وخت کې بله ریښتینې ډله موجوده نه وه او د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا وینا ((مَا أَنَا عَلَيْهِ وَأَصْحَابِي)) ([1]) (ترمذي:۲٤، ٤۱) هم پر دې خبره دلالت کوي، له همدې امله مطلب یې دا شو: څوک چې پر هغه لاره روان او ثابت پاتې شي پر کومه لاره چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل صحابه کرام رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ پرېښي وو؛ نو هغه کس به د جنت په منځ کې اوسېږي. په همدې اړه رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

ما تاسې پر داسې یوه لاره پرېښودئ چې شپه یې هم د ورځ په څېر روښانه ده، تر ما وروسته یواځې هغه څوک له دې لارې څنګ ته کېږي چې هلاکت ته نږدې وي. (ابن ماجه: ٤۳)

دا خبره دومره روښانه ده چې عالم خو لا څه چې جاهل انسان هم پرې پوهېږي.

په هر حال حق؛ حق دی که څه هم چې پلویان یې لږ وي او باطل؛ باطل دی که څه هم چې پلویان یې ډېر وي. پر باطله لاره د خلکو ډېروالی اعتبار نه لري؛ بلکې دې ته به کتل کېږي چې سمه او ناسمه لاره کومه ده؟ د پلویانو ډېروالی او کموالی د حق معیار نه دی.

د معاویه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په اړه راځي چې یوه ورځ د خلکو ترمنځ ودرېد او ویې ویل: ای خلکو واورئ! رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زموږ ترمنځ ودرېد او ویې فرمایل:

[1] پر کومه لار چې زه او زما ملګري روان دي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

خبر اوسئ! اهل کتاب تر تاسې مخکې په دوه اویا (٧٢) ډلو وویشل شول او دا امت به په درې اویا (٧٣) ډلو وویشل شي، دوه اویا ډلې به دوزخ ته او یوه ډله به جنت ته ځي او هغه ډله (د صحابه و رضي الله عنهم) جماعت دی. (ابوداؤد: ٤٥٩٧)

دا یو عظیم الشان او مشهور حدیث دی او د سند په اعتبار سره ثابت هم دی، همدا وجه ده چې د هر دور عالمانو له دې حدیث څخه استدلال کړی. امام ابو عبدالله الحاکم رحمه الله په مستدرک کې د دې حدیث په اړه لیکي: دا حدیث په اصولو کې لوی ځای لري.

دا حدیث د رسول الله صلی الله علیه وسلم په معجزو کې هم شمېرل کېږي، ځکه د داسې یوې خبرې وړاندوینه یې کړې وه چې ریښتینې ثابته شوه.

عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما وايي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
زما پر وړاندې امتونه وړاندې کړای شول؛ نو ما یو پېغمبر ولید چې یوه وړه ډله ورسره وه او یو بل پېغمبر مې ولید چې دوه تنه ورسره وو او داسې یو پېغمبر مې هم ولید چې هېڅوک ورسره نه وو.(بخاري: ٥٧٠٥، مسلم: ٢٢٠)

ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي: جماعت هغه دی چې حق خبره ومني که څه هم چې یواځې یو کس وي. (شرح اصول اعتقاد اهل السنة: ١٦٠)

د امام احمد بن حنبل رحمه الله په وخت کې یوازې لږ شمېر خلک پر حق ولاړ وو او همدا خلک په حقیقت کې جماعت و. ډېر فقهاء، مفتیان، خلیفه او د هغه شا وخوا خلک په دغه وخت کې له حق خبرې څخه لرې وو.

امام احمد بن حنبل رحمه الله په یواځې خان یو جماعت و تردې چې خلکو چې کله دا کار ناشونی وګانه؛ نو د وخت خلیفه ته یې وویل: ای امیر المؤمنینه! آیا ته او ستا ټول والیان، قاضیان او مفتیان ټول پر باطله او امام احمد رحمه الله په یواځې خان پر حقه دی؟!!

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

خليفه چې دا خبرې واورېدې، امام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ يې لـه اورېده بند وروسته په دُرو وواهه او سزاگانې يې ورکړې.

لـه عتبه بـن غـزوان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نـه روايـت دی چـې رسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

له تاسې څخه وروسته د صبر ورځې را روانـې دي، پـه دې ورځـو کـې چـې څوک له تاسې نه پر دين قائم وي، هغې ته د پنځوسو (۵۰) کسانو پـه انـدازه اجر ورکول کېږي، صحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ پوښتنه وکړه چې ای د الله رسـوله! پنځوس کسان له هغوی او که له موږ څخه؟

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: نه، بلکې له تاسې څخه.

(الطبراني في الکبير: ۱۱۷/۱۷)

۲۵... سلام رواجول

له ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

((لَا تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا، وَلَا تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا، أَوَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى شَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ؟ أَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ.))

ژباړه: تاسې تر هغې جنت ته نشئ داخلېدای تر څو چې ايمان را نـه ورئ او تر هغې مؤمنان کېدای نه شئ ترڅو چـې پـه خپـل مـنځ کـې سره مينـه ونـه کړئ؛ نو آيا داسې ته يو کار در ونه ښايم چې په کولو سره يې ستاسې په منځ کې مينه پېدا شي؟ په خپلو منځونو کې سلام عام کړئ. (مسلم: ٣٤)

مسلمان ته ښايي هر هغه کار وکړي چې په هغې سره د مسلمانانو په مـنځ کـې مينه او الفت پېدا کېږي، ځکه دا خبره له عقل څخه لرې ده چې يـو څـوک دې له داسې چا سره مرسته وکړي چې مينه ورسره نه لري؛ نو همدا وجـه ده چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ لپاره مينه کول په پوره ايمان دلالت کوي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

له عبد الله بن سلام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

ای خلکو! سلام رواج کړئ، ډوډۍ ورکړئ، صله رحمي وپالئ او د شپې چې کله خلک ویده وي، لمونځ وکړئ؛ نو جنت ته به په سلامتیا سره داخل شئ.

(ابن ماجه: ۳۲۵۱)

دا یو جلیل القدره او مبارک حدیث دی او د انسان د وروستنۍ هیلې یعنې په سلامتیا سره جنت ته د داخلېدو یادونه پکې شوې ده.

د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا خبره چې وايي: "ای خلکو! سلام رواج کړئ" دا معنا لري چې سلام اچول ډېر عام کړئ او د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا وینا چې وايي: "ډوډۍ ورکړئ" دا معنا لري چې په کور کې چې څه لرئ، هغه مسکینانو او فقیرانو ته ورکړئ، خکه دا صدقه ده.

۲۶... غصه قابو کول

ابو الدرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې یوه چا عرض وکړ: ای د الله رسوله! ماته داسې یو عمل را وښایه چې په کولو سره یې جنت ته داخل شم، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

((لَا تَغْضَبْ وَلَكَ الْجَنَّةُ.))

ژباړه: غصه مه کوه، ستا لپاره جنت دی. (الترغیب ۴۴٦/۳)

د دې حدیث معنا دا ده چې دومره ډېره غصه هم مه کوه چې په هره خبره راوپارېږې؛ بلکې اطیمنان او وقار په خان کې پیدا کړه.

د غصې په وجه ډېرې خرابۍ پیدا کېږي، داسې چې خینې وخت انسان خپل خان ته هم سپکې سپورې وايي، خینې وخت خپل دین او رب ته ښکنځل کوي او خینې وخت خپلې ښځې ته هم طلاق ورکوي، خینې مهال

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

وخت له لوښي ماتوي او يا خپلې جامې سوځوي او همدارنګه د غصې پر وخت له انسان څخه داسې کارونه هم کېږي چې بيا پرې خلک د ليوني ګومان کوي.

همدا وجه ده چې عادل قاضي ته د غصې په حالت کې فيصله کول جايز نه دي، ځکه په دې وخت کې پرې غصه غالبه وي، الله تعالی دې موږ ته ترې پناه راکړي.

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د غصې د لمنځه وړلو لپاره ځينې اسباب بيان کړي دي چې په لاندې ډول دي:

۱_ له شيطان څخه په الله جَلَّ جَلَالُهُ سره پناه غوښتل:

سليمان بن صُرد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي: زه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوا ته ناست وم، دوو کسانو يوه بل ته ښکنځلې کولې، د يوه څېره له غصې تکه سره شوه او رګونه يې وپړسېدل، په دې وخت کې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

((إِنِّي لَأَعْرِفُ كَلِمَةً لَوْ قَالَهَا لَذَهَبَ عَنْهُ الَّذِي يَجِدُ: أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ.))

ژباړه: ماته داسې يوه کليمه معلومه ده چې که هغه يې ووايي، غصه به يې ختمه شي، يعنې که ((أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ)) ووايي؛ نو غصه به يې ختمه شي. (بخاري: ۳۲۸۲، مسلم: ۲۶۱۰)

له ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: کله چې چاته غصه ورشي او هغه ((أَعُوذُ بِاللهِ...)) ووايي؛ نو غصه به يې ختمه شي. (الکامل: ٦/٤٥١)

۲_ که ولاړ وي، بايد کېني او کنه نو بايد څملي:

له ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: کله چې په تاسې کې يوه تن ته غصه ورشي او هغه ولاړ وي؛ نو بايد کېني، که غصه يې لرې شوه؛ نو ښه ده او کنه نو بايد څملي. (ابو داؤد: ٤٧٨٢)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

۳_ **چپ پاتې کېدل**:

لـه ابـن عبـاس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا څخـه روايـت دی چـې رسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

"... او کله چې غصه درشي؛ نو چپ پاتې شه او رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا وينا درې خل تکرار کړه". (احمد٢١٣٦، الادب المفرد: ١٣٢٠)

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د غصې پر وخت د چپ پاتې کېدو حکم کړی او د تاکيد لپاره يې دا خبره درې خله ويلې.

۴_ **د غصې قابو کوونکي ستاينه**:

له ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

پهلوان هغه څوک نه دی چې خلک را څملوي، بلکې پهلوان هغه څوک دی چې د غصې پر وخت خپل ځان قابو کړي. (بخاري: ٦١١٤)

انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

څوک چې د غصې د پلي کولو د قدرت لرلو سره سره خپله غصه قابو کړي، د قيامت پر ورځ به ورته الله تعالی د ټولو خلکو پر وړاندې اختيار ورکړي چې کومه حوره يې خوښه وي، له هغې سره دې نکاح وکړي. (ابوداؤد: ٤٧٧٧)

۲۷ ... سيد الاستغفار کلمه ويل

له شداد بن اوس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: سيد الاستغفار کليمه دا ده:

((اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لاَ إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي، فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ.)) څوک يې چې په يقين سره د سهار پر وخت ووايي او له مابنام څخه مخکې ورته مرگ

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

راشي؛ نو هغه جنتي دی او څوک يې چې د ماښام پر وخت په يقين سره ووايي او له سهار راختو دمخه وفات شي؛ نو جنتي دی. (بخاري: ٦٣٠٦)

دا يو صحيح او عظيم الشان حديث دی، له دې څخه معلومېږي چې د دې دعاء ويونکی د الله جَلَّجَلَالُهُ تر ټولو ډېر پېژندونکی، د هغه د توحيد منونکی او د هغه ډېر عزت کوونکی بنده دی او په دې دعاء کې د خپل رب پر لاره تلونکي بنده لپاره کامله شفاء پرته ده.

انسان د تل لپاره د الله جَلَّجَلَالُهُ په نعمتونو کې ډوب وي، له همدې امله د هغو شکر ويستلو ته هم ډېر محتاج دی او هغه هر وخت په ګناه کې وي چې د هغې لپاره استغفار ته ضرورت لري او دا دوه شيان داسې دي چې له انسان سره ډېر لازم دي، ځکه انسان د تل لپاره په نعمتونو کې دی او د تل لپاره توبې او استغفار ته محتاج دی.

۲۸... رېښتيا ويل

له عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

((عَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ، فَإِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ، وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ، وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَصْدُقُ وَيَتَحَرَّى الصِّدْقَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ صِدِّيقًا...))

ژباړه: تاسې بايد رېښتيا ويل پر ځان لازم کړئ، ځکه رېښتيا ويل د نېکۍ لاره در ښيي او نېکي سړی جنت ته بيايي او کوم بنده چې د تل لپاره رېښتيا وايي او د رېښتيا ويلو کوښښ کوي، د الله تعالی پر وړاندې "صديق" "رېښتينی" ليکل کېږي. (مسلم: ٢٦٠٧)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

ريښتيا ويل لوړه درجه او ښکلې ګاڼه ده، ريښتيا د هير خير کيلي او د لوړو مرتبو ترلاسه کولو اساس دی، څوک چې په خپله وينا او عمل کې ريښتينی وي، هغه د ريښتينولۍ لوړ پوړ ته رسېږي، تردې چې د "صديقينو" (ريښتينو) خلکو په ډله کې شمېرل کېږي او د الله جَلَّجَلَالُهُ پر وړاندې هم "صديق" "ريښتينی" ليکل کېږي او داسې بنده لوېې درجې ترلاسه کوي.

الله جَلَّجَلَالُهُ دې موږ ته په ټولو ويناوو او اعمالو کې ريښتينولي را نصيب کړي.

۲۹... جوماتونه جوړول

له عثمان بن عفان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

((مَنْ بَنَى مَسْجِدًا لِلَّهِ تَعَالَى يَبْتَغِي بِهِ وَجْهَ اللهِ، بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ.))

ژباړه: څوک چې د الله جَلَّجَلَالُهُ د رضاء ترلاسه کولو په خاطر جومات جوړ کړي، الله جَلَّجَلَالُهُ ورته په جنت کې کور جوړوي.

(بخاري: ٤٣٩، مسلم: ٥٣٣)

امام ابن رجب رَحِمَهُ اللَّهُ وايي: په هر کار کې د اجر او ثواب ترلاسه کولو لپاره اخلاص شرط دی، ځکه د اعمالو دار ومدار په نيتونو پورې اړه لري او هر چاته هغه څه ترلاسه کېږي چې د هغې نيت يې کړی وي، له همدې امله د جومات جوړول هم ښه کار دی او لوی اجر لري او که له جوړولو څخه يې هدف رياء، شهرت غوښتنه يا فخر کول وي؛ نو داسې کس د الله جَلَّجَلَالُهُ د عذاب او غصې ښکار کېږي او په همدې ډول نور اعمال هم د نيت پورې اړه لري.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

جومات جوړول الله جَلَّ جَلَالُهُ ته د نږدې کېدو ذريعه ده، که څه هم چې جومات وړوکی وي، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

څوک چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ د رضاء لپاره جومات جوړ کړي او که څه هم چې دومره وړوکی وي لکه د مرغۍ خاله؛ نو الله جَلَّ جَلَالُهُ ورته په جنت کې کور جوړوي. (ابن ماجه: ۷۳۸)

له پورتني حديث څخه معلومه شوه چې هر څوک چې د جومات په جوړولو کې مرسته وکړي او هغه مرسته معمولي هم وي، الله جَلَّ جَلَالُهُ يې په بدل کې اجر او ثواب ورکوي او دا کار د الله جَلَّ جَلَالُهُ له فضل او کرم څخه لرې نه دی.

۳۰... له مور او پلار سره نېکي کول

له ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

((رَغِمَ أَنْفُهُ، ثُمَّ رَغِمَ أَنْفُهُ، ثُمَّ رَغِمَ أَنْفُهُ» قِيلَ: مَنْ؟ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: «مَنْ أَدْرَكَ وَالِدَيْهِ عِنْدَ الْكِبَرِ، أَحَدَهُمَا أَوْ كِلَيْهِمَا، ثُمَّ لَمْ يَدْخُلِ الْجَنَّةَ.))

ژباړه: د هغه پوزه دې په خاورو شي، د هغه پوزه دې په خاورو شي او بيا دې هم د هغه پوزه په خاورو شي! يوه چا عرض وکړ: ای د الله رسوله! د چا؟ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: څوک چې خپل مور او پلار د بوډاوالي په حالت کې بيامومي، دواړه يا يو له هغوی څخه او بيا هم جنت ته داخل نه شي. (مسلم: ۲۵۵۱)

د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا وينا چې وايي: "او بيا هم جنت ته داخل نه شي" په دې معنا ده چې څوک دا موقع ترلاسه کړي او گټه ترې وانخلي؛ نو هغه تاواني دی.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

له همدې امله څوک چې له خپل مور او پلار سره د بوډاوالي په حالت کښې نېکي کول غنیمت ونه ګڼي؛ نو د دې لایق دی چې بدي یې وویل شي.

له ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: بېشکه چې (خینې وخت) په جنت کې د یوه چا درجه پورته کېږي، هغه به پوښتنه وکړي چې دا درجه ماته څنګه راکړل شوه؟ ورته به وویل شي چې ستا اولاد ستا لپاره د بښنې دعاء کړې وه. (ابن ماجه: ۳۶۶۰)

په دې حدیث کې له مور او پلار سره د ښه سلوک لوی اجر او هڅونه او له هغوی سره د بد سلوک عذاب او وېره بیان شوې.

ابوالدرداء رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وایي چې ما له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه واورېدل چې فرمایل یې:

پلار د جنت منځنی دروازه ده؛ نو که غواړې ضایع یې کړه او یا یې ساتنه یې وکړه. (ترمذي: ۱۹۰۰)

له دې حدیث څخه مطلب دا دی چې د پلار حقوق اداء کول، اطاعت یې کول، خبره یې منل او ادب ورسره کول د جنت پر منځنۍ دروازه د داخلېدو لوی سبب دی.

له عایشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: زه چې ویده شوم؛ نو خان مې په جنت کې ولید، بیا مې د یوه لوستونکي آواز واورېد؛ نو پوښتنه مې وکړه چې دا څوک دی؟ راته وویل شول چې دا حارثه بن نعمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دی، بیا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: هغه ته دا مقام او مرتبه د تابعدارۍ په وجه ورکړل شوې ده، حارثه بن نعمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د خپلې مور ډېر تابعدار و. (احمد: ۲٤/۸۹)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

۳۱... د یتیم پالنه کول

لـه سهل بـن سـعد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخـه روایـت دی چـې رسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

((أَنَا وَكَافِلُ اليَتِيمِ فِي الجَنَّةِ هَكَذَا» وَقَالَ بِإِصْبَعَيْهِ السَّبَّابَةِ وَالوُسْطَى.))

ژباړه: زه او د یتیم پالونکی به په جنت کې داسې سره یوځای وو، رسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل لاس شهادت او منځنۍ ګوتې ته اشاره وکـړه او د دواړو په منځ کې یې لږه فاصله وکړه. (بخاري: ۵۳۰۴)

پر هر مسلمان لازم ده چې دا حدیث په غور سره واوري او پـر خپـل خـان د هغې د عملي کولو مینه په خان کې پیدا کړي ترڅو په جنـت کـې د رسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او نورو پیغمبرانو علیهم السلام ملګرتیا ترلاسـه کـړي، ځکـه د قیامت پر ورځ د انبیاوو علیهم السلام له ملګرتیا څخه بله غوره ملګرتیا نشته.

۳۲... قبول شوی حج اداء کول

له ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

((...وَالحَجُّ المَبْرُورُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلَّا الجَنَّةُ.))

ژباړه:"... او د مبرور (قبول شوي) حج بدلـه لـه جنـت پرتـه بـل څـه نـه ده. (بخاري: ۱۷۷۳)

مبرور حج هغه دی چې لاندینۍ خبرې پکې وي:

۱_ حج باید خالص د الله جَلَّ جَلَالُهُ د رضاء لپاره وي یعنې دا چې انسان یـوازې د الله جَلَّ جَلَالُهُ د رضاء ترلاسه کولو پخاطر حج وکـړي، ریـاء او شـهرت غوښـتنه پکې نه وي او نه د دې لپاره چې خلـک ورتـه حـاجي صـیب ووایـي؛ بلکـې یوازې د الله جَلَّ جَلَالُهُ رضاء یې هدف وي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

۲_ حج باید د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په طریقه وي یعنې دا چې انسان تر خپله وسه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تابعداري وکړي.

۳_ حج باید په حلالو پیسو وي، حرام مال پکې نه وي، یعنې د سود، دوکې او قمار مال نه وي، په خالص حلال مال یې حج کړی وي.

۴_ په حج کې له فسق او فجور او جګړې څخه ځان وساتي، لکه الله جَلَّ جَلَالُهُ چې فرمايي:

(فَمَنْ فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَ لَا فُسُوْقَ وَ لَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ) (البقره: ۱۹۷)

ژباړه: څوك چې په دې ټاکلو میاشتو کې د حج نیت وکړي، هغه باید په دې خبر اوسي چې د حج په دوران کې له هغه څخه شهواني عمل، څه ناوړه فعل او څه جنګ جګړه و نشي.

په پورته آیت کې له "رفث" څخه جماع او د هغې اسباب او له "فسق" څخه هر ډول ګناه مراد ده، هغه که قولي وي یا فعلي، لکه غیبت کول، چغلي کول، درواغ ویل، ښځو ته کتل او نور... له "رفث" او "فسق" څخه به ځان ساتي او "جدال" جګړه به نه کوي. په حج کې له جګړې کولو څخه باید پرهیز وشي؛ خو که چېرته کوم بدعتي او فاسق انسان ورسره جګړه کوي؛ نو په ښه طریقه دې ورته حق روښانه کړي. الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي:

(اُدْعُ اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَ الْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَ جَادِلْهُمْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ) (النحل: ۱۲۵)

ژباړه: ای پیغمبره صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! د خپل رب د لارې لوري ته په حکمت او غوره نصیحت سره بلنه ورکړه او له خلکو سره په داسې ډول مباحثه وکړه چې ډېره غوره وي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

۳۳... روژه نیول

ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه روایت کوي چې ویې فرمایل: ((الصَّوْمُ جُنَّةٌ.))

ژباړه: روژه ډال (او له دوزخ څخه د بچ کېدو مضبوطه قلعه) ده. (احمد: ۴۰۲/۲)

روژې ته ځکه ډال ویل شوي چې هغه د انسان نفسي خواهشات لمنځه وړي او د دې خبرې تصدیق د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له دې وینا څخه کېږي: څوک چې د نکاح کولو توان ولري؛ نو واده دې وکړي، ځکه نکاح سترګې له بدنظری څخه ساتي او د شرم ځای حفاظت کوي او څوک چې د نکاح کولو وس او توان نه لري؛ نو روژه دې ونیسي، ځکه روژه شهوت ماتوي.

(بخاري: ۱۹۰۵)

که په مړه ګېډه د خوراک کولو بل هېڅ زیان نه وي، همدا زیان یې کافي دی چې انسان د الله جَلَّ جَلَالُهُ له ذکر څخه غافلوي او کله چې انسان د الله جَلَّ جَلَالُهُ له ذکر څخه غافل شي، شیطان پرې برلاسی کېږي او هغه په خواهشاتو کې اخته کوي او کله چې انسان په مړه ګېډه خوراک ونه کړي؛ نو په هغې کې سکون، خشوع او عاجزي پیدا کېږي.

همدا شان له عثمان بن ابي العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

روژه؛ له دوزخ څخه د خلاصېدو لپاره داسې ډال دی، لکه په جګړه کې چې له تاسې سره ډال وي. (نسایي: ۲۲۳۰)

امام ابن رجب رَحِمَهُ اللهُ وایي: ډال هغه شي ته وایي چې انسان پرې خان بچ کوي، لکه په جګړه کې چې سړی د دویم کس له ګوزار څخه په ډال خان.

ساتي او په همدې توګه روژه هم انسان له ګناهونو څخه ساتي او دا يې ډال دی.

له ابومامه الباهلي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

څوک چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې يوه ورځ روژه ونيسي، الله جَلَّ جَلَالُهُ د هغه او جنت ترمنځ د يوه خندق په اندازه فاصله پېدا کوي، لکه د اسمان او ځمکې ترمنځ د فاصلې په اندازه. (ترمذي ١٦٢٤)

روژه په حقيقت کې له ګناهونو څخه د بدن د غړو د ساتنې نوم دی، يواځې دا نه چې روژه دار له خوراک او څښاک څخه ځان وساتي، له همدې امله لکه څرنګه چې روژه په خوراک او څښاک سره فاسدېږي، په همدې ډول ګناهونه هم د روژې اجر او ثواب لمنځه وړي او ددې معنی دا شوه چې ګواکې روژه دار هيڅ روژه نده نيولې!

۳۴...حياء او شرم

له ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

((الحَيَاءُ مِنَ الإِيمَانِ، وَالإِيمَانُ فِي الجَنَّةِ، وَالبَذَاءُ مِنَ الجَفَاءِ، وَالجَفَاءُ فِي النَّارِ.))

ژباړه: حياء د ايمان يوه برخه ده او حياء جنت ته رسوونکې ده او سپکې او سپورې او جفا دوزخ ته رسوونکې ده. (ترمذي: ۲۰۰۹)

سعيد بن يزيد انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې يوه سړي عرض وکړ: ای د الله رسوله! ماته وصيت وکړه؟ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل:

زه تاته وصيت کوم چې له الله تعالی څخه داسې حياء وکړه، لکه د خپل قوم له يوه نېک شخص څخه چې حياء کوې.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

هوښيار انسان ته پكار ده چې حياء خپله كړي او هغه د خپلو اخلاقو يوه برخه او د خپلو علومو، اعمالو، اقوالو او احوالو اساس وګرځوي، ځكه د همدې صفت په اساس دى چې انسان لوړ مقام تر لاسه كوي او د هغې نشتوالى د محروموالي سبب كېږي.

له الله جَلَّجَلَالُهُ څخه مرسته غواړو او پر هغه توكل كوو او ترې غواړو چې موږ ته علم او عمل را نصيب كړي.

۳۵... د ژبې او شرم ځاى حفاظت كول

له سهل بن سعد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دى چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

((مَنْ يَضْمَنْ لِي مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ أَضْمَنْ لَهُ الجَنَّةَ.))

ژباړه: څوک چې ماته د دوو شيانو د حفاظت ضمانت راكړي، زه ورته د جنت ضمانت وركوم، هغه چې د دوو ژامو ترمنځ ده (يعنې ژبه) او هغه چې د دوو ورنونو ترمنځ دى (يعنې شرم ځاى.)

د دې حديث مطلب دا دى چې څوک خپله ژبه له درواغ ويلو، غيبت كولو، ښكنځلو كولو او نورو ناروا خبرو څخه وساتي او خپل شرم ځاى له ناروا كارونو څخه وژغوري، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته د جنت ضمانت كوي، د شرم ځاى حفاظت په دين كې لوى ځاى لري، لكه الله تعالى چې فرمايي:

(قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ۝ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ۝ وَ الَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ۝ وَ الَّذِيْنَ هُمْ لِلزَّكٰوةِ فٰعِلُوْنَ۝ وَ الَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ۝) (المؤمنون ۱-۶)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

ژباړه: په باوري ډول هغو مؤمنانو برى موندلى دى چې په خپل لمانځه کښې عاجزي غوره کوي، له عبثو څخه مخ اړوونکي وي، د زکات په کړنچارې عمل کوي او د خپلو شرم خایونو ساتنه کوي.

له ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا نه روايت دى چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: اى د قریشو خوانانو! زنا مه کوئ، ښه واورئ، څوک چې د خپل شرم خاى حفاظت کوي، د هغه لپاره جنت دى. (المستدرک:۸۰٦۲)

په یاد ولرئ چې په ټولو افتونو او مصیبتونو کې لوى مصیبت چې انسان پکې اخته دى، هغه د ژبې او شرم خاى فتنه ده؛ نو څوک چې ددې دوو شیانو له شر څخه بچ شو، داسې دې وګڼي چې له لوى مصیبت څخه خلاص شو.

الله جَلَّ جَلَالُهُ دې موږ ته د داسې قول او عمل توفیق راکړي چې هغه پرې راضي کېږي او له داسې کارونو څخه پناه غواړو چې هغه پرې خپه کېږي.

۳۶...له حیواناتو سره ښه چلند کول

له ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دى چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: ((أَنَّ رَجُلًا رَأَى كَلْبًا يَأْكُلُ الثَّرَى مِنَ العَطَشِ، فَأَخَذَ الرَّجُلُ خُفَّهُ، فَجَعَلَ يَغْرِفُ لَهُ بِهِ حَتَّى أَرْوَاهُ، فَشَكَرَ اللَّهُ لَهُ، فَأَدْخَلَهُ الجَنَّةَ.))

ژباړه: یوه سړي یو سپى ولید چې د تندې له امله یې لمده خټه خوړله؛ نو دې سړي خپله کلوشه کوهي ته ښکته کړه او سپي ته یې پکې اوبه ورکړې تردې چې سپى ښه خړوب شو، الله جَلَّ جَلَالُهُ ددې سړي دا کار خوښ او جنت ته یې داخل کړ. (بخاري:۱۷۳)

له دې حدیث څخه معلومېږي چې له حیواناتو سره ښېګڼه کول؛ نېک عمل دى او دا چې هوښیار انسان ته پکار ده چې هیڅ ښه کار بې ارزښته ونه

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

ګني، ځکه چې ځينې وخت سړی د يوه وړوکي عمل له کبله جنت ته ځي.
په يوه بل حديث کې رسول الله ﷺ فرمايي:
جنت او دوزخ د انسان د څپلی له بند څخه هم هغه ته نږدې دي.
(بخاري:٦٤٨٨)

۳۷: د الله تعالى وېره او ښه اخلاق

ابوهريره رضي الله عنه فرمايي: له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې: هغه کوم عمل دی چې انسان پرې جنت ته ځي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل:
((تَقْوَى اللهِ وَحُسْنُ الخُلُقِ...))
له الله جل جلاله څخه وېره او ښه اخلاق. (ترمذي)
علامه ابن القيم رحمه الله فرمايي: رسول الله ﷺ په دې دوو شيانو (له الله جل جلاله څخه وېره او ښو اخلاقو) کې د الله جل جلاله او بندګانو حقونه جمع کړي دي، ځکه د الله وېره (تقوی) هغه کارونه اصلاح کوي چې د بنده او د هغه د رب ترمنځ دي او (ښه اخلاق) هغه کارونه اصلاح کوي چې د بنده او مخلوق ترمنځ دي، له همدې امله ده چې په تقوی سره د الله جل جلاله مينه پيدا کېږي او ښه اخلاق؛ خلک د الله جل جلاله دمينې پر لور هڅوي.
له ابوامامه رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:
څوک چې په يوه دعوه کې پر حقه وي او بيا هم دعوه نه کوي، زه ورته د جنت په منځ کې د کور جوړېدو ضمانت کوم او څوک چې په ټوکه کې دروغ ويل پرېږدي، زه ورته په جنت کې د کور ضمانت کوم او څوک چې خپل اخلاق ښه کړي، زه ورته په جنت کې د لوړې مرتبې والا کور ضمانت کوم. (ابوداؤد ٤٨٠٠)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

امام ابن القیم رَحِمَهُ اللَّهُ فرمایي: رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې حدیث کې غوره او اعلی کور د ښو اخلاقو بدله بللې، منځنی کور یې د منځني مقام یعنې درواغ نه ویلو بدله بللې او ادنی کور یې د ادنی مقام یعنې جګړې نه کولو بدله بللې؛ نو له دې څخه معلومه شوه چې ښه اخلاق اعلی او غوره مقام لري، ځکه یې بدله هم تر ټولو غوره ده، له همدې امله دا درې شیان ډېر لوی دي او د هغو تر لاسه کوونکي هم ډېر نېکبخته دي.

۳۸... خوږې خبرې او په خلکو خوراک کول

له علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

((إِنَّ فِي الجَنَّةِ غُرَفًا تُرَى ظُهُورُهَا مِنْ بُطُونِهَا وَبُطُونُهَا مِنْ ظُهُورِهَا، فَقَامَ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ: لِمَنْ هِيَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: لِمَنْ أَطَابَ الكَلَامَ، وَأَطْعَمَ الطَّعَامَ، وَأَدَامَ الصِّيَامَ، وَصَلَّى بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ.))

ژباړه: په جنت کې داسې اوچت کورونه دي چې دننه برخه یې له بهر څخه او بهرنۍ برخه یې له دننه څخه ښکاري، ددې خبرې په اورېدو سره یو کلیوال سړی ودرېد او پوښتنه یې وکړه: ای د الله رسوله! دا کورونه د چا لپاره دي؟ نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

دا کورونه د هغه چا لپاره دي چې خوږې خبرې کوي، پر خلکو خوراک کوي، پرلپسې روژې نیسي او د شپې چې کله خلک ویده شي؛ لمونځ کوي. (ترمذي:۱۹۸٤)

له هاني بن یزید رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې زه د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خواته ورغلم او پوښتنه مې ترې وکړه چې: داسې یو عمل راته وښایه چې جنت ته پرې داخل شم؟ نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

ښې خبرې کوه او پر خلکو خوراک کوه.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

ښې خبرې هغه دي چې د شریعت مطابق وي، هغه که د خیر خبرې وي او که نېکۍ ته د را بللو او یا له بدۍ څخه د منعه کولو خبرې او پر خلکو د خوراک کولو څخه مقصد دا دی چې د نېکۍ او خوښۍ پر وخت خلکو ته ډوډۍ ورکړل شي.

۳۹... د مصیبت پر وخت له صبر څخه کار اخیستل

له ابوامامه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایي:

((ابْنَ آدَمَ إِنْ صَبَرْتَ وَاحْتَسَبْتَ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الأُولَى، لَمْ أَرْضَ لَكَ ثَوَابًا دُونَ الْجَنَّةِ.))

ژباړه: ای د ادم زویه! که ته د مصیبت پرمهال له صبر څخه کار واخلې؛ نو زه به درته له جنت څخه پر کم شي راضي نشم (یعنې جنت به درکړم.)

(ابن ماجه:۱۵۷۹)

دا مبارک حدیث لویې ګټې ته اشاره کوي، هغه صبر چې انسان ته ګران تمامېږي او ثواب یې هم لوی دی؛ هغه صبر دی چې د مصیبت د رسېدو په لومړي وخت کې وشي او په دې وخت کې چې انسان د الله تعالی رضاء ته تسلیم شي؛ نو دا د هغه د زړه په ثبات دلالت کوي؛ خو کله چې انسان ته مصیبت ورسېږي او د صبر پرځای واوېلا وکړي او خفګان څرګند کړي؛ نو که وروسته بیا صبر هم وکړي، د لومړي وخت دصبر ثواب نه ورکول کېږي.

د مصیبت پر وخت د صبر له کولو پرته رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ موږ ته دا هم را ښودلي چې الله جَلَّ جَلَالُهُ ته دعاء وکړو، له هغه څخه اجر او ثواب وغواړو او د رسېدلي مصیبت د لمنځه وړلو سوال ترې وکړو، لکه ام سلمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا چې فرمایي: ما له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه واورېدل چې فرمایل یې:

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

کوم مسلمان ته چې مصيبت ورسيږي او هغه دعاء ووايي چې الله جَلَّجَلَالُهُ يې ورته حکم کړی، يعنې (اناالله واناالیه راجعون) او دا ووايي چې ای الله! ماته د دې مصيبت اجر او غوره بدله راکړه؛ نو الله تعالی به ورته تر هغې غوره بدله ورکړي. (مسلم ٩٨١)

انسان ته پکار ده چې د مصيبت پر وخت له الله جَلَّجَلَالُهُ څخه د اجر او ثواب هيله ولري او له صبر څخه کار واخلي او دا هم بايد په ياد ولري چې څومره چې مصيبت لوی وي، په هماغه اندازه لوی اجر او ثواب هم ورکول کيږي.

٤٠... پر ړندوالي صبر کول

له انس بن مالک رَضِيَاللَّهُعَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّىاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ وفرمايل: الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايي:

((إِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِي بِحَبِيبَتَيْهِ فَصَبَرَ، عَوَّضْتُهُ مِنْهُمَا الجَنَّةَ.))

ژباړه: زه چې کله خپل بنده هغه ته پر دوو خوښو شيانو (سترګو) وازمايم يعنې دواړه ترې واخلم او هغه پرې صبر وکړي؛ نو په بدل کې به ورته جنت ورکړم. (بخاري:٥٦٥٣)

په دې حديث کې سترګو ته دوه خوښ شيان ويل شوي او دا ځکه چې سترګې په ټول بدن کې مهم غړي دي، سترګې چې نه وي، انسان هېڅ شی نشي ليدلای او په دې کار هغه ډېر خوربږي.

له دې حديث څخه معلوميږي چې کوم بنده پر خپل ړندوالي صبر وکړي؛ نو د هغې په بدل کې ورته الله جَلَّجَلَالُهُ جنت ورکوي، ځکه سترګې انسان ته ډېرې ګرانې وي او په جنت کې معمولي غوندې ځای ترلاسه کول هم له ټولې دنيا څخه غوره دي، لکه رسول الله صَلَّىاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ چې فرمايي: په جنت

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

کې د اسماء د اېښودلو په اندازه ځای له دنیا او په هغې کې د ټولو موجودو شیانو څخه غوره دی. (بخاري:۳۸۹۲)

۴۱... د الله تعالی له وېرې ژړل

له ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روایت دې چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:
((لاَ يَلِجُ النَّارَ رَجُلٌ بَكَى مِنْ خَشْيَةِ اللهِ حَتَّى يَعُودَ اللَّبَنُ فِي الضَّرْعِ.))
ژباړه: هغه څوک به دوزخ ته ولاړ نشي چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ له وېرې یې ژړلي وي، مگر دا چې چې شیدې بېرته غولانځو ته دننه شي!

(ترمذي: ۱۶۳۳)

د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا ارشاد چې فرمایي: "تر دې چې شیدې غولانځو ته واپس شي" د تعلق بالمحال له باب څخه دی، یعنې هغه کار چې هیڅ امکان ونلري، لکه الله تعالی چې فرمایي:
(اِنَّ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَ اسْتَكْبَرُوْا عَنْهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ اَبْوَابُ السَّمَآءِ وَ لَا يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ حَتّٰى يَلِجَ الْجَمَلُ فِيْ سَمِّ الْخِيَاطِ ؕ وَ كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُجْرِمِيْنَ۝) (الاعراف:٤٠)
ژباړه: باور ولرئ، چا چې زموږ ایتونه دروغ گڼلي دي او د هغو په مقابل کښې یې سرغړولی دی، د هغو لپاره به د اسمان دروازې هېڅکله پرا نه نیستل شي. جنت ته د هغوی تگ دومره نا ممکن دی لکه د ستنې له سپم څخه د اوښ تېرېدل، موږ مجرمان په همداسې مجازات محکوموو.
په الله قسم! دا ډېر لوړ مقام دی چې د الله رب العزت له وېرې سترگې وژاړي او اوښکې وبهوي او په دې سره انسان خپل مرام او مقصد ته رسېږي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل چې فرمايل يې:

دوه سترګې داسې دي چې د دوزخ اور به ورته ونه رسېږي، يوه هغه سترګه چې د الله جل جلاله له وېرې وژاړي او بله هغه سترګه چې د الله جل جلاله په لاره کې پيره کوي او شپه په ويښه تېروي. (ترمذي: ۱٦۳۹)

د الله جل جلاله له وېرې د ژړلو د فضيلت په اړه همدا حديثونه کافي دي.

۴۲ ... له لارې څخه ضروري شيان لرې کول

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دې چې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم فرمايي:

((بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي بِطَرِيقٍ، وَجَدَ غُصْنَ شَوْكٍ عَلَى الطَّرِيقِ فَأَخَّرَهُ، فَشَكَرَ اللهُ لَهُ، فَغَفَرَ لَهُ.))

ژباړه: يو سړی پر لاره روان و؛ نو ويې ليدل چې يو ښاخ پروت و، هغه يې له لارې نه لرې کړ (ترڅو خلکو ته ترې ضرر ونه رسېږي)؛ نو الله جل جلاله ته يې دا کار خوښ شو او ښنه يې ورته وکړه (او جنت ته يې داخل کړ.)

(مسلم: ۱۹۱٤)

د حديث مقصد دا دی چې د حسي او معنوي دواړو لارو څخه بايد ضرري شيان لرې کړل شي.

۴۳ ... له خلکو څخه سوال نه کول

له ابوذر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خان ته ور وغوښتم او راته يې وفرمايل:

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

((هَلْ لَكَ إِلَى بَيْعَةٍ، وَلَكَ الْجَنَّةُ؟ " قُلْتُ: نَعَمْ. وَبَسَطْتُ يَدِي، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ وَهُوَ يَشْتَرِطُ عَلَيَّ: "أَنْ لَا تَسْأَلَ النَّاسَ شَيْئًا " قُلْتُ: نَعَمْ. قَالَ: "وَلَا سَوْطَكَ إِنْ يَسْقُطْ مِنْكَ، حَتَّى تَنْزِلَ إِلَيْهِ فَتَأْخُذَهُ.))

ژباړه: ایا پر داسې یوه خبره راسره بیعت کوې چې جنت ته پرې داخل شي؟ ما ورته وویل: هو او خپل لاس مې ور اوږد کړ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: پر دې خبره بیعت وکړه چې له خلکو څخه به څه نه غواړې، ما وویل: ښه ده؛ نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: که له لاس څخه دې قمچینه پرېوځي، نو پخپله ور ښکته شه او را پورته يې کړه او له چا څخه مه غواړه چې هغه درته را پورته کړي.

(احمد: ۱۷۲-۵)

همدارنګه ثوبان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: څوک چې ماته د دې خبرې ضمانت راکړي چې له خلکو څخه به څه نه غواړي، زه ورته د جنت ضمانت کوم، ثوبان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې ما وویل: زه ضمانت درکوم او له همدې امله وه چې هغه به له چا څخه هیڅ هم نه غوښتل.

(ابوداؤد ۱٦٤٣)

۴۴... د الله تعالی په لاره کې جهاد کول

د الله تعالی په لاره کې جهاد کول؛ الله تعالی ته د نږدې کېدو لویه وسیله او غوره نېکي ده او مجاهد به په لوړ مقام او غوره مرتبو کې وي. د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې جهاد کول په نفس او مال دواړو سره وي، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایي:

(إِنَّ اللهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ۚ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ۖ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ ۚ وَ

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

مَنْ اَوْفٰى بِعَهْدِهٖ مِنَ اللّٰهِ فَاسْتَبْشِرُوْا بِبَيْعِكُمُ الَّذِيْ بَايَعْتُمْ بِهٖ ؕ وَ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۱۱۱﴾ (التوبة: ۱۱۱)

ژباړه: حقیقت دا دی چې الله جَلَّجَلَالُهُ له مؤمنانو څخه د هغوی نفسونه او د هغوی مالونه د جنت په بدله کې پېرلي دي. هغوی د الله په لار کې جنګېږي؛ نو وژني او وژل کېږي. له هغوی سره (د جنت وعده) د الله جَلَّجَلَالُهُ پر ذمه یوه کلکه پخه وعده ده. په تورات او په انجیل او قرآن کې او څوك دی چې له الله جَلَّجَلَالُهُ نه زیات د خپلې ژبنې پوره کوونکی وي. نو خوښ اوسئ په خپلې دغې سودا چې تاسې له خدای سره کړې ده همدا تر ټولو ستر بریالیتوب دی.

بل ځای کې فرمايي:

(يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰى تِجَارَةٍ تُنْجِيْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۱۰﴾ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ وَ تُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِكُمْ وَ اَنْفُسِكُمْ ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۱﴾ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَ يُدْخِلْكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ وَ مَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِيْ جَنّٰتِ عَدْنٍ ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۱۲﴾) (التوبة: ۱۰-۱۲)

ژباړه: ای مؤمنانو، ایا زه وښیم تاسې ته هغه تجارت چې تاسې له دردناك عذاب نه وژغوري؟ پر الله او د هغه پر پیغمبر باندې ایمان راوړئ او د الله په لاره کې پخپلو مالونو او خپلو ځانونو سره جهاد وکړئ، همدغه ستاسې لپاره بهتره ده که تاسې پوهېږئ. الله جَلَّجَلَالُهُ به ستاسې ګناهونه دروبښي او تاسې به هغو باغونو ته ننباسي چې تر هغو لاندې به ویالې بهېږي او د ابدي استوګنې په جنتونو کې به ډېر غوره کورونه درکړي، دا دی ستر بریالیتوب.

له ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

"انْتَدَبَ اللَّهُ لِمَنْ خَرَجَ فِي سَبِيلِهِ ، لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا إِيمَانٌ بِي ، وَتَصْدِيقٌ بِرُسُلِي ، أَنْ أُرْجِعَهُ بِمَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ ، أَوْ أُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ ، وَلَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي مَا قَعَدْتُ خَلْفَ سَرِيَّةٍ ، وَلَوَدِدْتُ أَنِّي أُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ، ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ ، ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ". (بخاري)

ژباړه: الله جَلَّ جَلَالُهُ د هغه چا ذمه واري په غاړه اخيستې ده چې جهاد ته وځي او په اړه يې فرمايي: ((دی يواځې له دې امله زما په لاره کې وتلی چې پر ما ايمان لري او زما د رسولانو تصديق کوي؛ نو يا به يې له اجر او غنيمت سره بېرته (روغ رمټ) ستون کړم او يا به يې شهادت په نصيب او جنت ته به يې داخل کړم)) (بيا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي) او که زما پر امت سخته نه تمامېدای؛ نو له يوې غزا نه به هم وروسته پاتې شوی نه وم او زه دا ښه گڼم چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې شهيد شم، بيا ژوندی او بيا شهيد شم او بيا ژوندی او بيا شهيد شم.

حقيقت دا دی چې د شهيد اجر ډېر لوی، مرتبه يې تر ټولو لوړه او مقام يې په جنت کې ترټولو لوړ دی، څنگه به داسې نه وي، په داسې حال کې چې خپل روح يې د الله جَلَّ جَلَالُهُ له دين نه قربان کړی او خپل سر يې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې د غوښېدلو لپاره وړاندې کړی دی!

په يوه بل حديث کې له انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

"مَا أَحَدٌ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ ، يُحِبُّ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا، وَلَهُ مَا عَلَى الْأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ، إِلَّا الشَّهِيدُ يَتَمَنَّى أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا، فَيُقْتَلَ عَشْرَ مَرَّاتٍ، لِمَا يَرَى مِنَ الْكَرَامَةِ". (البخاري)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

ژباړه: له شهید پرته بل هېڅوک دا نه خوښوي چې له جنت نه بېرته دنیا او خپلې شتمنۍ ته را ستون شي، شهید د دې لپاره دنیا ته د بېرته راتلو هیله کوي چې (د الله جَلَّجَلَالُهُ په لاره کې) لس ځلې شهید شي او دا هیله د هغه عزت او درناوي امله کوي چې په جنت کې یې لیدلی.

او لــه مقـدام بــن معــد کــرب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نــه روایــت دی چــې رســول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

((لِلشَّهِيدِ عِنْدَ اللَّهِ سِتُّ خِصَالٍ: يُغْفَرُ لَهُ فِي أَوَّلِ دَفْعَةٍ (دفعة من دمه) وَيَرَى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ، وَيُجَارُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ ، وَيَأْمَنُ مِنَ الْفَزَعِ الأَكْبَرِ (يوم البعث من القبور) وَيُوضَعُ عَلَى رَأْسِهِ تَاجُ الْوَقَارِ، الْيَاقُوتَةُ مِنْهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا ، وَيُزَوَّجُ اثْنَتَيْنِ وَسَبْعِينَ زَوْجَةً مِنَ الْحُورِ الْعِينِ ، وَيُشَفَّعُ فِي سَبْعِينَ مِنْ أَقَارِبِهِ.)) (ترمذي او احمد)

ژباړه: شهید د الله جَلَّجَلَالُهُ پر وړاندې اووه ځانګړتیاوې لري:

۱. د وینې د اول څاڅکي په تویېدو سره ورته بښنه کېږي او د مړینې پرمهال به په جنت کې خپل کورویني.

۲. د قبر له عذاب نه ساتل کېږي.

۳. د قیامت د ورځې له لویې وېرې به په امن وي.

۴. پر سر به یې د درناوي داسې تاج کېښودل شي چې یو یاقوت بـه یـې لـه دنیا او په هغې کې له شته شیانو ډېر غوره وي.

۵. له دوو اویاوو غټو سترګو لرونکو حورو سره به یې نکاح وتړل شي.

۶. او د خپلو اویا خپلوانو په حق کې به د شفاعت حق ورکړل شي.

له عباده بن صامت رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخـه روایـت دی چـې رسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

Scanned by CamScanner

Scanned with CamScanner

Scanned with CamScanner

د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې جهاد کوئ، ځکه جهاد کول د جنت له دروازو څخه یوه دروازه ده او الله جَلَّ جَلَالُهُ دجهاد له امله غمونه او اندېښنې لمنځه وړي. (احمد٥\٣١٤)

انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: الله تعالى فرمايي: " زه د جهاد کوونکي ضامن (ذمه وار) يم، که ساه مې يې واخيسته؛ نو جنت به په ميراث کې ورکړم او که ژوندی مې ستون کړ؛ نو د غنيمت له مال سره به يې ستون کړم. (ترمذي)

امام ابن عبدالبر رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي: په دې حديث کې د مجاهد ډېر لوی فضيلت بيان شوی او حديث په دې خبره هم دلالت کوي چې اعمال يوازې په اخلاص ، ايمان او نيت سره پاکېږي او وزن پېدا کوي. له حديث څخه دا هم معلومېږي چې د غنيمت د مال په اخيستلو د مجاهد په اجر اوثواب کې څه کمی نه راځي؛ بلکې هغه ته لوی اجر هم ورکول کېږي، که غنيمت ترلاسه کړي يا يې ترلاسه نکړي. الله جَلَّ جَلَالُهُ دې موږ ته په خپله لاره کې د خالص جهاد کولو توفيق راکړي او له موږ څخه دې راضي شي، الله جَلَّ جَلَالُهُ پر هر څه قادر دی.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

۴۵... د الله جَلَّ جَلَالُهُ په ربوبیت، د محمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په رسالت او په اسلام راضي کیدل

علقمه بن ابن وقاص رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي چې ما د رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له ملګري بلال المزني رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ څخه واوریدل چې ویې ویل: رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي:

ځینې وخت ستاسې څخه یو تن داسې یوه خبره پر خپله ژبه وایي چې الله جَلَّ جَلَالُهُ پرې راضي کېږي او دی پر خپل خان پوه هم نه وي چې دغه خبره به یې کوم مقام ته رسوي او الله جَلَّ جَلَالُهُ ورته د قیامت تر ورځې خپله رضاء لیکي او په همدې ډول (ځینې وخت) ستاسې څخه یو تن داسې خبره پر ژبه وایي چې الله جَلَّ جَلَالُهُ پرې خپه کېږي او دی ګومان هم نکوي چې دغه خبره به یې چېرته رسوي، بیا ورته الله جَلَّ جَلَالُهُ د قیامت تر ورځې خپل خپګان لیکي.

علقمه رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: لږ فکر وکړه چې ته پر خپله ژبه څه وایې؟ ما چې له کومې ورځې دا حدیث له بلال بن الحارث رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ څخه اورېدلی، له هماغې ورځې راهیسې ډېرې خبرې نه کوم. (ابن ماجه: ۳۹۶۹)

رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په یوه بل ځای کې فرمایي:

د هغه کس لپاره بربادي ده چې خلک په دروغو ویلو سره خندوي، هغه هلاک او برباد دی، هغه هلاک او برباد دی. (ابوداوْد: ۴۹۹۰)

په پورته حدیثونو کې د داسې خبرو رټنه شوې چې خلکو ته ډېرې عادي ښکاري.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

۴۶... پر الله تعالی توکل او تعویذ نه کول

له عمران بن حصین رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

((يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعُونَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ»، قَالُوا: وَمَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: «هُمُ الَّذِينَ لَا يَكْتَوُونَ وَلَا يَسْتَرْقُونَ، وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ.))

ژباړه: زما د امت اویا زره (۷۰۰۰۰) خلک به له حساب او کتاب پرته جنت ته داخل شي، صحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ پوښتنه وکړه چې ای د الله رسوله! دا خلک څوک دي؟ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

دا هغه خلک دي چې دم، تعویذ او بدفالي نه کوي، پر بدن داغ نه لګوي او پر خپل رب توکل او اعتماد کوي. (مسلم: ۲۱۸)

په دې حدیث کې راغلي دي چې د جنتیانو یو صفت دادی چې (دم او تعویذ نه کوي) یعنې نورو خلکو ته نه وایي چې هغوی دم کړي، ځکه د هغوی اعتماد او توکل پر الله جَلَّ جَلَالُهُ پیاوړی وي، د نورو پر وړاندې له عاجزه کېدو څخه ځان ساتي، دا ځکه چې په دې ډول له الله جَلَّ جَلَالُهُ پرته له نورو سره اړیکه پیدا کېږي.

مغیره بن شعبه وایي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

چا چې پر بدن داغ ولګاوه، یا یې دم او تعویذ وکړ؛ نو له توکل څخه خلاص شو. (ترمذي: ۲۰۵۵)

پر بدن د داغ لګولو معنی داده چې د مریضی پر وخت له نورو څخه وغواړي چې په اور یې وداغي او دا کار له اړتیا پرته جائز ندی، ځکه دا یو

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

ډول عذاب دی. په همدې توګه د بدفالۍ په اړه عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روایت کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
څوک چې د بدفالۍ نیولو له امله یو کار پرېږدي، هغه شرک وکړ، صحابه کرامو رضي الله عنهم عرض وکړ: ای د الله رسوله! کفاره یې څه ده؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا دعاء دې ووایي: (اللهم لا خیر الا خیرک و لا طیرا الا طیرک و لا اله غیرک.)
ژباړه: ای الله! خیر او شر یواځې ستا له لورې دي او له تا پرته بل هېڅوک د عبادت وړ نشته. (احمد:۲/۲۲۰)
الله جل جلاله شاهد دی چې دا ډېر لوړ صفتونه دي او هدفونه یې هم لوی دي او ددې صفتونو درلودنکي نفسونه پاک او خاوندان یې نېک زړي او پرهیزګاران دي.

۴۷ ... د الله جل جلاله ذکر کول

له عبدالله بن شداد رضي الله عنه څخه روایت دی چې د (بنو عذره قبیلې) درې تنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت ته حاضر شول، بیا یې اسلام راووړ؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
ددې خلکو د خوراک او څښاک بندوبست به څوک وکړي؟ طلحه رضي الله عنه وویل: زه به یې بندوبست وکړم، په دې توګه هغه درې واړه له طلحه رضي الله عنه سره مېلمانه شول. څه موده وروسته نبي صلی الله علیه وسلم یو لښکر ولېږه چې له دې درېیو تنو څخه یو تن پکې و او هغه په جګړه کې شهید شو، بل ځل بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم یو لښکر واستاوه چې له دې پاتې دوو کسانو څخه یو یې پکې و، هغه هم په جګړه کې شهید شو، دریم تن یې پر خپله بستره وفات شو، طلحه رضي الله عنه وایي: ما په خوب کې دا درې واړه ملګري په جنت کې

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

ولیدل، هغه تن چې پر خپله بستره وفات شوی و، له ټولو څخه مخکې و، دویم شهید شوی کس د هغه پسې او څوک چې لومړی شهید شوی و، هغه له ټولو څخه وروسته و، زه له خپل خوب څخه لږ پرېشانه شوم، د رسول الله ﷺ حضور ته ورغلم او خپل خوب مې ورته وواېه؛ نو رسول الله ﷺ وفرمایل:

ته ولې له خپل خوب څخه تعجب کوې؟ د الله جَلَّ جَلَالُهُ پر وراندې له هغه مؤمن څخه هېڅوک هم غوره نه دی چې د اسلام په حالت کې بوډا شوی وي؛ له هغو دربیو تنو څخه دریم یې د خپل تسبیح، تکبیر او تهلیل په وجه تر خپلو ملګرو مخکې دی. (احمد:۱۴۰۱)

طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له دې امله حېران و چې هغه دا ګومان کاوه چې دواړه شهیدان په مرتبه کې برابر دي او یا دا چې لومړنی شهید به له دوهم شهید څخه غوره وي او دریم کس چې په بستره کې وفات شوی و، هغه به له ټولو وروسته وي؛ مګر خوب یې له دې ګومان خلاف و.

له دې حدیث څخه د هغه چا فضیلت معلومېږي چې اوږد ژوند او نېک عملونه یې کړي وي او ژبه یې هر وخت د الله جَلَّ جَلَالُهُ په ذکر لمده وي.

۴۸ ... تر لمانځه وروسته او د خوب پر وخت ذکر کول

له عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

((دوه کارونه داسې دي چې کوم مسلمان یې پابندي وکړي، هغه حتما جنت ته خي، دا دوه کارونه ډېر اسانه او پر هغو عمل کوونکي هم لږ دي، (هغه کارونه دادي) له هر لمانځه وروسته لس ځلې سبحان الله، لس ځلې الحمدلله او لس ځلې الله اکبر ویل او دا په ژبه یوسل او پنځوس (۱۵۰)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

خلې کېږي؛ خو د میزان په تله کې پینځلس سوه خلې حسابېږي، په همدې ډول کله چې انسان پر خپله بستره پرېوځي اوځلور دېرش خلې الله اکبر، درې دېرش خلې الحمدلله او درې دېرش خلې سبحان الله ووايي؛ نو دا په ژبه (۱۰۰) خلې کېږي؛ خو د میزان په تله کې زر(۱۰۰۰) خلې حسابېږي.))

راوي وايي: ما په دې وخت کې رسول الله ﷺ ولید چې پخپلو ګوتو سره یې شمېر کاوه، صحابه کرامو رضي الله عنهم عرض وکړ: ای د الله رسوله! دا دوه کارونه څنګه اسانه دي او پر هغو عمل کوونکي ولې لږ دي؟

رسول الله ﷺ وفرمایل: شیطان د ویده کېدو پر وخت بنده ته راځي، مخکې له دې نه چې هغه دا ذکر وکړي، وسوسه ور اچوي او د لمانځه پر وخت هم راځي او هغه ته مخکې له دې نه چې دا ذکر وکړي، یو کار ور په یادوي.

له دې حدیث شریف څخه لاندې ګټې معلومېږي:

۱) د الله جل جلاله ذکر کول؛ جنت ته د داخلېدو سبب دی.
۲) نېکي څو برابره زیاتېږي، یوه نېکي پر لسو او څینې وخت له دې څخه هم ډېره حسابېږي.
۳) داعمالو وزن او تلل کېدل حق دي.
٤) تسبیح باید په ښي لاس سره وشي.
٥) شیطان هر وخت انسان ته وسوسه اچوي، تردې چې د لمانځه او ویده کېدو پر وخت هم هغه په کلاره نه پرېږدي.

له همدې امله ددې کارونو پابندي باید وشي او دا کارونه هغه چاته ډېر اسانه دي چې الله جل جلاله یې په خپل توفیق ورته اسانه کړي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

۴۹...د ناروغ پوښتنه کول

له جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:
((څوک چې د ناروغ پوښتنه کوي، هغه د الله جَلَّ جَلَالُهُ په رحمت کې لامبو وهي، تردې پورې چې کله هغه کښيني، نو د رحمت په دې سیند کې پاتې کېږي.))
په دې حدیث کې د ناروغ پوښتنه کوونکي ته د الله جَلَّ جَلَالُهُ د رحمت او لوی اجر یادونه شوې ده.
همدارنګه له علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:
کوم مسلمان چې د سهار پر وخت د یوه مسلمان ناروغ پوښتنه وکړي، اویا زره (۷۰۰۰۰) ملائکې ورته تر ماښامه د ښښنې او رحمت دعاء کوي او که د ماښام پر وخت یې پوښتنه وکړي؛ نو اویا زره (۷۰۰۰۰) ملائکې ورته تر سهاره د ښښنې او رحمت دعاء کوي او په جنت کې ورته تازه خرماوې ورکول کېږي.
دا لوی اجر او فضیلت دی او له هیڅ ایماندار او هوښیار انسان سره نه ښایي چې په دې کار کې سستي وکړي.

۵۰... له ورونو او دوستانو سره ملاقات کول

له انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:
کوم بنده چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ د رضاء ترلاسه کولو لپاره د خپل ورور (دوست) ملاقات ته ورشي؛ نو له اسمان څخه یو اواز کوونکی داسې اواز کوي: نېکبختي دې نصیب او جنت دې مبارک شه او الله جَلَّ جَلَالُهُ هم دخپل عرش له پاسه فرمايي:

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

((زما بنده زما د رضاء ترلاسه کولو لپاره (له خپل ورور، دوست سره) ملاقات وکړ، د هغه مېلمستيا زما پر غاړه ده او زه به هغه ته د جنت څخه پر کم شي راضي نشم.))

ای ګرانه وروره! د الله جَلَّجَلَالُهُ پر دې لوی فضل او کرم لږ غور وکړه او د الله جَلَّجَلَالُهُ دې خبرې ته ځير شه چې فرمايي: ((زما بنده زما د رضاء ترلاسه کولو لپاره ملاقات وکړ او د هغه مېلمستيا زما پر غاړه ده!!!))

ايا له دې څخه بله لويه مېلمستيا پېدا کېږي؟! هېڅکله نه، بيشکه چې د الله جَلَّجَلَالُهُ مېلمستيا درنه او لويه ده.

له ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: کله چې يو څوک د خپل ورور (دوست) د ناروغۍ پوښتنه کوي يا د هغه ملاقات ته ورځي؛ نو الله جَلَّجَلَالُهُ ورته فرمايي:

((نېکمرغي دې نصيب شه او ستا تګ دې مبارک وي او په جنت کې دې خان ته کور هم جوړ کړ.))

۵۱... په راکړه ورکړه او قرض اداء کولو کې نرمي کول

له عثمان بن عفان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

الله جَلَّجَلَالُهُ يو کس جنت ته داخل کړ، دې کس به په اخيستلو، خرڅولو او پور اداء کولو او غوښتلو کې له نرمۍ څخه کار اخيسته. (احمد، نسائي)

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په يوه بل حديث کې فرمايي:

د وس او توان لرونکي کس انکار (له پور اداء کولو څخه) د هغه عزت او سزا مباح کوي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

د دې حدیث مطلب دا دی چې څوک د پور اداء کولو توان ولري او بیا هم خپل پور نه اداء کوي؛ نو هغه ته د ادب په خاطر سزا ورکول مباح دي، له همدې امله پور ورکوونکي ته پکار دي چې په دې کار کې له نرمۍ څخه کار واخلي.

۵۲...له کبر، غلا او پور څخه خلاصېدل

له ثوبان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:
څوک چې په داسې حال کې ومري چې له درېیو شیانو څخه خلاص وي، هغه به جنت ته داخل شي، له کبر، د غنیمت په مال کې له غلا او له پور څخه.

متکبر انسان خپل ځان پر حق خبره او بندګانو پورته بولي، د حق په اړه هیڅ نرمي نه ښیي او پر بندګانو هیڅ رحم نه کوي، (العیاذ بالله) او دا د دوزخیانو نښې دي، الله جَلَّ جَلَالُهُ دې موږ ټولو ته له دوزخ څخه پناه راکړي او جنت ته مو دې داخل کړي، بېشکه چې هغه کریم اوسخي ذات دی.
په دې حدیث کې هم د پور په اداء کولو کې د سستۍ کولو رټنه راغلې او دا چې انسان ته پکار نه ده چې د پور په اداء کولو کې سستي وکړي او پور هم باید یواځې د اړتیا پر وخت واخیستل شي.

۵۳...د خپل مال په ساتنه کې مړ کېدل

له عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:
څوک چې د خپل مال د ساتنې پر وخت په ظلم سره ووژل شي، د هغه لپاره جنت دی.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

له دې حدیث شریف څخه مطلب دا دی چې کله یو څوک له تا څخه ستا مال اخلي او ته د خپل مال په دفاع کې ووژل شې، نو ته شهید یې، لکه چې په یوه بل حدیث کې همدې خبرې ته اشاره شوې. له الله جَلَّجَلَالُهُ څخه سوال کوو چې موږ او تاسې له ټولو بنکاره او پټو فتنو څخه وساتي.

۵۴... ایمان او نېک عمل

د قران کریم په ډېرو ځایونو کې ایمان جنت ته د داخلېدو مهم سبب ښودل شوی دی؛ خو دا هم د یادونې وړ ده چې د تل لپاره له نېک عمل سره یوځای ذکر شوې، له همدې امله په قران کې به داسې ځای ونه مومې چې ایمان یکې جنت ته د داخلېدو سبب ښودل شوی وي او نېک عمل ورسره په څنګ کې نه وي یاد شوی. د نېکو اعمالو دروازې پراخې او لویې دي او لوی ثواب ترلاسه کولو لارې هم ډېرې دي چې شمېر یې یواځې الله جَلَّجَلَالُهُ ته معلوم دی، الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايي:

(وَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُولٰٓىِٕكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِیْهَا خٰلِدُوْنَ۠)

(البقره: ۸۲)

ژباړه: او کوم خلك چې ایمان راوړي او نیك عملونه وکړي، هغوی جنتیان دي او په جنت کې به هغوی تل اوسېږي.

بل ځای کې فرمايي:

(اِنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنّٰتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا)

(الکهف: ۱۰۷)

ژباړه: البته کومو کسانو چې ایمان راوړ او ښه عملونه یې وکړل، د هغوی میلمستون به د فردوس باغونه وي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

۵۵... تقوی

تقوی له الله جَلَّجَلَالُهُ څخه وېرې، پر قران عمل کولو، پر لږ شي قناعت کولو او د اخرت لپاره تیارې کولو ته ویل کېږي. بله معنا یې دا ده چې: د نېکو اعمالو په ترسره کولو او د بدو اعمالو په پرېښودلو د خپل ځان او د الله جَلَّجَلَالُهُ ترمنځ یوه پرده را منځته کړې او یو تعریف یې داسې هم شوی دی چې تقوی د الله جَلَّجَلَالُهُ د نور (قران او حدیثو) په رڼا کې د الله جَلَّجَلَالُهُ نه دثواب ترلاسه کولو په نیت د نېکو اعمالو کولو، د هغه او د همدې نور په رڼا کې د الله جَلَّجَلَالُهُ له عذاب نه د وېرېدو له امله بدو د اعمالو پرېښودلو ته وايي، الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايي:

(إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿٤٥﴾) (الحجر: ۴۵)

ژباړه: پرهېزګاران به په باغونو او چینو کې وي.

بل ځای فرمايي:

(إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَهَرٍ ﴿٥٤﴾ فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِندَ مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٥٥﴾) (القمر: ۵۵-۵۴)

ژباړه: له نافرمانۍ نه ډډه کوونکي به په باوري توګه په باغونو او ویالو کې وي، په رېښتیانې عزت ځای، د ډېر مقتدر باچا پر وړاندې.

حقیقت دا دی چې الله جَلَّجَلَالُهُ د خپلو پرهېزګارو بندګانو لپاره جنت تیار کړی دی، الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايي:

(وَسَارِعُوا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٣٣﴾) (ال عمران: ۱۳۳)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

ژباړه: پر هغه لاره په منډه منډه وخغلئ چې ستاسې دپروردګار د بښنې او د هغه جنت خوا ته تللې ده چې هغه لکه داسمانونو او ځمکې په شان پراخ دی او هغه له خدايه وېرېدونکو خلکو لپاره تيار کړای شوی دی.

او رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

"أَكْثَرَ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ الْجَنَّةَ؟ قَالَ: "التَّقْوَى اللهِ وَحُسْنُ الْخُلُقِ. وَ أَكْثَرَ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ النَّارَ؟: الْفَمُ وَالْفَرْجُ ". (ترمذي، ابن ماجه، أحمد)

ژباړه: هغه شيان چې تر ټولو ډېر خلک به يې له امله جنت ته داخل شي، تقوی او ښه اخلاق دي او هغه شيان چې تر ټولو ډېر خلک به يې له امله دوزخ ته داخل شي، خوله او شرم خای دی.

۵۶... د الله جَلَّ جَلَالُهُ او رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اطاعت کول

الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي:

(وَ مَنْ يُّطِعِ اللهَ وَ رَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ وَ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝) (النساء: ۱۳)

ژباړه: څوك چې د الله او د هغه د پېغمبر اطاعت وکړي الله به هغه داسې باغونو ته ننباسي چې تر هغو لاندې به ويالې بهېږي او هغوی به په کې د تل له پاره استوګن وي او همدا ستر برياليتوب دی.

له ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

«كُلُّ أُمَّتِي يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ أَبَى، قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ وَمَنْ أَبَى؟ قَالَ: «مَنْ أَطَاعَنِي دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ أَبَى». (بخاري)

ژباړه: زما ټول امت به جنت ته داخل شي، مګر هغه څوک چې (جنت ته له تلو نه) انکار وکړي، صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ پوښتنه وکړه: ای د الله رسوله!

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

څوک (جنت ته تلو نه) انکار کوي؟ ويې فرمايل: چا چې زما اطاعت وکړ، جنت ته به داخل شي او چا چې زما نافرماني وکړه؛ نو هغه (جنت ته له تلو نه) انکار وکړ.

۵۸... د الله جَلَّ جَلَالُهُ پر دين استقامت

الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي:

(إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ۝ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ خَالِدِينَ فِيهَا جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝) (حم سجدة: ۳۰)

ژباړه: په باوري ډول کومو کسانو چې وويل: يوازې الله جَلَّ جَلَالُهُ زموږ رب دی، بيا وروباندې ټينګ پاتې شول، د هغوی لپاره نه څه وېره شته او نه به هغوی غمجن وي. ټول دغسې خلك جنت ته تلونكي دي چې هلته به هغوی د تل لپاره اوسېږي. د خپلو هغو عملونو په مكافات كې چې هغوی په دنيا كې كول.

سفيان بن عبدالله ثقفي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي: رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته مې وويل: د اسلام په كارونو كې يو داسې كار را وښايه چې تر تا وروسته يې له بل چا پوښتنه ونه كړم؛ نو رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

«قُلْ: آمَنْتُ بِاللَّهِ، ثُمَّ اسْتَقِمْ»

ژباړه: ووايه چې پر الله جَلَّ جَلَالُهُ مې ايمان راوړی او بيا پرې ټينګ پاتې شه.

(مسلم)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

٥٩... غوره اخلاق

له انس ابن مالک رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

((مَنْ تَرَكَ الْكَذِبَ وَهُوَ بَاطِلٌ بُنِيَ لَهُ فِي رَبَضِ الْجَنَّةِ ، وَمَنْ تَرَكَ الْمِرَاءَ وَهُوَ مُحِقٌّ بُنِيَ لَهُ فِي وَسَطِهَا ، وَمَنْ حَسَّنَ خُلُقَهُ بُنِيَ لَهُ فِي أَعْلَاهَا.)) (ترمذي)

ژباړه: څا چې په ټوکو کې دوراغ ویل پرېښودل، د جنت په ښکته برخه کې به ورته یو کور جوړ کړل شي او څا چې له حقداری سره سره جګړه پرېښوده، د جنت په منځ کې به ورته کور جوړ کړل شي او څا چې خپل اخلاق ښه کړل، د جنت په اوچته برخه کې به ورته کور جوړ کړل شي.

سعد بن هشام رحمه الله فرمایي: له ام المؤمنین عایشې رضي الله عنها نه مې وپوښتل چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اخلاق څه شی و؟ ویې فرمایل: ((كَانَ خُلُقُهُ الْقُرْآنَ.))

ژباړه: د هغه اخلاق قران و. (مسند احمد)

په یوه بل روایت کې راځي چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د هغه عمل په اړه پوښتنه وشوه چې ډېر خلک یې له امله جنت ته ځي؛ نو ویې فرمایل: «تَقْوَى اللَّهِ، وَحُسْنُ الْخُلُقِ».

یعنې: د الله جل جلاله وېره او ښه اخلاق. او کله چې ترې د هغه څه په اړه په پوښتنه وشوه چې ډېر خلک یې له امله دوزخ ته ځي؛ نو ویې فرمایل: ((الْفَمُ وَالْفَرْجُ.))

یعنې: هغه خوله او شرم خای دی. (ترمذي، ابن ماجه او مسند احمد)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

۶۰... جګړه نه کول

له انس ابن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله جَلَّ جَلَالُهُ وفرمایل:
((أَنَا زَعِيمُ بَيْتٍ فِي رَبَضِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْمِرَاءَ، وَإِنْ كَانَ مُحِقًّا.))
(ترمذي)

ژباړه: زه هغه چاته د. جنت په ښکتنۍ برخه کې د یوه کور ضمانت کوم چې له حقداري سره سره جګړه پرېږدي.

۶۱... ښځه چې لاندې کارونه وکړي، جنت ته ځي

له ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:
"إِذَا صَلَّتِ الْمَرْأَةُ خَمْسَهَا، وَصَامَتْ شَهْرَهَا، وَحَفِظَتْ فَرْجَهَا، وَأَطَاعَتْ زَوْجَهَا قِيلَ لَهَا: ادْخُلِي الْجَنَّةَ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شِئْتِ".

ژباړه: کله چې یوه ښځه پینځه وخته لمونځ اداء کړي، روژه ونیسي، له حرامو نه د خپل شرم ځای ساتنه وکړي او د خپل خاوند اطاعت وکړي؛ نو ورته به وویل شي: د جنت له کومې دروازې چې غواړې، جنت ته داخله شه.
(ابن حبان)

۶۲... د لورګانو او خویندو روزنه کول

له انس ابن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:
((مَنْ كُنَّ لَهُ ثَلَاثُ بَنَاتٍ أَوْ ثَلَاثُ أَخَوَاتٍ، فَاتَّقَى اللهَ فِيهِنَّ، وأقام عليهن، كان معي في الجنة هكذا" وأومأ بالسباحه والوسطى.))

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

ژباړه: څوک چې درې لورګانې او یا درې خویندې ولري او د هغوی په حق کې له الله جَلَّجَلَالُهُ نه وډار شي او د هغوی پالنه وکړي؛ نو له ما سره به په جنت کې داسې یوځای وي، راوي وایي: خپلې د شهادت او منځنۍ ګوتې ته يې اشاره وکړه.

(سلسلة الاحاديث الصحيحة: ۲۹۵)

په یوه بل روایت کې راځي چې رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ وفرمایل:

((مَنْ عَالَ جَارِيَةً دَخَلْتُ أَنَا وَهُوَ الْجَنَّةَ كَهَاتَيْنِ- وَأَشَارَ بِإِصْبَعَيْهِ.))

ژباړه: چا چې د یوې کوچنۍ نجلۍ کفالت پر غاړه واخیست؛ نو زه او هغه به په جنت کې داسې سره یوځای وو او خپلو ګوتو ته يې اشاره وکړه.

۶۳... د اولادونو پر مړینه صبر کول

رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ فرمايي:

((مَنِ احْتَسَبَ ثَلاثَةً مِنْ صُلْبِهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ، قَالَتْ إِمْرَأَةٌ :و إِثْنَانِ؟ قَالَ: وَإِثْنَانِ.)) (نسائي، ابن حبان)

ژباړه: د چا چې درې بچیان مړه شي، جنت ته به داخل شي، یوې ښځې وویل: او که دوه مړه شي؟ ويې فرمایل: او که دوه هم مړه شي.

په یوه بل حدیث کې رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ فرمايي:

((مَا مِنْ مُسْلِمَيْنِ يَمُوتُ لَهُمَا ثَلَاثَةٌ مِنَ الْوَلَدِ لَمْ يَبْلُغُوا الْحِنْثَ، إِلَّا أَدْخَلَهُمَا اللهُ الْجَنَّةَ بِفَضْلِ رَحْمَتِهِ إِيَّاهُمْ.))

ژباړه: کله چې د کوم خاوند او ښځې درې داسې بچیان مړه شي چې بالغان شوي نه وي؛ نو الله جَلَّجَلَالُهُ به پر دې ماشومانو د خپل رحمت په برکت دوی دواړه جنت ته داخل کړي. (امام احمد، نسائي)

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

د ابـوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پـه روایـت کـې راځـي چـې رسـول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

((مَا لِعَبْدِي الْمُؤْمِنِ عِنْدِي جَزَاءٌ إِذَا قَبَضْتُ صَفِيَّهُ مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا ثُمَّ احْتَسَبَهُ إِلَّا الْجَنَّةُ.))

ژباړه: زما د هغه مؤمن بنده لپاره له جنت پرته بله بدله نشته چې ما يې تـرې په د نيا کې د زړه ټوټه اخيستې وي او هغه پرې صبر کړی وي. (بخاري)

۶۴... پر ناروغۍ صبر کول

عطاء ابن ابي رباح رَحِمَهُ اللهُ فرمايي: عبدالله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا راته وويل: ايا د يوې جنتي ښځې کيسه درته ونه کړم؟ ومې ويل: ولې نه؛ نو ويې فرمايل:

((هَذِهِ الْمَرْأَةُ السَّوْدَاءُ ، أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقَالَتْ : إِنِّي أُصْرَعُ ، وَإِنِّي أَتَكَشَّفُ ، فَادْعُ اللَّهَ لِي ، قَالَ : إِنْ شِئْتِ صَبَرْتِ وَلَكِ الْجَنَّةُ ، وَإِنْ شِئْتِ دَعَوْتُ اللَّهَ أَنْ يُعَافِيَكِ " فَقَالَتْ : أَصْبِرُ ، فَقَالَتْ : إِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللَّهَ لِي أَنْ لَا أَتَكَشَّفَ ، فَدَعَا لَهَا.))

ژباړه: يوه توره ښځه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوا ته راغله او ويې ويل: زه د مېرګي ناروغي لرم او کله چې را پرېوځم، برېنډه شم؛ نـو لـه الله جَلَّ جَلَالُهُ نـه وغواړئ چې ماته شفاء راکړي، رسـول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايـل: کـه دې خوښه وي، صبر وکړه؛ نو الله جَلَّ جَلَالُهُ به جنت درکړي او کـه دې خوښـه وي؛ نو له الله جَلَّ جَلَالُهُ نه به درته د روغتيا غوښتنه وکړم، هغې وويل: صبر کوم؛ خو له الله جَلَّ جَلَالُهُ نه وغواړه چې د را لوېدو پرمهال بې پردې نـه شم؛ نـو رسـول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته دعاء وکړه. (بخاري)

علماء کرامو صبر پر لاندې درې ډولونو وېشلی:

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

۱. د الله جَلَّجَلَالُهُ پر اطاعت او اوامرو صبر کول
۲. د الله جَلَّجَلَالُهُ له له لورې له حرام کړل شویو شیانو صبر کول
۳. د الله جَلَّجَلَالُهُ پر تقدیر او وېش صبر کول او دا پر دوه ډوله دی: لومړی: دردوونکی او دویم: سوکالي ښونکي.

شپږ خوره خویونه

له انس ابن مالک رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ وفرمایل:

تاسې له ما څخه شپږ شیان قبول کړئ، زه به تاسې ته جنت قبول کړم، صحابه کرامو رَضِيَٱللَّهُعَنْهُمْ پوښتنه وکړه: هغه شپږ شیان کوم دي؟

نبي کریم صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ وفرمایل: کله چې خبرې کوئ؛ نو دروغ مه وایئ، کله چې وعده کوئ، پرخاې یې کړئ، کله چې امانت درسره کېښودل شي، خیانت پکې مه کوئ، خپلې سترګې له حرامو کتو څخه ښکته کړئ، سوال مه کوئ او د خپل شرم خای ساتنه وکړئ.

رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ د دې شپږو خویونو لرونکي انسان ته د جنت ضمانت ورکړی، په دې کې درې داسې دي چې انسان له منافقت څخه خلاصوي او درې نور بیا داسې دي چې انسان له فسق ا وفجور څخه لرې ساتي او ددې خویونو مخاطبین او اورېدونکي مسلمانان دي، له همدې امله څوک چې له نفاق څخه خلاص شي، هغه یقینا چې مؤمن دی او کله چې له فسق اوفجور څخه خلاص شي؛ نو متقي او پرهیزګار دی، خکه نو د جنت لایق بلل کېږي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

څلور غوره ځانګړتیاوې

له ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: په تاسې کې نن چا روژه نیولې ده؟ ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وویل: ما، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: په تاسې کې نن چا د مړي جنازه کړې ده؟
ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وویل: ما، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: په تاسې دې نن چا مسکین ته ډوډۍ ورکړې ده؟ ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وویل: ما، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: په تاسې کې نن چا د ناروغ پوښتنه کړې ده؟
ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وویل: ما؛ نو رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:
په کوم انسان کې چې دا څلور خویونه جمع شي، هغه جنت ته داخلېږي.
(مسلم: ۱۰۲۸)

امام الباني رَحِمَهُ اللَّهُ فرمایي: له دې حدیث څخه د ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فضیلت معلومېږي او په دې اړه نور حدیثونه هم شته دي. له دې حدیث څخه دا هم معلومېږي چې په یوه ورځ کې د دې خویونو سره جمع کول؛ لوی فضیلت دی او کوم انسان چې په یوه وخت کې د دې څلورو خویونو درلودنکی وي، هغه ته د جنت زېری ورکړل شوی دی، الله جَلَّ جَلَالُهُ دې موږ هم د جنت وړ وګرځوي.

هوښیار انسان ته ښایي چې د خیر پر دې ښوول شویو لارو روان شي او په دې اړه کوښښ وکړي ترڅو د هغو خلکو په ډله کې شامل شي چې د نېکۍ په کارونو کې تر نورو مخکې دي.

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

حکمت
خپرندویه ټولنه
اسحاق زی مارکیټ لاندینی
منزل جلال آباد ښار
۰۷۸۹۸۱۲۶۸۸ | ۰۷۷۴۴۹۰۸۶۰
hikmatbook2010@yahoo.com



Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

په پښتون بچي کتاب

خرخونه ظالم ده

Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner



Abd Ul (عبدال)


8 Pending Posts

EDIT




Abd Ul (عبدالله حېران)

Where did you go to college?


Activity Log



Edit Profile


View As



هغه زره Id مو لږ خراب شو ده دغه کې راسره ملګرى شي
عبدالله حېران

EDIT BIO



Scanned by CamScanner
Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner